# په افغانستان کې د اجرائیه ځانګې وده

## یو شالید او د پرمختګ لپاره وړاندیزونه

کاوون کاکړ، توماس کرایمر او همایون رووفی

غبرگولی ۱۳۹۲

۱۵ کاله
باکیفیته څیړنه

خیړنې د بنه
افغانستان
لپاره
AREU

UNITED STATES INSTITUTE OF PEACE

د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره
څیړنپاڼه

# په افغانستان کې د اجرائیه څانګې وده

## یو شالید او د پرمختګ لپاره وړاندیزونه

کاوون کاکړ، توماس کریمر او همایون رووفی

غبرګولی ۱۳۹۲

هغه نظریات چې په دغه څېړنه کې وړاندې شوي په لیکوال پورې اړه لري او د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې د نظریاتو منعکس کونکې ندی.


| | |
|---|---|
| ISBN: | ۹۷۸-۹۹۳۶-۶۲۸-۸۲-۱ |
| د خپرونې کوډ | P ۱۷۲۱ |
| ژباړه | محمد کاظم ملوان |
| د پښتۍ طرح | احمد سیر علمیار |



© ۱۳۹۵ د خپراوي حقونه د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې (AREU)

یوازې د سوداګریزو موخو لپاره په نورو لیکنو کې د دغې خپرونې نکل او یادونه کېدای شي یا له سره تولیدېدای شي او په دې شرط چې د خپرونې د لیکوالانو او سرچینې نومونه په کې یاد شي. په دې خپرونه کې څرګند شوي نظرونه د لیکوالانو دي او حتمي نه ده چې د امریکا د متحده ایالاتو د سولې انستېټوت (USIP) او AREU د نظرونو استازیتوب وکړي. ځینې حقونه یې خوندي دي. کومو ځایو کې چې دغه خپرونه بیا وړاندې کېږي، ساتل کېږي یا په الیکترونیکي ډول لېږدول کېږي نو هلته باید د www.areu.org.af (AREU) وېبپاڼه لینک ورکړل شي. له دغو اجازو پرته د خپرونې بل هر ډول کارولو لپاره باید په لیکلې بڼه له مرستیالو خپرونکو، افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره AREU څخه اجازه واخیستل شي. اجازه د دغه ایمیل: areu@areu.org.af یا دې شمېرې ۹۳۰۲۰۲۲۱۲۴۱۵+ له لارې لاسته راوړلی شئ.

# د لیکونکو په اړه:

**کاوون کاکړ**

کاوون کاکړ په کابل – افغانستان کې د کاکړ د حقوقي مشورتی شرکت عامل مدیر دی. کاکړ د کالیفورنیا له پوهنتون، د هیستنیګ د حقوقو له پوهنتون- سانفرانسیسکو څخه په حقوقو کې د دکتورا درجه ترلاسه کړې او په ټولنیزو علومو کې یې د کالیفورنیا د سانډیاګو له پوهنتون څخه د لیسانس درجه بشپړه کړې ده.

ښاغلي کاکړ، د تېرو **۱۵** کلونو په موده کې، د افغانستان په حکومت او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د لوړپوړي چارواکي په توګه دندې ترسره کړې او د دفاع د وکیل او په خصوصي سکتور کې د اجرائیوی کارکوونکي په توګه هم په ملی او هم نړیوالو موسسو کې د پراخو تجربی برخمن ده. ښاغلی کاکړ په افغانستان کې د اساسي قانون د جوړولو په بهیر کې د **اساسي قانون د بیا کتنې او تسوید په کمیسیونونو** او همدا ډول د **اساسي قانون په لویه جرګه** کې چې د **۲۰۰۴** کال اساسي قانون یې تصویب کړ، د سلا کار په توګه په جدي ډول ګډونوال و.

**تو ماس کریمر**

توماس کرایمر یو امریکایي حقوق پوه ( وکیل) او په کابل، افغانستان کی دکاکړ د حقوقي مشورتی شرکت د لوی سلاکار په توګه دنده ترسره کوي. ښاغلی کرایمر د **دیتون** د پوهنتون ( **اوهیو** ) د حقوقو په ښوونځی او د کابل په خورشېد پوهنتون کې د حقوقي موضوعاتو د استاد په توګه دنده ترسره کړې ده. نوموړي له ۲۰۱۲ کال راهیسې په نړیواله کچه، په سومالیا او افغانستان کې پردنده بوخت دی.

ښاغلي کرایمر د ویرجینیا له پوهنتون څخه د لیسانس درجه، د پیترزبورګ له پوهنتون څخه د حقوقو درجه، او د **ورایت** له دولتي پوهنتون څخه په عامه روغتیا کې د ماسټرۍ درجه ترلاسه کړې ده.

**همایون رووفي**

همایون رووفي په کابل کې د باختر په خصوصي پوهنتون کې د اساسي قانون او د بشري حقوقو د قانون استاد دی. ښاغلی رووفي په افغانستان کې د قانون په حاکمیت پورې تړلو موضوعګانو په اړه پراخې تجربې لري او د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام (UNDP) او د قانون د نړۍ والې پراختیا موسسې (IDLO) په شمول یې له ډېرو نړیوالو ادارو سره د حقوقي سلاکار او روزونکي په توګه دنده اجرا کړې ده.

ښاغلي رووفي په کابل کې د کاتب له خصوصي پوهنتون څخه په نړیوالو حقوقو کې د ماسټري درجه او په حقوقو او سیاسي علومو کې د ننګرهار له پوهنتون څخه د لیسانس درجه بشپړه کړې ده.

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري (UERA) په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد په کابل کې د څېړنې یو خپلواک بنسټ دی چې په ۲۰۰۲م کال په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې له خوا جوړ شو. د افغانستان د څیړنی او ارزونی واحد موخه د شواهدو پر بنسټ د لوړ کیفیت او په پالیسی پوری اړوند څیړنی برابرول او په فعاله توګه د دغو څېړنو د پایلو نشرول او همدا سی د شواهدو پر بنسټ د څېړنې او زده کړې د کلتور خپرول دی. د پنسیلوانیا د پوهنتون د راپور پر بنسټ، د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد په افغانستان کی د یوو څیړنیز بنسټ په توګه دلوړ مقام لرونکی دی او په منځنی آسیا کی د څیړنیزو بنسټونو په منځ کی په شپږم کچه کی ځای لری. د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد د خپلې موخې دلاسته راوړلو لپاره د پالیسیو جوړونکو، مدني ټولنې، څېړونکو او زده کونکو سره کار کوي چې دوی د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد له څېړنو او کتابتونه کار واخلي او د څېړنې په برخه کی خپله وړتیا لوړه کړي او د نظریاتو د څرګندولو، د شننو، او بحثونو لپاره لاره هواره کړي. د افغانستان د څیړنی او ارزونی واحد د مشرانو د بورډ لخوا چې د مرستندویه ادارو، سفارتخانو، ملګرو ملتونو، ځینی نوروسازمانونو، مدنی ټولنی او دخپلواکو کارپوهانو استازی په کی شامل دی، اداره کیږی.

**تمویلونکی:**

د دی اداری تمویلونکی د سویدن نړیواله انکشافی اداره (SIDA) او لاندی نور نړیواله بنسټونه دی:

The European Commission (EC), United States Institute of Peace (USIP), Norwegian Institute of International Affairs (NUPI), Overseas Development Institute (ODI-UK), Promundo (US), Sustainable Development Policy Institute (SDPI), Regional Environmental Centre for Central Asia (CAREC), Institute of Development Studies (IDS) and Swiss Agency for Development and Cooperation(SDC), School of Oriental and African Studies (SOAS), Economic and Social Research Council United Kingdom (ESRC-UK) and South Asian Association for Regional Cooperation (SAARC).

همدا راز دا اداره د لاندی نړیوالو بنسټونو غړیتوب هم لری:

Resolve Network,Secure Livelihoods Research Consortium (SLRC), Global Challenges research Fund (GCRF), A Conflict Sensitive Unpacking of The EU Comprehensive Approach to Conflict and Crisis Mechanism (EUNPACK)

# د متحده ایالاتو د سولې د انستیتوت (PISU) په اړه

د متحده ایالاتو د سولې انستیتوت د افغانستان له حکومت او مدني ټولنې له بنسټونو سره همکار کوي چې د قانون د واکمنې د ټینګولو، د تاوتریخوالی او توند لاریتوب ضد، د سوله ییزو زده کړو د پراخولی، او د ښې حکومتولی او فساد ضد هڅو له لارې د بې ثباتې اساسي لاملونو ته پام و اړوي. د غه راز د متحده ایالاتو د سولې انستیتوت په افغانستان کې اوسنیو جګړو پوری اړوندو لاملونو په اړه پالیسی څیړنی تقویه کوی.

# یادونه

دا لیکنه د نقیب خپلواک په یاد خپروو. نقیب خپلواک، ځوان حقوقپوه او پروفیسور و، د **۲۰۱۲** کال د آګست په **۲۴** مه نېټه، په کابل کې په افغان- امریکایي پوهنتون ترهګریز برید وشو، نوموړی په کې په شهادت ورسېد. نقیب د سولې لپاره د متحده ایالاتو د انستیتوت د قانون حاکمیت پروژې مدیریت پرغاړه درلود، چې په هغو کې د افغانستان د خلکو په استازیتوب، اوسنۍ څېړنه هم شامله ده.

# وړاندیز

د افغانستان د څیړنی او ارزونی واحد ویاړ لري چی د خپل کار دویم پړاو چی داساسی قانون سره تړاو لري او د امریکا د متحده ایالاتو د سولی د انسټیټوټ په مالی مرسته تر سره شوی دی، خپلو مینه والوته وړاندی کوی. ددی څیړنی لومړی پړاو داساسی قانون د اصلاحاتو په عمومی موضوعاتو باندی متمرکز و. د څیړنی په دوران کی روښانه شوه چی دڅیړنی لمنه باید د ۲۰۰۴ کال اساسی قانون ته وغزول شی. په اوسنی پړاو کی دغه دوه وړاندی شوی څیړنی چی د ساحوی څیړنی، د اړوند خلکو سره د صلاح او مشوری او خلاصو خبرو اترو، ددی څیړنی بیا کتنی او همداسی د افغانستان د څیړنی او ارزونی د کاری سیستم، چی لوړ کیفیت یقینی کوی ، په پایله کی ترلاسه شوی دی، تاسو ته وړاندی کیږی.

په اوسنی پړاو کی د افغانستان د څیړنی او ارزونی واحد د امریکا د متحده ایالاتو د سولی د انسټیټوټ په همکاری څیړن پوهانو او دخلاصو خبرواترو دمجالسو دګډونکونکو چی په کی پوهانو، سیاستمدارانو، لوړپورو دولتی چارواکو، او د مدنی ټولنی استازو ګډون درلود او د تعاملی او پراخو خبرو اترو له لیاری د پوهی درامنځته کیدو په موخه جوړه شوی و چی ددی څیړنی د لا غنی کیدو سره مرسته وکړی،سره غوند کړی وو.

په افغانستان کی د اجرائیه قوی وده د دوو څیړنو له جملی څخه یوه څیړنه ده چی په دویم پړاو کی په افغانستان کی د اساسی قانون په هکله د اساسی قانون د پوهانو او لیکوالانو کاوون کاکړ، توماس کرمر او همایون رئوف چی د کاکړ د حقوقی شرکت سره کار کوی، برابر شوی دی.

د افغانستان د څیړنی او ارزونی واحد دیوو کامیاب څیړنیز مرکز په توګه چی علمی څیړنی تر سره کوی او د اساسی قانون په هکله یی داڅیړنه چمتو کړی ده ویاړ لري چی د شواهدو پربنسټ دا څیړنی وړاندی کړی تر سو د اساسی قانون داجراکولو په هکله د بحث او خبرواترو فضا رامنځته شی.

هیله لرم چی دا څیړنه د مینه والو په معلوماتو کی د زیاتوالی لامل وګرځی او هغوی په افغانستان کی د اساسی قانون داصلاحاتو نه ملاتړ وکړی.

په درناوی

داکتر اورځلا نعمت
د افغانستان د څیړنی او ارزونی رئیس

# د موضوعاتو لیکلړ


د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري (AREU) په اړه ........ ب

د متحده ایالاتو د سولې د انستیتوت (USIP) په اړه ........ ب

یادونه ........ ج

وړاندیز ........ د

۱. سریزه ........ ۱

۱.۱ د اجرائیه څانګې اهمیت ........ ۲

۱.۲ په افغانستان کې د اوسنې اساسي قانون موډل (بیلګه) ........ ۲

۱.۳ ددې څېړنې موخه ........ ۲

۲. څېړندود ........ ۳

۲.۱ میزي څېړنه ........ ۳

۲.۲ لومړنۍ سرچینې ........ ۳

۳. موندنې او بحثونه ........ ۴

۳.۱ د قواوو جلاوالی ........ ۵

۳.۱.۱ په افغانستان کې د قواوو د جلاوالي تاریخي شالید ........ ۲

۳.۲ اجرائیه څانګه ........ ۲

۳.۳ د اجرائیه څانګې دندې ........ ۲

۳.۴ د قوي اجرائیوي څانګې ځانګړتیاوې ........ ۷

۳.۴.۱ مشروعیت: حکومت باید د نورو هېوادونو او خپلو وګړو له خوا د مشروع جوړښت په توګه وپېژندل شي چې د آزادو او عادلانه ټاکنو پایله وي. او ددې پرخای چې خپلې غوښتنې پرځای کړي، باید د عامه خلکو د ګټو لپاره ځان وقف کړي ........ ۷

۳.۴.۲ انعطاف منل: حکومت باید ددې وړتیا ولري چې له بدلېدونکو شرایطو سره ځان عیار کړي. که اجرائیه جوړښت خورا ډېر ټینګ او نه بدلېدونکی وي، کېدی شي حکومت په اضطراري وختونو کې د چټک او پریکنده خوځښت وړتیا پیدا نه کړي ........ ۷

۳.۴.۳ مسوولیت منل: لازمه خبره داده چې حکومت، په تیره بیا اجرائیه څانګه، د نورو څانګو، په تېره بیا د مقننه څانګې په وړاندې مسوولیت ولري ........ ۷

۳.۴.۴ اغېزمنتوب: ددې لپاره چې حکومت اغېزمن وي، باید هرومرو نه یوازې پالیسي جوړه کړي، بلکې باید دهغې د تطبیق د نده هم په غاړه ولري، قوانین باید نافذ کړي او د خلکو په چوپړ کې وي ........ ۷

۳.۴.۵ پایښت: هغه حکومتونه چې د دویم اړټکل، یا حتی د انحلال له خطر سره مخامخ وي، کېدی شي په هربدلون کې د ثبات د نشتوالی له کبله سمونو یا شخړه ییزو پالیسیو ته اړ کړل شي ........ ۷

۳.۵ د اجرائیه څانګې ډولونه ........ ۷

۳.۵.۱ اسمي او واقعي اجرائیه څانګه ........ ۷

۳.۵.۲ میراثي او انتخابي اجرائیه (رئیس، مامورین) ........ ۷

۳.۵.۳ مفرد او جمع اجرائیه (څانګه) ........ ۸

۳.۵.۴ پارلماني او ریاستي اجرائیه واک ........ ۸

۴. د حکومت ریاستي او پارلماني سیستمونه ........ ۹

۴.۱ ریاستي سیستم ........ ۹

۴.۱.۱ د ریاستي سیستم ګټې ........ ۹

۴.۱.۲ د ریاستي سیستم نیمګړتیاوې ........ ۱۰

۴.۲ پارلماني سیستم ........ ۱۰

۴.۲.۱ د پارلماني سیستم ګټې ........ ۱۱

۴.۲.۲ د پارلماني سیستم نیمګړتیاوې ........ ۱۱

۴.۳ ریاستي او پارلماني ګډ سیستمونه ........ ۱۱

۵. په افغانستان کې د معاصرې اجرائیه څانګې تاریخ ........ ۱۲

۵.۱ د ۱۹۲۳ کال په اساسي قانون کې اجرائیه څانګه ........ ۱۲

۵.۱.۱ د ۱۹۳۱ کال د اساسي قانون تاریخي متن ........ ۱۲

۵.۱.۲ د ۱۹۲۳ کال د اساسي قانون منځپانګه او عمومي احکام ........ ۱۳

۵.۱.۳ د ۱۹۲۳ کال د اساسي قانون مشروعیت ........ ۱۳

۵.۲ د ۱۹۳۱ کال په اساسي قانون کې اجرائیه څانګه ........ ۱۴

۵.۲.۱ د ۱۹۳۱ کال د اساسي قانون تاریخي متن ۱۴
۵.۲.۲ د ۱۹۳۱ کال د اساسي قانون منځپانګه او ټولیز حکمونه ۱۴
۵.۳ د ۱۹۶۴ کال په اساسی قانون کې اجرائیه څانګه ۱۴
۵.۳.۱ د ۱۹۶۴ کال د اساسي قانون تاریخي زمینه ۱۴
۵.۳.۲ د ۱۹۶۴ کال د اساسي قانون منځپانګه او عمومی حکمونه ۱۵
۵.۳.۳ د ۱۹۶۴ کال د اساسي قانون مشروعیت ۱۶
۵.۴ د ۱۹۷۷ کال په اساسي قانون کې اجرائیه څانګه ۱۶
۵.۵ د ۱۹۸۰ کال په اساسي قانون کې اجرائیه څانګه ۱۷
۵.۶ د ۱۹۸۷ کال په اساسي قانون کې اجرائیه څانګه ۱۷
۵.۷ په افغانستان کې د اجرائیه څانګې په هکله تاریخي درسونه زده کړه ۱۹

۶. د ۲۰۰۴ کال په اساسي قانون کې اجرائیوی څانګه ۲۰
۶.۱ د بن تړون او د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون ۲۰
۶.۱.۱ د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون محتوا ۲۰
۶.۱.۲ د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون تسوید او تأئید ۲۱
۶.۱.۲.۱. د اساسي قانون د تسوید کمیسیون ۲۱
۶.۱.۲.۲. د اساسي قانون د بیا کتنې کمیسیون ۲۱
۶.۱.۲.۳. له عامه خلکو سره د سلا او مشورې موده ۲۲
۶.۱.۲.۴. د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون تصویب ۲۳
۶.۲ د ۲۰۰۴ کال په اساسي قانون کې د حکومت جوړښت ۲۴
۶.۲.۱ اجرائیه څانګه ۲۴
۶.۲.۱.۱. کابینه ۲۵
۶.۲.۱.۲. د افغانستان د ۲۰۰۴ کال په اساسي قانون کې متمرکز سیستم ۲۵
۶.۲.۲ مقننه څانګه ۲۷
۶.۲.۳ قضائیه څانګه ۲۸
۶.۲.۳.۱. ستره محکمه ۲۸
۶.۲.۳.۲. د اساسي قانون د تطبیق د څارنې لپاره خپلواک کمیسیون (ICOIC) ۲۸

۷. د ۲۰۱۴ کال ولسمشری ټاکنې او د ملي وحدت حکومت (NUG) ۲۹
۷.۱ د ۲۰۱۴ کال ټولټاکنې ۲۹
۷.۲ د اجرائیه رئیس د دفتر رامنځته کیدل ۲۹
۷.۳ د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون او اجرائیه رئیس ۳۰
۷.۴ د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون اغیزمنتوب ۳۰

۸. د اجرائیه څانګې بیا ارزونه ۳۲
۸.۱ آیا لویه جرګه باید دایره شي؟ ۳۲
۸.۱.۱ د لویې جرګې په وړاندې قانوني خنډونه ۳۲
۸.۱.۲ د لویې جرګې په وړاندې ټولنیز او سیاسي خنډونه ۳۳
۸.۲ که چیرې لویه جرګه جوړه شي، کوم بدلونونه به رامینځ ته کړي؟ ۳۳
۸.۲.۱ پارلماني سیستم ۳۳
۸.۲.۲ دوه ګونی اجراییه سیستم ۳۴
۸.۲.۳ ریاستي سیستم او د سمونو اړتیا ۳۵
۸.۲.۳.۱. د جمهور رئیس د مرستیالانو د سیستم بدلول ۳۵
۸.۲.۳.۲. د نه باور د رایو په اړه د پارلمان د قدرت بدلول ۳۶
۸.۲.۳.۳. د اساسي قانون د تفسیر د موضوع وضاحت ۳۷
۸.۲.۳.۴. د سیمه ییزې حکومتدارۍ سیستم سمونه ۳۷

۹. پایلې ۳۹

۱۰. وړاندیزونه ۴۱

اخځلیک ۴۳

# ۱. سریزه

د اساسي قانون پربنسټ حکومت – د حکومت هغه بڼه چې په حقیقت کې د نن ورځې په نړۍ کې په هر هېواد کې منل شوې ده – د فیلسوف **جان لاک** د « ټولنیز قرار داد » ښکارندویي کوي. لاک وایي چې خلک به پخپله خوښه د خپلې بشپړې آزادۍ نه شتون د هغه حکومت په بدل کې چې د ټولو ښه والي ته پاملرنه ولري، ومني. په داسې حال کې چې دغه اصل په ډېره اندازه ساده معلومېږي، خو د اساسي قانون پربنسټ ولاړ ډېر دا ډول حکومتونه شته، چې نوموړی اصل یې منلی دی او پېړۍ پېړۍ وروسته داسې هېوادونه لکه افغانستان لاتر اوسه په دې لارکې هڅه کوي چې د حکومت د داسې بڼې په اړه پرېکړه وکړي چې د هغوي له اړتیا وو سره مناسب ګڼل کیږي. ډېر اساسي قوانین د قواوو په جلاوالي باورلري. ددې لپاره چې د ډېرو لږو خلکو په لاسونو کې د سیاسي واکمنۍ د پاتېدو مخنیوی وکړي، او په دې ډول دموکراسۍ ته وده ورکړي. د یوه دموکراتیک حکومت یوه غټه او مهمه برخه د اجرائیه څانګې شتون دی، چې د حکومت تګلارې او د هغو قوانینو پلی کول په غاړه لري چې مقننه څانګې تصویب کړي دي. په هرحال، کېدی شي چې اجرائیه څانګه مختلفي بڼې ولري، خو دا خبره اړینه ده چې باید غوره شوی جوړښت د هېواد اړتیاوو ته مناسب ځواب ورکړي.

که څه هم افغانستان له ۱۹۲۳ کال راهیسې، لږترلږه په نوم سره، د اساسي قانون پربنسټ حکومت لري، خو د قواوو د جلاوالي واقعي مفهوم د لومړي ځل لپاره د افغانستان د ۱۹۶۴ کال په اساسي قانون کې وپېژندل شو. وروسته افغانستان له لسیزو غمیزو سره مخامخ شو، او ډېر نور اساسي قوانین یې پلي کړل، خو د ۱۹۶۴ کال اساسي قانون په افغانستان کې د دموکراتیک حکومت بیلګه شمېرل کیږي، او د اوسني اساسي قانون د بنسټ په توګه پېژندل شوی دی.

د افغانستان اوسني قانون په ۲۰۰۴ کال کې تصویب شو. د تصویب بهیر، چې له پاموړنړیوالو مرستوسره یو ځای و، پایله یې د داسې اجرائیه څانګې رامینځ ته کېدل و، چې صلاحیت یې د نبغ په نیغه ټاکل شوي ولسمشر په لاس کې چې د پراخ واک څښتن وو، راټول شو.

دا ډول حکومت د نورو جوړښتونو په پرتله خورا مناسب برېښي، ځکه چې افغانستان له جګړې څخه د راوتلي هېواد په توګه، په نسبي ډول د دموکراتیک حکومت لنډ تاریخ لري، او د غښتلو سیاسي ګوندونو نه شتوالی د دې هېواد ځانګړتیا شمېرل کیږي.

وروسته له هغه چې د ۲۰۱۴ کال د ولسمشرۍ ټولټاکني له شخړو او اختلافونو سره پای ته ورسېدې، افغانستان د « ملي یووالي حکومت NUG» د جوړ جاړي په توګه رامینځ ته کړ. د هغې هوکړې پربنسټ چې پایله یې د « ملي یوالي حکومتNUG» رامینځ ته کول وو، د اجرائیه رئیس مقام د ولسمشر د فرمان پراساس جوړشو. په دې توګه، د افغانستان اجرائیه څانګه په بالقوه ډول د دوه ګونې اجرائیوی جوړښت په بڼه رامینځ ته شوه. دا هغه بڼه وه چې د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون د تسوید او تصویب په بهیر کې تر بحث او پاملرنې لاندې راغله او رد شوه.

د ملي یووالی د حکومت NUG اعتبار او اغېزمنتوب د هغو کارپوهانو له خوا چې ددې څېړنې د بشپړتیا لپاره ورسره مرکې شوي دي، ترپوښتنی لاندې ونیول شو. نوموړې ستونزې په ډېرو کتابونو، مقالو او څېړنیزو لیکنو کې چې د میز پرسرڅېړنو کې ورته بیا کتنه شوې ده، تربحث لاندې نیول شوي دي. دا متنونه له اساسي قانون سره د ملي یووالي حکومت NUG د انطباق په اړه د بحثونوترڅنګ، په ټولیزه توګه په هغو ستونزو لکه د ولسمشر د مرستیالانو په سیستم، د اجرائیه رئیس د ونډې په اړه کمزوری تعریف، د ځانګړو وزیرانو په اړه د پارلمان له خوا د نه باور رای، او د اساسي قانون د تفسیر لپاره د یوې مناسبې ادارې د شتون په هکله، پوښتنې را پورته کوي.

په دې وروستیو کې د افغانستان د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون په اړه ځینې څېړنې ترسره شوي. په دغو څېړنو کې یوه لیکنه د AREU له خوا د « افغانستان اساسي قانون لس کلن شو: ستونزی کومې دي؟»[1] نوموړې لیکنه د ۲۰۱۴ کال د آګست په میاشت کې «د افغانستان د اساسي قانون له تصویب څخه لس کاله وروسته د قانوني او حقوقي بحثونو د ودې او وضعیت» [2] د یوې برخې په توګه خپره شوه.

---

۱ د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد (اداره) د افغانستان اساسي قانون لس کلن شو: ستونزې کومې دی؟ د ۲۰۱۴ کال د اګست میاشت ، ۱۴۱۲E، په : http://www.refworld.org/docid/۵۳fc۴dd۳۴.html ( د ۲۰۱۷ کال د اګست په ۲مه د لاسرسي وړ.)

۲ د افغانستان د څېړنې او ارزونی واحد ( اداره )، د افغانستان اساسی قانون لس کلن شو، په لاندې پته کې د لاسرسي وړ: http://www.refworld.org/docid/۵۳fc۴dd۳۴.html ( د ۲۰۱۷ کال د اګست په ۲مه د لاسرسۍ وړ)

د ۲۰۱۲ کال د اګست په میاشت کې، د **ستراتیژیکو څېړنو لپاره د افغانستان انستیتوت** (AISS) یوه لیکنه « د افغانستان اساسي قانون او ټولنه د لېږد په حال کې» [3] ترعنوان لاندې خپره کړه.

د نوموړې لیکنې غټه موخه دا وه چې د اساسي قانون په اړه عامه پوهاوی تر ارزونې لاندې ونیسي او د اړوندو سمونو وړاندیز وکړي. اوسنۍ څېړنه د هغو پخوانیو مطالعو پراساس ولاړه ده چې په ځانګړې توګه د افغانستان د حکومتی جوړښت د ونډې **تحلیل** پرغاړه لري. په دې ډول، دا لیکنه هڅه کوي د افغانستان ځانګړتیاوې د شته اساسي قوانینو له موډلونو سره یوځای کړي چې د پرمختګ لپاره دیوې لارې وړاندیز و کړي.

## ۱.۱ د اجرائیه ځانګې اهمیت

د اساسي قانون په هره بیلګه کې- په حقیقت کې په هر حکومت کې – په ټولیز ډول داسي یوه اجرائیه قوه وي، چې د دولت دمشرتابه په توګه خدمت کوي. کېدی شي چې اجرائیه ځواک یو مطلقه حاکمیت، یو نړه ببواکه رییس یا ډیری وختونه، د دواړو ترمینځ واقع وي، خو په هرصورت، د حکومتولۍ د نویو تیوریو په شتون کې، اجرائیه ځانګه، خپل صلاحیت تطبیقوي او د هغو قوانینو د تطبیقولو دنده پرغاړه اخلي چې د مقننه ځانګې له خوا تصویب شوي وي او د حکومت پالیسۍ شمېرل کیږي. « تر جګړو وروسته دولتونو کې چې د لېږد مرحله تېروي، اجرائیه ځانګه ځانګړې اهمیت لري، ځکه چې د دولت په جوړښت کې لومړنی برخه جوړوي» [4] په دې توګه، یوه نااغیزمنه اجرائیه برخه تر جګړې وروسته حکومتی سیستم لپاره د مړینې ننبه ګڼل کیږي.

## ۱.۲ په افغانستان کې د اوسنې اساسي قانون موډل ( بیلګه )

د افغانستان اوسنې اساسي قانون چې په ۲۰۰۴ کال کې منل شوی، د یوه ریاستی سیستم لپاره لارې چارې چمتوکوي چې په هغه کې د اجرائیه ځانګې مشرتوب د **ولسمشر په غاړه ده،** او خپلواکې تقنیني او قضائیه ځانګې لري.

## ۱.۳ ددې څیړنې موخه

د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون له تصویب څخه دیارلس کاله وروسته، لازمه ده چې په دې هکله ارزونه وشي چې افغانستان څنګه د حکومت منل شوی سیستم تطبیق کړی او په ځانګړې توګه څرګنده شي چې اجرائیه برخې د هېواد د اړتیاوو د پوره کولو لپاره څنګه چلن کړی. ددې لپاره چې موضوع په متن کې ځای پرځای شي، دا لیکنه لومړی د حکومت په پخوانیو بڼو کې د اجرائیه ځانګې ونډو ته بیا کتنه کوي، او وروسته د افغانستان د مختلفو اساسي قوانینو لنډ تاریخ چې په ۱۹۲۳ کال کې له استقلال څخه وروسته، پیل شوي، وړاندې کوي. دا څېړنه وروسته دا موضوع تحلیلوي چې افغانستان ولې او څنګه اوسنی اساسي قانون پلی کړ او دې بیلګې هېواد ته کوم خدمتونه ترسره کړل. په پای کې، ددې لیکنې د پرمختګ لپاره پایلې او وړاندیزونه وړاندې شوي دي.

۳ http://www.aiss.af/assets/aiss_news/۴deda۹ab۷۰۰۳ca۲۱b۰fc۸۲fd۰۲f۵۰b۸c.pdf( د ۲۰۱۷ کال د اګست په ۲مه د لاسرسۍ وړ)

۴ د عامه نړیوال قانون او پالیسی ډله، «له جګړې څخه وروسته د اساسي قانون د مسودې د جوړونکو لپاره لاسی کتاب» ( نیپال: د نړیوالو چارو لپاره ملي دموکراتیک انستیتوت، ۲۰۰۸)، ۴.

# ۲. څېړندود

دې څېړنې هڅه کړې چې په ښکاره ډول د افغانستان په شرایطو کې د اجرائیه ځانګې د پوهېدلو په موخه لومړۍ او دوم لاس سرچینې وپلټي. لومړۍ، یوه پراخه ادبي بیا کتنه ترسره شوه. د میز پرسر څېړنه وروسته په کیفي څېړنې واوښته چې د لیکونکو له خوا جوړه شوې وه او په لومړي سرکې یې له کارپوهانو سره له عمده مرکو (KEIs) څخه ګټه پورته کړې وه.

## ۲.۱ میزي څېړنه

په څېړنه کې د شته عامه خپروشوو او برېښنايي سرچینو ته بشپړه بیا کتنه ترسره شوه، او د افغانستان ټول اساسي قوانین تربیا کتنې لاندې ونیول شول. په همدې ډول د نوموړو اساسي قوانینو په اړه دشته تبصرو او توضحیاتو کتنه؛ د مختلفو اساسي قوانینو تیوریګانو او بیلګو ته پاملرنه چې په هغوکې پخوانۍ او نننۍ سرچینې شاملې وې؛ د قواوو د جلاوالي د مفهوم د پیژندلو لپاره مطالعې او تحلیلونه چې په هغو کې د اجرائیه ځانګې په ونډې باندې ځانګړې تأکید شوي دي او د افغانستان د ۲۰۰۴ کال په اساسي قانون او همدا ډول د ریاستی سیستم د اغیزمنتوب او د ملي **یووالی د حکومت** په اړه نیوکې او تبصرې، شاملې وې.

## ۲.۲ لومړنۍ سرچینې

له کارپوهانو سره د عمده مرکو (KEIs) په بهیر کې کیفي **معلومات** راټول شول. هر کارپوه **د افغانستان د اجرائیه** ځانګې او د اساسي قانون په پرتله کولو کې د هغه یا هغې د تجربو او پوهې پراساس غوره شوي وو. هغوي ددې لپاره هم غوره شوي وو چې د خلکو دهغو سیاسي او قومي دریځونو استازیتوب وکړي چې په افغانستان کې شته او د افغانستان په حکومت کې منعکس شوي دي. هرکارپوه یا د حکومت په لوړپوړو مقامونو کې له نږدې څخه ښکیل دی، او یا د پوهنتون په کچه د اساسي او مقایسوي قوانینو په هکله تدریس کوي. په ټوله کې یوولس مرکې له حکومتي چارواکو، د پوهنتون له استادانو، سیاستوالو، پوهانو او سیاسي شنونکو سره ترسره شوي، چې د هغوی لید او پوهه ترلاسه شي. مرکې د کابل په ښار کې وشوې. په هر صورت، د کارپوهانو پوهه او تجربه یوازې د مرکزي حکومت په وضعیت پورې محدود نه ده؛ هغوی په ټول افغانستان کې د محلي حکومتونو په وضعیت خبردي. موږ د ټولو کار پوهانو او وتلو ماهرانو مننندوي یو چې له موږ سره یې خپلې نظریې شریکې کړې دي.

# ۳. موندنې او بحثونه

ددې څېړنې موندنې څرګندوي چې د افغانستان سیاسي سیستم یوه تعدیل شوي اساسي قانون ته اړتیا لري. د افغانستان په اساسي قانون کې د سمونو صلاحیت د اساسي قانون په ۱۱۱ ماده کې لویې جرګې ته ورکړل شوی دي. د کارپوهانو ډیری برخه چې له هغو سره مرکې شوې دي په دې خبره باور لري چې په اوسني حالت کې د لویې جرګې د جوړولو او رابللو په لارکې غټ خنډونه شته. له حقوقي ( قانوني) پلوه، داسې احتمال نشته چې لویه جرګه د اساسی قانون له مخې جوړه شي، ځکه چې (۱) په افغانستان کې د ولسوالیو د شوراګانو ټاکنې ترسره شوې نه دي، او (۲) لکه چې ځینو کارپوهانو یادونه وکړه، د اوسني پارلمان مشروعیت او قانونیت ترپوښتنې لاندې دی.

له یوه ځخه پرته ټولو کارپوهانو ټولنیز، سیاسي او امنیتی خنډونه د لویې جرګې د جوړولو په وړاندې ستری ستونزې ګڼي. په تېره بیا ، ځینې کار پوهان له دې ځخه ویره لري چې کیدای شي قومي مسئلې تسلط پیدا کړي او لویه جرګه ددې پرځای چې د حکومت جوړښت تربحث لاندې ونیسي، ډیروخت به د هویت او ژبې د مسئلو په اړه د بحث کولو لپاره ځانګړی کړي. که چیری لویه جرګه جوړه شي، نو په افغانستان کې به د اجرائیه څانګې درې موډلونه تر پاملرنې لاندې ونیول شي. ټول مرکه شوي کار پوهان عقیده لري چې د افغانستان په اوسني حالت کې،د پارلمانی سیستم بیلګه د اعتبار وړ نه ده، ځکه چې د نورو خبرو ترڅنګ، پارلماني سیستم د سیاسي ګوندونو یوه قوي سیستم ته اړتیا لري. مرکه شوو شخصیتونو په یوه ژبه خپل باور څرګند کړ چې موږ په افغانستان کې غښتلي او پیاوړي سیاسي ګوندونه، نه لرو؛ د هغو پرځای د افغانستان ډېر سیاسي ګوندونه له وسله والو ډلو سره کوم توپیرنه لري او له تېریزو اندېښنو یا قوي محلی مشرانو سره پیاوړی تړاو لري. ځینې کارپوهان عقیده لري چې دوه ګونی اجرائیه سیستم هم د افغانستان لپاره وړنه دی، ځکه چې دا حقیقت څرګند شوی، چې نوموړی سیستم یوازې په هغو دموکراسیو کې، چې خپلواکې قانوني او سیاسي موسسې لري د تطبیق وړ دي، او په نسبي توګه په نویو دموکراسیو لکه افغانستان کې د تطبیق وړ نه ګڼل کیږي. یوه کارپوه وړاندیز وکړ چې کېدی شي افغانستان د روسیې یا ترکیې د حکومتي جوړښت په لار روان شي چې په هغه کې لومړی وزیر د ولسمشر له خوا ټاکل شوي مسئولیتونه په غاړه لري. په هرحال، ډېر مرکه شوي ماهرین د داسې سیستم پرضد وو او د خپل دریځ د ملاتړ لپاره یې په افغانستان کې د ملي یووالي حکومت بیلګې ته ګوته نیوله چې د سیاسي بحران لپاره لنډ مهاله حل ګڼل کېده او د اوږدمهاله جوړښت لپاره عملي نه برېښیده.

اوسنیو شرایطو ته په پاملرنې د ډیرو کارپوهانو لید، او ددې څیړنې پایله څرګندوي چې په افغانستان کې یو اصلاح شوی ریاستي سیستم ترټولو وړ نظام شمېرل کیږي.

د کارپوهانو له خوا وړاندیز شوي تعدیلونه دادي: د ولسمشر د دریم مرستیال زیاتول، د نه باور په اړه د پارلمان د صلاحیت محدودول، د اساسي قانون د تفسیر د بهیر روښانه کول، او د محلي حکومت د اداري سیستم سمونه. د یوه کار پوه له خوا ددې لاندې بیساري تعدیلاتو وړاندیز وشو: د ولسمشر د مرستیالانو شمیر دری کسانو ته لوړول. نوموړی مرستیالان باید ځانګړي، مشخص، بنسټیز او صلاحیت لرونکي مقامونه ولري. همدا ډول وړاندیز وشو چې دولسمشر مرستیالان باید له ټاکنو وروسته، د ولسمشر له خوا وګومارل شي، ترڅو د ولسمشرۍ د مرستیالۍ لپاره نوماندان د ټاکنو په موده کې د خپل ملاتړ لپاره خلکو ته ژمنې ونه شي کړای.

ځینې کارپوهان باور لري چې د پارلمان له خوا د نه باور سري او انفرادي رایې د فساد او بی ثباتۍ لپاره دروازې پرانیزي. په دې توګه، ځینې مرکه کوونکو عقیده لرله چې په اساسي قانون کې باید داسې تعدیل راشي چې کابینه د یوه واحد هویت په توګه، نه د ځانګړو وزیرانو په ډول، د پارلمان په وړاندی مسئولیت ولري.

ټولو کارپوهانو وړاندیز وکړ چې هغه اداره چې د اساسي قانون د تفسیر صلاحیت لري باید واحده اداره وي، او په اساسی قانون کې په څرګنده توګه پیژندل شوي وي؛ ټول پوهان د سترې محکمې او د اساسي قانون پرتطبیق باندې د نظارت د خپلواک کمیسیون ترمینځ له اوسني کړکیچ او ګډودۍ څخه ناخوښې څرګندوي. ځینو نورو وړاندیزوکړ چې **د اساسی قانون** ځانګړې **محکمه** باید جوړه شي، که څه هم ډیر کارپوهان یوازې سترې محکمې ته د قدرت له ورکولو څخه خوشاله معلومېدل.

د مرکه شوو کارپوهانو ډېری (اکثریت) د ریاستی سیستم ملاتړ کوي، خو په اداري چاروکې محلي حکومتونو ته د ډېر واک او خودمختارۍ د ورکولو غوښتونکي دي. په ځانګړي توګه، کارپوهان باور لري چې محلي حکومتونه د مالیاتو په راټولولو او مالي مسئلو په حل کې برلاس لري. ځکه چې هغوي په څرګند ډول د خپلو سیمو له وضعیت څخه خبر دي او د سیمه ایزو پروګرامونو د پلي کولو لپاره په ښه ډول

سمبال شوي دي. په داسې حال کې چې مرکه شوي شخصیتونه لاهم له قوي او غښتلي مرکزي حکومت څخه ملاتړ کوي، خو دا خبره جوته ده چې سیمه ایزو حکومتونو ته واک ورکول، د سیمه ایزو ټاکنو د آسانتیاوو په شمول، د حکومت د لا ښه والي لاملونه برابروي.

## ۳.۱ د قواوو جلاوالی

د څواکونو جلاوالی، مختلفو څانګو ته د حکومت د مسوولیتونو وېش دی،چې د هرې څانګې له خوا د بلې څانګې د اساسي دندو اجراء محدودیت ومومي. ددې جلاوالي موخه داده چې په یوه څانګه کې د قدرت د راټولېدو مخنیوی وشي او د قدرت(د څارنې او انډول) (چک او توازن) check and balance لپاره زمینه برابره شي[۵]. د قواوو د وېش سیاسي تیوري د زرهاوو کلونو سابقه لري، چې ډېر شمېر ښه پېژندل شویو فیلسوفانو لکه ارستو، اکیوناس(Aquinas) ، ماکیاولي، لاک او مونتسکیو د هغې په اړه ډول ډول تیوریګانې درلودې.

ددې فیلسوفانو نږدې ټولو د غیر دموکراتیکو حکومتونو او یا هغو حکومتونو تر تسلط لاندې ژوند کاوه چې ډېره لږ دموکراسي یې لرله.

په دې ډول، د هغوی ډېری لیکنې یا معیاري بڼه درلوده او یا په غیر د موکراتیکو حکومتي جوړښتونو کې د تطبیق وړ وې.

په دې توګه، د فلسفې د ودې ډېرو برخو د قواوو د جلاوالي د دموکراسي په رامینځته کولو کې په عملي ستونزو باندې سترګې پټې کړې، او د امریکا د انقلاب په موده کې تنظیموونکي د اوږدمهال لپاره یوازې په تیوري کې پاته شول او په عملي ساحه کې یې کومې لاس ته راوړنې نه درلودې.

د قواوو د جلاوالي مفهوم د پخواني یونان دوران ته رسیږي. په څانګړې توګه، ارستو په ښکاره الفاظو د حکومت په اړه نظریه په درې بنسټیزو دندو ویشي چې هغه یې په « مشورتي» ، «دیکتاتوري ډوله» او «قضائیه» ډلو ډلبندي کړي وو. معاصر درې اړخیز حکومتي جوړښت په ټولیز ډول د ۱۷ مې او ۱۸ مې پیړیو په لویدیزو سیاسي مفکرینو په تېره بیا جان لاک، ژان ژاک روسو او بارون دی مانتسکیو، پورې اړوند ګڼل کیږي. لاک، پخپل کلاسیک اثر د حکومت په اړه دوهمه څېړنه[۶] کې استدلال کوي چې د اجرائیه او مقننه دندو جلاوالی د شخصي آزادۍ د ساتلو لپاره ضروري ګڼل کیږي؛ د حکومت د دواړو څانګو قدرت د یوه شخص یا د اشخاصو د یوې کوچنۍ ډلې په لاسونو کې راټولول د استبداد مانا ورکوي.

مونتسکیو د لاک او روسو **ټولنیز قرارداد** ددې وړاندیز پراساس چې د حکومت اداري دندې باید په اجرائیه، مقننه او قضائیه دندو وویشل شي، لاښه تعریف کړ. مونتسکیو پخپل روح القوانین[۷] کې وایي چې باید درې څانګې په یو بل پورې تړلې وي ، خو له یو بل څخه جلا وي ترڅو د یوې څانګې واک او اغیزه د نورو دواړو څانګو په پرتله ،ډېره نشي. د مونتسکیو د نظریو پراساس د حکومت دا ډول بڼه خلکو ته څلورګټې رسوي:

- که چیرې یوه څانګه د نورو دوو څانګو له خوا محدوده شي، نو لږ امکان شته چې قوانین د یوه شخص په ګټه ومنل شي؛
- انفرادي حقونه ساتل کیږي ځکه چې د چک او بیلانس سیستم د اکثریت له خوا له رای ورکولو څخه د اقلیت د محرومېدلو مخنیوی کوي؛
- د هرې څانګې له خوا پخپلو څانګړو مسوولیتونو باندې راڅرخېدنه د موثریت د ډېروالي سبب کیږي؛ او
- هره څانګه د نورو دوو څانګو په وړاندې حساب ورکوونکې ده. [۸]

---

۵ د دولتي قانون جوړوونکو ملي کنفرانس « د قواوو جلاوالی – یو لنډیز،» /http://www.ncsl.org/research/about-state-legislatures separation-of-powers-an-overview.aspx ( د ۲۰۱۷ کال د مارچ له ۲۸ مې څخه د کتنې وړ)

۶ رسولي، محمد اشرف، د افغانستان د اساسي قانون ارزونه او دهغه په اړه انتقادی نظر، دویم ټوک (کابل: سعید چاپخونه، ۲۰۱۰)، ۴۷ – ۵۱.

۷ رسولي، د افغانستان د اساسي قانون ارزونه او د هغه په اړه انتقادي نظر، ۵۱.

۸ کلاسمن، ماتیو ای.، « د قواوو جلاوالی: یوه لنډیز،» ( واشنګتن: د کانګرس څېړنیز خدمتونه، د ۲۰۱۲ کال د جنوری ۸ مه) ، ۳.

### ۳.۱.۱ په افغانستان کې د قواوو د جلاوالي تاریخي شالید

افغانستان، د احمد شاه دراني له خوا په **۱۷۴۷** کال کې له خپل وروستي تاسیس څخه تر **۱۹۲۳** پورې، د قواوو د جلاوالی سیستم نه درلود او په هېواد کې اساسی قانون موجود نه و. د امیر، یا پاچا واک د تېر د مشرانو یا جرګو په رضایت پورې اړه لرله. مطلقه سلطنت په دغې موډې کې واک لاره او هېواد د فرمانونو له لارې اداره کېده. امیر د ډېر لوړ مذهبي او ملکي صلاحیت خاوند و. هغه نړۍ وال تړونونه لاسلیکول، د پوځ لوی مشر ګڼل کېده، او د وزیرانو او لومړي وزیر ټاکل د هغه له صلاحیتونو څخه شمېرل کېدل. د عدالت او انصاف اداره د دیني علماوو مسوولیت و، چې د اسلامي اصولو د تفسیر پربنسټ یې د عدالت اداره په غاړه لرله.[۹]

افغانستان په **۱۹۲۳** کال کې خپل لومړنی اساسي قانون د امیرامان الله خان د سلطنت په دوره کې تصویب کړ. په لومړني اساسي قانون کې د واک د وېشلو ( د قدرت د جلاوالی) مفهوم نه و، خو په هرصورت، په دغه اساسي قانون کې د **دولت شورا** چې له ټاکل شویو غړو څخه جوړه وه، کار کاوه. نوموړې شورا، او نورو ټیټو شورا ګانو، یوازې مشورتي دندې په غاړه درلودې.[۱۰] په دې توګه د **۱۹۶۴** کال تر اساسي قانون پورې چې د افغاني اسلامي دودونو پربنسټ د لویدیزې نړۍ د قانونیت ځینې اصول و چې د قواوو د جلاوالی مفهوم یې معرفي کړ.[۱۱] له هغه وخت راهیسې، د قواوو جلاوالی د افغانستان په هر راتلونکي اساسي قانون کې شته.[۱۲]

## ۳.۲ اجرائیه څانګه

« د حکومت اجرائیه څانګه په هر بنسټیز دموکراتیک دولت کې مهمه ونډه لري، ځکه چې ډېرو اساسی قوانینو ولسمشر/ لومړي وزیر ته سیاسي، اقتصادي، نظامي او د ټولنیزې پالیسي د پرېکړه کولو قدرت ورکړی دی[۱۳]».

هغه سیاسي سیستمونه چې د قدرت د جلاوالي پربنسټ ولاړ دي، صلاحیت د ډېرو څانګو ( اجرائیه، مقننه او قضا ) ترمینځ وېشي چې د یوه شخص یا د اشخاصو د یوې کوچنۍ ډلې په لاس کې د قدرت د راټولېدو مخنیوی وکړي. په داسې یو سیستم کې اجرائیه قوه د قانون پلي کول، ملاتړ او تنفیذ لکه څنګه چې مقننه څانګې لیکلي او قضائیه قوې تفسیرکړي، په غاړه لري. اساسي قوانین د اجرائیه څانګې قدرت، چې له یوه سیستم څخه تر بل سیستم پورې فرق کوي، ټاکي. د هر اساسي قانون جوړوونکي لپاره یوه اساسي پرېکړه داده چې د اجرائیه څانګې واک تر کومې کچې پورې د مقننه څانګې له خوا محدودیت پیدا کوي. په ضمني ډول په دې مسئلې کې عمده موضوع داده چې آیا اجرائیه څانګه باید دیوې ټاکل شوې مودې لپاره کاروکړي، یا کېدای شي د مقننه څانګې له خوا له دندې څخه لیرې شي.

## ۳.۳ د اجرائیه څانګې دندې

څانګو صلاحیتونوته په کتو، کېدی شي اجرائیه څانګه د پالیسي جوړوني، قانون جوړوني او مالي پراخ مسوولیتونه په غاړه ولري. په عمومی توګه، د اجرائیه څانګې مشر، د دولت د مشر په څېر، صلاحیت لري د کابینې مشران، سفیران، د ستري محکمې قاضیان او نور لوړپوړي چارواکي وګوماري. اجرائیه څانګه باید کورنۍ او بهرنۍ پالیسي جوړه او پلي کړي، او د جګړې د اعلان واک لري،که څه هم مقننه څانګه قوانین تصویبوي، خو په ډېرو سیستمونو کې اجرائیه څانګه د وړاندیز شوو قوانینو مالي حمایت یا جوړول په غاړه لري، او ولسمشر د مقننه څانګې له خوا د تصویب شوو قوانینو د رد واک لري. کیدای شي چې اجرائیه څانګه د قانوني تفسیر د پوښتنې د راپورته کولو حق ولري، او په محکمه کې د اداري استازیتوب وکړي. اجرائیه څانګه د بودجې د جوړولو مسئولیت په غاړه درلودلای شي، او په عمومي توګه د اقتصادي پالیسي، د مالیاتو او ګمرکي محصول د ټاکلو او راټولولو او همدا ډول د حکومت د لګښتونو ، واک لري.[۱۴]

---

۹ مشتاغي، رامین: ماکس پلانسک د افغانستان د اساسي قانون په اړه لاسی کتاب، لومړی ټوک: د دولت جوړښت او اصول، ( هیدلبرګ: د ماکس پلانسک انستیتوت ، مقایسوی عامه قانون، ۲۰۰۹)، ۱۳.

۱۰ مشتاغي. د افغانستان اساسي قانون،**۱۵**.

۱۱ ګروت، رینر، « د افغانستان په نوي اساسی قانون کې د قدرت جلاوالی، ( هیدلبرګ: ماکس پلانک انستیتوت، ۲۰۰۴)، ۸۹۷.

۱۲ د افغانستان مختلف اساسي قوانین په پنځمه برخو کې ارزول شوي دي.

۱۳ عامه نړیوال قانون او د پالیسي ډله. « له جګړې وروسته د اساسي قانون د تسوید کوونکو لپاره لاسي کتاب»، ۲۴.

۱۴ YourArticleLibrary.com، « د راتلونکي نسل کتابخونه، اجرائیه قوه، تعریف، دندې او د اجرائیه ډولونه،» .http://www.yourarticlelibrary.com/political-science/exeutive-definition-functions-and-types-of-executive/۴۰۳۲۰ (د ۲۰۱۷ د مارچ له ۲۸ مې څخه راهیسي د لاس موندني وړ).

## ۳.۴ د قوي اجرائيوي څانګې ځانګړتياوې

د حکومت د سيستم د ارزولو لپاره ځانګړي معيارونه نه شته. په هرحال، د ښې حکومتولۍ اصولو د پاليسي د مرکز، د قانون د پلې کولو او مالي چارو په تنظيم کې د اجرائيه څانګې ونډې ته په پاملرنې سره بايد دا لاندې ځانګړتياوې په پام کې ونيول شي. که څه هم هيڅ ځانګړتيا د پاملرنې وړنه ده، خو له هغو څخه د يوې نه شتوالی کېدی شي د حکومت د نه برياليتوب عامل وګڼل شي.

**۳.۴.۱ مشروعيت:** حکومت بايد د نورو هېوادونو او خپلو وګړو له خوا د مشروع جوړښت په توګه وپېژندل شي چې د آزادو او عادلانه ټاکنو پايله وي. او ددې پرځای چې خپلې غوښتنې پرځای کړي، بايد د عامه خلکو د ګټو لپاره ځان وقف کړي.

**۳.۴.۲ انعطاف منل:** حکومت بايد ددې وړتيا ولري چې له بدلېدونکو شرايطو سره ځان عيار کړي. که اجرائيه جوړښت خورا ډېر ټينګ او نه بدلېدونکی وي، کېدی شي حکومت په اضطراري وختونو کې د چټک او پريکنده غوځښت وړتيا پيدا نه کړي.

**۳.۴.۳ مسوولیت منل:** لازمه خبره داده چې حکومت، په تيره بيا اجرائيه څانګه، د نورو څانګو، په تېره بيا د مقننه څانګې په وړاندې مسووليت ولري.

**۳.۴.۴ اغېزمنتوب:** ددې لپاره چې حکومت اغېزمن وي، بايد هرو مرو نه يوازې پاليسي جوړه کړي، بلکې بايد دهغې د تطبيق دنده هم په غاړه ولري، قوانين بايد نافذ کړي او د خلکو په چوپړ کې وي.

**۳.۴.۵ پايښت:** هغه حکومتونه چې د دويم اټکل، يا حتی د انحلال له خطر سره مخامخ وي، کېدی شي په هربدلون کې د ثبات د نشتوالي له کبله سمونو يا شخړه ييزو پاليسيو ته اړ کړل شي.

## ۳.۵ د اجرائيه څانګې ډولونه

په لاندې کرښو کې هغه بنې توضيح کيږي چې کېدی شي اجرائيه څانګه يې په غاړه واخلي:

### ۳.۵.۱ اسمي او واقعي اجرائيه څانګه

هر پارلماني سيستم هم له اسمي او هم له واقعي اجرائيه څانګې څخه کار اخلي. په دغه سيستم کې، د دولت مشر (ولسمشر يا پاچا) اسمي اجرائيوي مقام ګڼل کيږي او د وزيرانو شورا چې لومړی وزير يې مشري په غاړه لري واقعي اجرائيه څانګه شمېرل کيږي. اسمي اجرائيوي شخص د دولت تشريفاتی مشر دی او واقعي اجرائيوي مقام سياسي واک په لاس کې لري.[۱۵]

### ۳.۵.۲ ميراثي او انتخابي اجرائيه (رئيس، مامورين)

يو ميراثي اجرايوی مقام د ميراث د قانون پراساس د اداري چارې په لاس کې اخلي، خو يو ټاکل شوی اجرائيوي شخص په مستقيمه يا غير مستقيمه توګه د يوې ځانګړې مودې يا حتی د ټول ژوند لپاره د خلکو له خوا انتخابيږي. د بېلګې په ډول په بريتانيا، جاپان او ماليزيا کې د دولت مشران دميراثي ځای ناستې له لارې اداري چارې په لاس کې اخلي. د امريکې په متحده ايالاتو، هند، او جرمني کې د دولت مشران په مستقيمه يا غير مستقيمه توګه د خلکو له خوا ټاکل کيږي.[۱۶]

۱۵ YourArticleLibrary.com ، «د راتلونکي نسل کتابخونه، اجرائيه.»
۱۶ YourArticleLibrary.com، «د راتلونکي نسل کتابخونه، اجرائيه.»

## ۳.۵.۳ مفرد او جمع اجرائیه (څانګه)

په یوه مفرد اجرائیوی سیستم کې، یو مشر ټول اجرائیوي قدرت په لاس کې نیسي. د بیلګې په توګه په هند، متحده ایالاتو، استرالیا، فرانسه، او ډېرو نورو دولتونوکې یو شخص د ټول اجرائیوي قدرت لاس ته راوړي. له بلې خوا، کله چې اجرائیوی قدرت د خلکو یوې ډلې لکه کمېټې، شورا، یا کمیسیون ته وسپارل شي، او یاده شوي ډله په ډله ییزه توګه ځواک په لاس کې واخلي، نو داسې سیستم ته ډله ییز اجرائیوی سیستم ویل کیږي. د مثال په توګه، په سویټزرلند کې ټول اجرائیوي قدرت فدرالي شورا ته ورکول کیږي. نوموړې شورا اوه غړي لري چې په مشترکه توګه اجرائیوی قدرت په غاړه اخلي.[17]

## ۳.۵.۴ پارلماني او ریاستي اجرائیه واک

د ریاستی او پارلماني اجرائیه ځواک ترمینځ توپیر د اجرائیوی او تقنیني څانګو د اړیکو پربنسټ ولاړ دی. په پارلماني اجرائیوي سیستم کې، د اجرائیوي او تقنیني څانګو ترمینځ نږدې اړیکې شتون لري، ځکه چې د اجرائیوي څانګې غړي په عین حال کې د تقنیني څانګې غړي هم دي. د یو پارلماني اجرائیوي غړي په انفرادي یا جمعي ډول د مقننه ځواک په وړاندې مسئولیت لري. برسیره پردې، په یوه اجرائیوی پارلمان کې، د اجرائیوی رئیس صلاحیتونه مشخص شوي نه دي، او کیدای شي په هروخت کې د مقننه قوې له خوا له دندې څخه ګوښه شي.

د ولسمشری په اجرائیوی سیستم کې د اجرائیه او تقنیني څانګو ترمینځ د قدرت بشپړ جلاوالی شتون لري. د اجرائیه څانګې یو غړي په عین حال کې د مقننه قوې غړیتوب درلودلای نشي. ددې ترڅنګ د اجرائیه او مقننه څانګو مشران په یوبل باندې اغیزه نه لری؛ مقننه څانګه د اجرائیه څانګې له خوا منحل کیدای نشي، او په همدی توګه اجرائیه څانګه، پرته له استثنائی حالاتو، د مقننه څانګې له خوا ګوښه کیدای نشي.[18]

۱۷ YourArticleLibrary.com، «د راتلونکي نسل کتابخونه، اجرائیه.»
۱۸ YourArticleLibrary.com، «د راتلونکي نسل کتابخونه، اجرائیه.»

# ۴. د حکومت رياستي او پارلماني سيستمونه

په دې اړه پرېکړه چې رياستي يا پارلماني سيستم، يا له دواړو څخه ګډ سيستم، غوره شي، د اجرائيه او مقننه قوې د جلاوالي په کچه باندې اغېز کوي، او په څرګند ډول د حکومت د مشر ونډه تر اغېز لاندې نيسي.

## ۴.۱ رياستي سيستم

په رياستي سيستم کې د قواوو بشپړ جلاوالی شته. اجرائيه او مقننه څانګې له يو بل څخه خپلواکې دي، او ولسمشر د خلکو د مستقيمو رايو پراساس ټاکل کيږي او د ټاکل شوي مودې لپاره خدمت کوي. تقنيني څانګه (پارلمان يا کانګرس) په جلا توګه ټاکل کيږي. ولسمشر د مقننه قوې غړی نه دی، او مقننه څانګه نشي کولای چې ولسمشر د نه باور رايو لپاره راوغواړي او يا جمهور رئيس مخکې له دې چې د هغه يا هغې موده پوره شي له دندې څخه ګوښه کړي. وزيران يا د څانګو رئيسان ګومارل کيږي او کېدی شي چې د ولسمشر له خوا معمولا د تقنيني ادارې د يو ډول رضايت په پايله کې، له دندې څخه ګوښه شي [۱۹].

متحده ايالات معمولا د واحد اجرائيوي سيستم لومړنی بېلګه ګڼل کيږي. ولسمشر د حکومت او دولت مشري په غاړه لري او د وسله والو قواوو د اعلی سرقوماندان په توګه د لوړ قدرت خاوند شمېرل کيږي. د امريکې جمهور رئيس د څلورو کلونو لپاره ټاکل کيږي،دغه موده له استثنايي او فوق العاده حالاتو څخه پرته، د مقننه څانګې له خوا لنډېدلی نشي. د کابينې پنځلس غړي، او همدا ډول عمده اداري مقامونه، د سنا په خوښه د جمهور رئيس له خوا ګومارل کيږي. جمهور رئيس په عين حال کې د فدرال قاضيانو او سفيرانو ترڅنګ، د **۵۰** کميسيونونو رئيسان ګوماري. جمهور رئيس کولای شي د کانګرس له خوا يو قانون تأئيد او يا ئې ويتو (رد) کړي او بيرته يې کانګرس ته واستوي.

د امريکې ولسمشر حق لري له نورو هېوادونو (ملتونو) سره د تړونونو په اړه خبرې وکړي او هغه لاسليک کړي، دا تړونونه د سنا له خوا تصويب ته اړتيا لري. جمهور رئيس د فدرالي جرمونو د بښنې واک لري [۲۰].

### ۴.۱.۱ د رياستي سيستم ګټې

رياستي سيستم ډېرې ګټې لري:

- ولسمشر د خلکو له خوا په مستقيمه توګه ټاکل کيږي. د ولسمشر د ټاکنو بهير هم عادلانه او هم پرانيستي دی. ولسمشر د مشروعيت په چاپيريال کې خپله دنده په غاړه اخلي.
- د قواوو وېش (جلاوالی) د مسووليت کچه برابروي. کيدای شي چې دا عامل له دې موضوع سره په اړيکه کې بدلون ومومي چې آيا د ولسمشر ګوند هم په مقننه څانګه کې د اکثريت استازيتوب کوي، او مقننه څواک د جمهور رئيس کړنې ترکومې کچې ارزوي.
- يوه غښتلې اجرائيه څانګه وړتيا لرونکي مشرتابه ته د قدر په سترګو ګوري، رياستي سيستم، اجرائيه برخې ته پراخ څواک ورکوي تر څو عمده ساحو لکه اقتصاد، داخلي او خارجي پاليسي او بودجې کې د هېواد لارښوونه وکړي.
- څکه چې کېدای شي ولسمشر پرته له دې چې بيرنۍ بيا کتنې څخه ويره ولري شخړه ايز يا د نه منلو وړ پاليسۍ معرفي کړي، نو رياستی سيستم د ډېرو پايښت لرونکو سيستمونو په کتارکې راځي.
- د پرېکړه کولو پياوړتيا او چټکوالی په رياستي سيستم کې خورا لوړ دي.
- د اجرائيه او مقننه څانګو ترمينځ د تاوتريخوالي او توپير نشتوالی څرګندوي چې په رياستی سيستم کې د داسې ستونزو لپاره ځای نشته.

---

۱۹ نياز، عبدالواحد، پرتله ايز اساسي قانون (د اساسی قانون پرتله کول) (کابل: د فرهنګ خپرونې، **۲۰۰۹**) **۱۲۹** -۷۰؛ رسولي، د افغانستان د اساسی قانون نيوکه او ارزونه، **۵۷ – ۵۸**.

۲۰ سپينه مانۍ، «اجرائيه څانګه،» executive-branch/۱۲۰۰/https://www.whitehouse.gov (د **۲۰۱۲** کال د سپتمبر له **۱۵** مې د لاس موندنې وړ).

### ۴.۱.۲ د ریاستی سیستم نیمګړتیاوي

د ریاستی سیستم نیمګړتیاوي په عمده توګه دا دي:

- په ریاستي سیستم کې د انعطاف منني نه شتون هغه نیمګړتیا ده چې پراساس ئې عمده اجرائیوي مشر، که څه هم د خلکو په مینځ کې ډیر نه منلی شي، له استثنائی مواردو پرته، له اداري څخه ایسته کیدای نشي. د بیلګې په ډول، هغه ولسمشر چې د نظامي تجربو له کبله ټاکل شوي وي، کیدای شي د اقتصادي بحران یا طبیعی پیښنو په مدیریت کې پوره ناوړتیا ولري، خو بیا هم داسې ولسمشر حق لري چې د خپلې دورې تر پایه کارته دوام ورکړي.
- که چیرې ولسمشر او د هغه یا هغې کابینه بی اغیزې ثابته شي، ریاستي سیستم هغوي په اداره کې د دورې تر بشپړتیا پورې ساتي. ناوړه او د بد نوم خاوند مشران، یا ولسمشران چې د قدرت د جلاوالي له امله خپلو موخو ته رسېدلای نشي، او د مقننه څانګې محدوده وړتیا چې نشي کولای د اجرائیه مشر دکړنو مخنیوی وکړي، له ګوښه کیدو څخه ساتل کیږي.

## ۴.۲ پارلماني سیستم

د پارلماني سیستمونو څانګړتیا د قواوو د نسبي جلاوالي پراساس ټاکل کیږي. په دې سیستمونو کې مقننه څانګه د ریاستی سیستم په پرتله، د اجرائیه څانګې پرکړنو او پریکړو باندې ډیره مستقیمه اغیزه لري. په پارلماني سیستم کې د پارلمان یا نورو تقنیني ادارو غړي د عامه خلکو د رایو پراساس ټاکل کیږي، او اجرائیه څانګه خپل مشروعیت له مقننه څانګې څخه لاس ته راوړي [۲۱] د اجرائیه څانګې مشر له سیاسی پلوه د پارلمان په وړاندې مسوولیت لري او د نه باور رایې تابع ده. که څه هم د مختلفو موډلونو شتون شونی ښکاري، خو پارلماني سیستم دوه اجراء کوونکي لري چې د دولت له رییس او د حکومت له رییس څخه جوړ دي. د دولت رییس تشریفاتی ونډه لري (لکه په مشروطه سلطنت کې پاچا)، او اجرایوی څواک د حکومت د مشر په لاس کې دی[۲۲].

بریتانیا د پارلماني سیستم ستره بیلګه ګڼل کیږي. نوموړی هیواد دوه ګونی اجرائیوي حکومت لري، چې ملکه تشریفاتی ونډه په غاړه لري، په داسې حال کې چې لومړی وزیر د حکومت د رئیس په توګه خپلې دندې ترسره کوي. پارلمان دوه خونې لري، چې یوه ئې د عوامو خونه او بله یې د اعیانو خونه نومیږي. د عوامو د مجلس غړي د مستقیمو ټاکنو له لیارې د پنځوکلونو لپاره ټاکل کیږي. او د اعیانو د خونې غړي د لومړی وزیر له خوا د نا معلومې مودې لپاره ټاکل کیږي. د پارلمان عمده دنده د حکومت په کړنو نظارت او د عامه خلکو ګټو ساتنه ده. پارلمان د قانون جوړولو او د مالیاتو د ټاکلو واک لري.

په بریتانیا کې اجرائیه څانګه په درې برخو وېشل شوي ده: لومړی وزیر، کابینه او نور وزیران. په پارلمان کې هغه سیاسي ګوند چې ترټولو ډیرې څوکۍ لري، لومړی وزیر (صدراعظم) ټاکي. لومړی وزیر وروسته د خپل حکومت نورغړي د عوامو او لاردانو له خونو څخه ګوماري. د وزیرانو شورا د عامه خدمتونو په هکله د پریکړو دکولو او تطبیق له امله د پارلمان په وړاندې مسئولیت لري. [۲۳] ملکه (یا پاچا) تشریفاتي ونډه لري او د پریکړه کولو واک نه لري. [۲۴]

څکه چې لومړی وزیر اړ دی په مقننه څانګې کې پاینښت لرونکی ملاتړ ولري، پارلماني سیستم په هغو هیوادونو کې چې قوي ملي سیاسي ګوندونه لري په اغیزمنه توګه هڅه کوي چې د څانګو ترمینځ د تاوتریخوالی مخنیوی وکړي. چیرې چې سیاسي سیستم له ډیرو کوچنیو سیاسي ګوندونو څخه جوړشوي وي، کیدای شي د صدراعظم ټاکل د ائتلاف په جوړولو کې له ستونزو سره مخامخ شي، او کیدای شي له دې بهیر څخه راوتلی حکومت له ائتلاف څخه د یوه ګوند وتل اوله ملاتړ څخه د هغه د نه بریالیتوب لاملونه برابرکړي.

د پارلماني حکومت یوه ښه څانګړتیا داده چې دا ډول حکومتونه د هغو ملتونو لپاره په زړه پورې بریښي چې ژور قومي یا مذهبی جوړښتونه لري، او د هغو سیستمونو په پرتله، چې ټول اجرائیوي څواک د داسې ولسمشر په لاس کې تمرکز پیدا کولای شي چې پخپله د یوې سیالي کوونکې ډلې غړی وي، په قدرت کې د برابر ګډون شرایط برابروي.

---

۲۱ نیاز، پرتله ایز اساسي قانون، ۴۱.

۲۲ رسولي، د افغانستان د اساسي قانون ارزونه او نیوکه، ۲۰ – ۲۱.

۲۳ «حکومت څه ډول خپله دنده ترسره کوی» (د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر له ۱۵ مې د لاسرسی وړ).

۲۴ نیاز، پرتله ایز اساسی قانون ، ۸۹ - ۹۳

## ۴.۲.۱ د پارلماني سيستم ګټې

پارلماني سيستم لاندې ګټور ټکي لري:

- پارلماني سيستم ډېر انعطاف منونکی او اغيزمن دی، ځکه چې لومړی وزير او د مقننه ځواک اکثريت، لږ ترلږه په تيوري کې، ګډې سياسي موخې لري. په دې توګه، د ملي پاليسي او تقنيني مسئلو په اړه د نظر يووالی ډېر ژر رامينځ ته کيږي.
- په همدې دليل، کېدای شي چې د حکومت پارلماني سيستم خورا ډېر اغېزمن وي ځکه چې لومړی وزير (صدراعظم) په پارلمان کې پياوړی ملاتړ لري.
- که څه هم اجرائيه او مقننه څانګې د رياستي سيستم په پرتله له يو بل سره له نږدې څخه يوځای کار کوي، خو بيا هم پارلماني سيستمونه د خپلواکې قضائيه قوې د شتون له امله د قواوو د جلاوالي يوه کچه ساتي.

## ۴.۲.۲ د پارلماني سيستم نيمګړتياوې

په داسې حال کې چې پارلماني سيستم ډېرې ګټې لري، خو نيمګړتياوې يې هم د کتو دي:

- ځکه چې لومړي وزير د پارلمان په خوښه خپلې دندې ترسره کوي، او کېدای شي چې حکومت هر وخت منحل شي، نو ځکه د رياستي سيستم په انډول پايښت او ثبات نه لري.
- کېدای شي چې د پارلمان د اکثريت د ملاتړ د ساتلو لپاره، اجرائيه څانګه دې ته اړه شي چې اړينه او خورا ضروري، خو له سياسي پلوه بې شهرته (نه پېژندل شوي) ، پاليسي تعقيب نه کړي.
- که په پارلمان کې د غوڅ اکثريت لرونکی ګوند نه وي، نو پارلماني سيستم به هم په ښکاره ډول بې اغېزې وي. په داسې وضعيت کې د لومړي وزير ټاکل د دوو يا ډېرو ګوندونو د ائتلاف له خوا تر سره کيږي، او هرګوند کولای شي خپل ملاتړ بېرته واخلي او هروخت د حکومت د نه برياليتوب لامل شي.
- چيرې چې په پارلمان کې خورا ډېرې سياسي ډلې وي، کېدای شي چې د ډېرو مناظرو او اختلافونو په سبب د پارلمان په کار کې ځنډ رامينځ ته شي.
- د اجرائيه او مقننه څانګو له خوا د متقابل انحلال خطر د بې ثباتي لپاره زمينه برابرولی شي.

## ۴.۳ رياستي او پارلماني ګډ سيستمونه

د فرانسې په شان ګډ يا ترکيبي سيستم دوه ګوني اجرائيوی مقامونه لري، چې دواړه يې د ځينو واقعي واکونو څښتنان دي. فرانسه له نيمه پارلماني سيستم څخه ګټه اخلي. ولسمشر چې د دولت رئيس ده، د خلکو له خوا ټاکل کيږي. دوهم اجرائيوي شخصيت لومړی وزير ده چې د جمهور رئيس له خوا ګومارل کيږي. لومړی وزير، نور وزيران او منشيان بايد هرومرو په پارلمان کې د اکثريت ګوند له غړو څخه، که څه هم ولسمشر د بل ګوند غړی وي، وګومارل شي.

ولسمشر د پنځه کلني دورې لپاره کارکوي او پارلمان، پرته له استثنايي او فوق العاده حالتونو څخه، هغه ګوښه کولای نشي. په هرحال، که څه هم ولسمشر- د لومړي وزير اونورو وزيرانو د ګومارلو واک لري او د وزيرانو د شورا رياست يې په غاړه دی – خو جمهور رئيس نه، بلکې حکومت پخپله د پارلمان په وړاندې مسووليت لري. د قواوو تفکيک د خپلواکې قضائيه څانګې په شتون کې لا ډېره څرګنديږي.

# ۵. په افغانستان کې د معاصرې اجرائیه څانګې تاریخ

افغانستان د یوه ملت په توګه په ۱۷۴۷ کال کې د دراني احمد شاه له خوا تأسیس شو، خو تر ۱۹۲۳ کال پورې یې اساسي قانون نه درلود. دا هېواد د مطلقه سلطنت له لارې اداره کېده، او د امیر (پاچا) قدرت د قومي مشرانو، یا شورا ګانو په ملاتړ ولاړ و، چې د جرګو په نامه یادېدلې. امیر د ډېر لوړ مذهبي او مدني صلاحیت خاوند و؛ هغه د نړیوالو تړونونو د لاسلیک صلاحیت په غاړه درلود، د اردو قوماندان وو، او وزیران یې ګومارل. دیني عالمانو د پاچا د استازو په توګه، عدلي اداره له اسلامي اصولو څخه د خپل تفسیر پراساس، اداره کوله.[۲۵]

افغانستان خپل لومړنی اساسي قانون په ۱۹۲۳ کال کې د امیرامان الله خان د سلطنت په موده کې تصویب کړ. په لومړني اساسی قانون کې د قواوو د جلاوالي مفهوم نه و، خو یوه **دولتي شورا** یې جوړه کړه چې د سلاورکولو دندې یې پرغاړه وې.[۲۶] د ۱۹۲۴ کال په اساسي قانون کې د لومړي ځل لپاره د جلا مقننه او اجرائیه څانګو د جلاوالي مفهوم وکارول شو.[۲۷] له همغه وخت څخه راهیسې د افغانستان په هر اساسی قانون کې د قواوو جلاوالی (لږ تر لږه د کاغذ پرمخ) د عمده اصل په توګه کارول شوی دی؛ که څه هم راتلونکو حکومتونو بیخي بل ډول بښې غوره کړې دي.

## ۵.۱ د ۱۹۲۳ کال په اساسي قانون کې اجرائیه څانګه

د ۱۹۲۳ اساسی قانون ډېر ارزښت لری ځکه چې هغه د افغانستان لومړی اساسی قانون وو او یو مهم بنسټ یې کیښود. که څه هم افغانستان د ډېرو لسیزو لپاره د پادشاهانو لخوا چې په محدود ډول یې اساسی قانون عملی کول اداره کېدل خو دا امتیاز چې د حکومت واکمنی د اساسی قانون لخوا محدودیدل یو ستر ګام وو.

### ۵.۱.۱ د ۱۹۳۱ کال د اساسي قانون تاریخي متن

پاچا امان الله خان په ۱۹۱۹ کال کې د افغانستان له خپلواکۍ سره سم قدرت په لاس کې واخیست. د هغه د پاچاهی په پیل کې یو خوځښت چې موخه ئې « په هیواد کې د مشروطه نظام ټینګول وو رامینځ ته شو چې په هغه کې هغو روڼ آندو ګډون درلود چې له زړې بیروکراسۍ او اریستوکراسۍ څخه ایستل شوي وو،او یا د زده کړې په دودیزو مرکزونو یا هغو ثانوي معاصرو ښوونځیو کې روزل شوي وو چې په افغانستان کې» د هغه د پلار امیر حبیب الله خان « په پاچاهی کې پرانیستل شوي وو».[۲۸]

امان الله ته د یو مترقي – حتی انقلابی – مشر په توګه کتل کیدل؛ هغه، د افغان ټولنې د عصري کولو لپاره د خپل پلان د پلي کولو په موخه د بیسارو، پراخو ټولنیزو، اقتصادي او په حکومت کې د سمونو په راوستلو پیل وکړ.[۲۹] د افغانستان لومړنی اساسي قانون چې په ۱۹۲۳ کال کې تصویب شو د نورو هیوادو ترڅنګ په ژور ډول د فرانسې او ترکیې د بیلګو تر اغیزې لاندې وو.[۳۰] او د ټولنیزې ساتنې، د مطبوعاتو آزادي، د خصوصي شرکتونو د جوړولو حق، د ملکیت درلودلو حق، د زده کړو حق، له شکنجې او بیګارې څخه خلاصون، ئې خلکو ته وړاندې کړ.

د ۱۹۲۳ کال اساسي قانون یو پرمختګ وو، خو په قدرت کې د مشارکت یا د قواوو د تفکیک هیڅ بڼه ئې وړاندې نه کړه.[۳۱] ټول واک پاچاته وسپارل شو، او د قومي مشرانو او مذهبي لارښوونکو اغیزه ئې ډېره لږ کړله، د مقننه ادارې په اړه کومې مادې شتون نه درلود او د دولت

۲۵ موشتاغي، د افغانستان اساسی قانون، لومړی ټوک، ۲۳ - ۲۴

۲۶ موشتاغي، د افغانستان اساسی قانون، لومړی ټوک، ۲۳ - ۲۴

۲۷ ګروت، رینر، «د افغانستان په نوي اساسی قانون کې د ځواک جلاوالی»

۲۸ کاکړ، م. حسن، « په افغانستان کې د اساسي قوانینو تاریخ»، په: http://www.iranicaonline.org/articles/constitutional-history-of-afghanistan د لاس موندنی وړ (د لاسرسي نیټه: ۲۰۱۷ کال د آګست دریمه ).

۲۹ غبار میر غلام محمد ، افغانستان تاریخ په بهیر کې ( کابل،د محسن خیروني ۲۰۱۲) ۷۹۴.

۳۰ اهلړ، روز ویلدا، او نور « د افغانستان اساسي قانون ته یوه کتنه (سریزه)» ستانفورد: د افغانستان د قانونی (حقوقی) زده کړو پروژه، د ستانفورد پوهنتون، ۲۰۱۵) (۱۱).

۳۱ له عمده مالومات ورکوونکي سره مرکه#۱۲، (MAH؛ نارینه کابل).

له محکمو پرته د نورو ټولو محکمو شتون منع شو. د ډېرى سمونو – لکه ښځو ته د پراخو حقونو ورکول، نړیواله زده کړې او د مذهبي شخصیتونو د ونډې خورا ډېر لږېدل- له ډول ډول سختو مقاومتونو سره مخامخ شول. دودیزو مشرانو هم د پاچا په لاس کې د ټولو واکونو ټینګېدل نه غوښتل. په پایله کې، کله چې امان الله زرکسیزه لویه جرګه [32] جوړه کړه ترڅو د خپل اساسي قانون تصویب ترلاسه کړي، هغه رد شو. د **۱۹۲۳** کال اساسي قانون یوازې هغه وخت تصویب شو چې پاچا بله ډېره کوچنۍ غونډه چې شا اوخوا ۱۰۰ تنه تکړه استازی ئې درلودل، راوبلله.

## ۵.۱.۲ د ۱۹۲۳ کال د اساسی قانون منځپانګه او عمومی احکام

که څه هم د قواوو د جلاوالی معاصره نظریه د **۱۹۲۳** کال په اساسي قانون کې انعکاس موندلی نه وو، خو د دولت اداره په درې عمومی ادارو لکه د وزیرانو هیآت، د دولت شورا، او محاکمو ویشل شوي وه.[33] د وزیرانو د هیآت مشري پخپله پاچا، او د هغه په غیاب کې لومړي وزیر (هغه مقام چې د امان الله – پاچاهی په موده کې خالي پاته وو.)[34] په غاړه درلوده. د کابینې د هیآت او لومړي وزیر ګومارل د پاچا واک وو، او د پاچا په وړاندې مسئول ګڼل کیدل.[35]

**د دولت شورا** یوازې په نوم د قوانینو او تړونونو د ارزونې مسئولیت په غاړه درلود، خو په عمل کې ئې فقط د سلاورکولو دنده ترسره کوله. هیڅ ډول ټاکل شوي شورا او د چک او توازن سیستم شتون نه درلود؛ پاچا د هیچا په وړاندې مسئولیت نه درلود او دهغه واک یوازې د اساسي قانون او شرعی قانون له خوا محدود کیده. پاچا د وسله والو ځواکونو اعلی قوماندان وو او د سولې او جګړې د اعلانونو او د تړونونو د لاسلیک صلاحیت ئې درلود. هغه کولای شو بښنه او عفو کول پراخ کړي.[36]

د امان الله له ښه نیت سره سره، د قدرت د دودیزو مرکزونو- قومي مشرانو او دیني رهبرانو – په وړاندې د هغه بې پروائې د نوموړې د راپرزیدو لاملونه وګڼل شول. پاچا په **۱۹۲۵** کال کې له عامه پاځون سره مخامخ شو او هغه بې اړ ایست چې اساسی قانون تعدیل کړي، او په افغانستان کې د اسلام موقف لوړکړي. حتی دغه امتیازونه د ناامنیو د مخنیوي سبب نه شول، او امان الله په **۱۹۲۹** کال کې هیواد پریښود.

## ۵.۱.۳ د ۱۹۲۳ کال د اساسي قانون مشروعیت

د **۱۹۲۳** کال اساسي قانون د یوه قوي او غښتلي مرکزي حکومت د تأسیس لپاره یو اغیزمن خوځښت اوله ولایتونو سره د اړیکو د تنظیم ښه وسیله ګڼل کیږي؛ مانا دا چې نوموړي خوځښت د ملی یووالي په لور د لوی پرمختګ استازیتوب کوي.[37] امان الله په عین حال کې د قدرت د ځینو برخو پریښنولو ته هم اشاره وکړه، او لویې جرګې ته ئې وویل چې د لومړي وزیر د نه ټاکلو لامل د وړ او مناسب نوماند نه شتون وو[38].

د **۱۹۲۳** کال اساسي قانون د یوې احتیاطي کیسې په څیر کار ورکوي. هغه سمونې چې د اساسي قانون له خوا منل شوي وي د خلکو یا د هغو د دودیزو مشرانو له خوا ؤنه منل شوي. په دغو سمونو کې ژور بدلونونه لکه د لویدیزوجامو اغوستلوته د خلکو مجبورول، په ځانګړو عامه ځایونو کې د ښځو له خوا د چادرې د اغوستلو منع کول او په اونۍ کې د جمعې دورځې پرځای د پنجشنبې په ورځ رخصتي منل، شامل وو. د امان الله حکومت له پراخ اداري فساد څخه ډک او په پایله کې پای ته ورسید.[39]

---

۳۲ لویه جرګه – د « شورای بزرګ » لپاره پښتو مانا- د افغانستان په سیاست کې یوه ځانګړې ځانګړتیا ده. لویه جرګه په دودیزه توګه جوړیږي تر څو د سترو ملی کړکیچونو په اړه پریکړه وکړي. د لویې جرګې په غړو کې ټولنیز، سیاسی او نظامی مشران، پوهان، قومی مشران، د لږه کیو استازي او نور شریکان ګډون لري. دا غیر رسمی دود په اوسنی اساسی قانون کې تعریف شوی ده.

۳۳ غبار، افغانستان د تاریخ په بهیر کې، ۷۹۴.

۳۴ د افغانستان اساسي قانون، ۱۹۲۳ ( ۱۳۰۲ لمریز کال)، ۲۵ مه ماده.

۳۵ د افغانستان اساسي قانون، ۱۹۲۳، ۲۴ مه ماده، ۳۱.

۳۶ د افغانستان اساسی قانون، ۱۹۲۳، ۷مه ماده.

۳۷ غبار، افغانستان د تاریخ په بهیر کې، ۷۹۵.

۳۸ دانش، محمد سرور، د افغانستان اساسي قوانینو مجموعه ( کابل: د ابن سینا خپروني، ۲۰۱۵)، ۲- ۴.

۳۹ غبار، افغانستان د تاریخ په مسیر کې، ۸۰۱ – ۸۰۲.

## ۵.۲ د ۱۹۳۱ کال په اساسي قانون کې اجرائیه څانګه

د ۱۹۳۱ کال اساسي قانون د خپل سلف سموني اصلاح کړې او د اسلام دین یې د عمومي دین په توګه ومانه. ملي مقننه قوه، که څه هم پوره بې اغېزې وه، د لومړي ځل لپاره رامینځ ته شوه، قضائیه قوه که څه هم له خپلواکۍ څخه ډېره لرې وه، جوړه شوه.

### ۵.۲.۱ د ۱۹۳۱ کال د اساسي قانون تاریخي متن

داسې بریښي چې د ۱۹۲۳ کال د اساسي قانون یوه څرګنده اغیزه دا وه چې له امان الله وروسته پاچا، نادرشاه، ددې اړتیا احساس کړه چې د خپل مشرتابه د مشروعیت لپاره خپل اساسي قانون وړاندې کړي. د ۱۹۳۱ کال اساسي قانون د ډېرو سرچینو تر اغیزولاندې وو او د هغو پربنسټ جوړشوی و. په دغو سرچینو کې د ترکیې، ایران او فرانسې اساسي قوانین، او همدا ډول د افغانستان د ۱۹۲۳ کال اساسي قانون، او حنفي شریعت او سیمه ایزو دودونو ډېر اړخونه، شامل وو. نادرشاه، چې د خپل سلف په تېروتنو ښه پوهیده، له دیني عالمانو سره یې سلا کوله ترڅو ډاډ من شي چې دده اساسي قانون د خلکو له غوښتنو سره مخالف نه دی.[۴۰] د اریانتیا وړ نه ده چې د ۱۹۳۱ کال اساسي قانون سني اسلام د دولت د دین په توګه وپېژانده او پاچا یې اړکړ ترڅو د شریعت د قانون اطاعت وکړي.[۴۱]

### ۵.۲.۲ د ۱۹۳۱ کال د اساسي قانون منځپانګه او تړلیز حکمونه

د ۱۹۳۱ کال د اساسي قانون پایښت لرونکې نوښت د **مقننه څانګې** جوړول وو چې له ملي شورا او د اعیانو له خونو څخه جوړه وه. که څه هم د اعیانو د خونې غړي د پاچا له خوا ټاکل کېدل، خو د ملي شورا غړي د درې کلونو لپاره په مستقیمه توګه دخلکو له خوا ټاکل کېدل.[۴۲] پاچا د قدرت ډېرې برخې لکه د پارلمان له خوا د وړاندیز شوو قوانینو منل یا ردول، د قوانینو او اداري احکامو صادرول، د سولې او جګړې اعلان، د تړونونو لاسلیک کول او د عفوې او بښنې پراخول، وساتل.[۴۳] قضائیه څانګه کوم خپلواک ارګان نه و، ځکه چې په اجرائیه څانګې پورې تړلې وه.[۴۴] محکمې مجبوره وې چې د شریعت قانون د حنفي فقه پربنسټ پلې کړي.[۴۵]

د ۱۹۳۱ کال اساسي قانون د قواوو وېش (تفکیک) یوازې په نوم منلی و. په عمل کې، د پاچا لوړ تقنیني اجرائیه واک، او د پارلمان له خوا د معتبرو بدلونونو په رامینځته کولو کې نه بریالیتوب، حکومت د واقعي مشروطه پاچاهۍ پرځای د دیني (مذهبي) اریستوکراسي بڼه غوره کړې وه.[۴۶] سربېره پردې، که څه هم نوموړي قانون ۳۳ کاله دوام وکړ چې د افغانستان د اساسي قوانینو لپاره ترټولو اوږده موده ده، خو د هغه مواد د متوالي حاکمانو له خوا له نظره غورځول شوي وو.

## ۵.۳ د ۱۹۶۴ کال په اساسي قانون کې اجرائیه څانګه

د ۱۹۶۴ کال اساسي قانون اکثراً د اوسني اساسي قانون لپاره مستقیم لارښود ګڼل کیږي. د پاچا د واک د محدودولو ترڅنګ، د ۱۹۶۴ کال اساسي قانون معاصر او مدني حقوق لکه د نارینه وو او ښځو ترمینځ د حقونو برابروالی، د قومونو ترمینځ مساوات، د ملکیت حق، د بیان آزادی، او سیاسي ګوندونو ته د فعالیت د حق ورکول، ومنل. د قواوو جلاوالی د لومړي ځل لپاره ومنل شو.

### ۵.۳.۱ د ۱۹۶۴ کال د اساسي قانون تاریخي زمینه

د پخوانیو اساسي قوانینو پرخلاف، د ۱۹۶۴ کال اساسي قانون د پراخو بحثونو او مشورو پایله ګڼل کیږي. د هېواد پاچا محمد ظاهرشاه لومړی یو اووه کسیز کمیسیون جوړکړ چې نوی لیبرال اساسي قانون ولیکي. نوموړي کمیسیون پخپل وار د بیا کتنې له لوړ کمیسیون

۴۰ اهلر، اساسي قانون ته یوه سریزه، ۱۲- ۱۳

۴۱ د افغانستان اساسي قانون، ۱۹۳۱، ۵ مه ماده

۴۲ اهلر، اساسي قانون ته یوه سریزه، ۱۳.

۴۳ غبار، افغانستان د تاریخ په مسیر کې، ۴۴.

۴۴ غبار، افغانستان د تاریخ په مسیر کې، ۴۴.

۴۵ د افغانستان اساسي قانون، ۱۹۳۱، ۸۸ مه ماده.

۴۶ غبار، افغانستان د تاریخ په مسیر کې، ۴۴.

څخه د ډېرو کسانو نظریې راټولې کړې چې د افغاني ټولنې له بېلابېلو پوړونو څخه راغلي وو. د بیا کتنې کمیسیون هم له نورو کارپوهانو او ټولنیزو سیاسي اغېزمنو شخصیتونو سره پراخې مشورې ترسره کړې. له دغې نږدې یو کال مودې څخه وروسته، د اساسي قانون مسوده د دوهم کمیسیون له خوا چې ۲۹ غړي یې درلودل، بیا وکتل شوه. په پای کې پاچا د اساسي قانون د تأئید لپاره لویه جرګه راوبلله.[۴۷]

د ۱۹۲۴ کال اساسي قانون چې په ټولیزه توګه د افغانستان په سیاست کې د لیبرال عصر (دوران)په نوم یادېږي د لومړي ځل لپاره د قواوو جلاوالی او د پاچا د واک محدودول عملي کړل، ژورې ټولنیزې سمونې معرفي شوې.

## ۲. ۳. ۵ د ۱۹۲۴ کال د اساسي قانون منځپانګه او عمومي حکمونه

د ۱۹۲۴ کال اساسي قانون یوه مشروطه پاچاهي تأسیس کړه چې دوه ګونی اجرائیوي سیستم یې درلود چې د پاچا او لومړي وزیر ترمینځ یې د قدرت وېش عملي کړ. پاچا د ټولو په پرتله د ډېر واک خاوند وو چې لومړی وزیر یې ګوماره، او لومړي وزیر پخپل وار نور وزیران پاچا ته د ګومارلو لپاره، وروپېژندل.[۴۸] ټول حکومت، د لومړي وزیر د نورو وزیرانو په شمول، د پاچا او ملي شورا په وړاندې مسوول شمېرل کیدل.[۴۹] پاچا د وسله والو ځواکونو سر قوماندان وو، د سولې او جګړې د اعلان واک یې درلود، د قوانینو او نړیوالو تړونونو او تقنیني فرمانونو د تأئید واک یې په لاس کې و.[۵۰] په همدې ډول پاچا لومړی وزیر او نور وزیران (د پارلمان د باور دراېو له اخیستلو وروسته) ټاکل، او د قاضي القضات او د سترې محکمې د غړو[۵۱] د ګومارلو، او د بښنې او عفوکولو صلاحیت یې په لاس کې و.[۵۲]

پارلمان دوه خونې یا جرګې درلودې: ټیټه خونه (ولسي جرګه) او سنا یا د اعیانو خونه (مشرانو جرګه).[۵۳] د ولسي جرګې غړي په مستقیمو ټاکنو کې ټاکل کېدل. د سنا (مشرانو جرګې) د غړو دریمه برخه په مستقیمه توګه د خلکو له خوا ټاکل کېده، یوه دریمه برخه غړي د ولایتي شورا ګانو، او پاتې یوه دریمه برخه د پاچا له خوا ګومارل کېدل.[۵۴] د مقننه څانګې په مسئولیتونو کې د قانون جوړونه، د نړیوالو تړونونو تائید، بهرنیو هېوادونو ته د پوځ استول او د حکومت د کړنو نظارت، شامل وو.[۵۵] په نوموړي اساسي قانون کې قضائیه قوه د دولت د جلا څانګې په توګه، چې مشري یې د سترې محکمې[۵۶] له خوا کېدله، و پېژندل شوه چې د هغو کسانو په اړه یې چې د دولت پرضد وو، د پرېکړې کولو لوړ صلاحیت په غاړه لاره.

همدا ډول چې اساسي قانون د نسبي خپلواکۍ درلودونکې څانګې جوړې کړې، د چک او بیلانس معاصر سیستم یې هم رامینځ ته کړ. وزیران د **ملي شورا** په وړاندې مسوول وو، چې کولای یې شو وزیران، صدراعظم او ټول حکومت تر تحقیق او پوښتنې لاندې ونیسي.[۵۷] ملي شورا د نه باور له لارې د حکومت د انحلال صلاحیت درلود. د وزیرانو ګومارل او د هغوی د پالیسیو تأئید په ولسي جرګې پورې اړه لرله چې د حکومت د کړنو د نظارت واک یې هم درلود.[۵۸] پاچا د دولت د مشر په څېر د پارلمان د انحلال صلاحیت درلود، او اجرائیه څانګې کولای شي ملي شورا ته قوانین د تصویب لپاره وړاندې کړي.[۵۹]

۴۷ اهلر، د اساسي قانون لیاره یوه سریزه، ۲۱۲- ۲۱۳.
۴۸ د افغانستان اساسي قانون (رسمي جریده، ۱۲ مه شمیره)، ۱۹۲۴(لمریز ۱۳۴۳ کال)، ۸۹ ماده.
۴۹ د افغانستان اساسي قانون، ۱۹۲۴، ۹۲ ماده.
۵۰ د افغانستان اساسي قانون، ۱۹۲۴، ۹ مه ماده.
۵۱ د افغانستان اساسي قانون ۱۹۲۴، ۱۰۵ مه ماده.
۵۲ د افغانستان اساسي قانون ۱۹۲۴، ۹ مه ماده.
۵۳ د افغانستان اساسي قانون ۱۹۲۴، ۴۲مه ماده.
۵۴ د افغانستان اساسي قانون ۱۹۲۴، ۴۵ مه ماده.
۵۵ د افغانستان اساسي قانون ۱۹۲۴، ۴۲ مه ماده.
۵۶ د افغانستان اساسي قانون ۱۹۲۴، ۹۷ مه ماده.
۵۷ د افغانستان اساسي قانون ۱۹۲۴، ۲۵ – ۲۷ مه ماده.
۵۸ د افغانستان اساسي قانون ۱۹۲۴، ۸۹ مه ماده.
۵۹ د افغانستان اساسي قانون ۱۹۲۴، ۸۹ مه ماده.

## ۵.۳.۳ د ۱۹۲۴ کال د اساسي قانون مشروعيت

د ۱۹۲۴ کال اساسي قانون پخپل وخت کې په اسلامي نړۍ کې د ډېر مترقی قانون په توګه پېژندل کېده، ځکه چې قدرت يې د مختلفو څانګو ترمينځ وېشلی، او اريستوکراتيک نظام يې په دموکراتيک نظام تبديل کړی و. د پاچا واک د ليدو وړ په کچه لږ شوی و او د خلکو په لاس کې د سياسي واک د رسېدلو لپاره واقعي هڅې روانې وې. د پاچا د کورنۍ غړو اجازه نه لرله چې په حکومت کې ګډون وکړي. په هرصورت، ملی شورا په ټولیزه توګه، حکومتونو ته د رای ورکولو څخه پرته- په نهو کلونو کې افغانستان پنځه حکومتونه درلودل- بې اغېزې وه. په دې ډول، د موکراسۍ ته د يوې ماتېدونکې او ټوټې شوې ټولنې لېږد ډېرې مودې ته اړتيا لرله چې پياوړې شي.[۲۰]

## ۵.۴ د ۱۹۷۷ کال په اساسي قانون کې اجرائيه څانګه

په ۱۹۷۳ کال کې، ظاهرشاه د هغه د اوښي سردار محمد داود خان له خوا د يوې سپينې کودتا په پايله کې له واک څخه راوپرزول شو. داود خان چې دمارکسيستو عناصرو له خوا يې ملاتړ کېده، يو نوی اساسي قانون جوړکړ چې په هغه کې د زمکو اصلاحاتو، د ښځو برابرو حقونو، او نړيوالو حقوقو ته ځای ورکړ شوی وو. اساسي قانون د ۱۹۷۷ کال په لويه جرګه کې ؤمنل شو، خو هيڅکله عملي نه شو ځکه چې پخپله داود خان د ۱۹۷۸ کال د اپريل په خونړۍ کودتا کې له منځه لاړ.

د ۱۹۷۷ کال اساسي قانون يو ګونديز رياستي سيستم رامينځ ته کړی و. نوموړي اساسي قانون د دولت عمده دندې درې څانګو – اجرائيه، مقننه (ملی جرګه يا ملي شورا)، او قضائيه – ته ويشلي وې. ملی شورا له يوی خونې څخه جوړه وه چې غړي ئې د **انقلابي ګوند** له خوا نوماند کېدل، او د خلکو له خوا د څلورو کلونو لپاره ټاکل کېدل. د ټاکل شوو غړو **۵۰** سلنه بايد کارګران او بزګران وای. د مقننه قوې صلاحيتونه د قانون جوړول، د نړيوالو تړونونو تأئيد، د بودجې تصويب او د حکومت د غړو ايسته کول وو[۲۱].

د افغانستان د نورو اساسي قوانينو پرخلاف چې د قواوو جلاوالی په کې شتون درلود، د ۱۹۷۷ کال اساسي قانون قضائيه قوه د دولت د خپلواکې څانګې په توګه تأسيس نه کړه. د سترې محکمې غړي د ولسمشر له خوا وګومارل شول او ستره محکمه يوازينی جوړښت و چې د اساسي قانون د تفسير صلاحيت يې درلود [۲۲].

د چک او بيلانس سيستم جوړ شو، او چېرته چې ولسمشر د پارلمان د انحلال او د قوانينو د لاسليک واک درلود، د څانګو ترمينځ همکاري موجوده وه. د حکومت غړي د ګومارلو په وخت کې د پارلمان له خوا د باور رايو ته اړ نه وو، او ملي شورا نشو کولای چې د هغوي موده پای ته ورسوي. د حکومت غړو د جمهور رئيس په وړاندې مسئوليت درلود.

اساسي قانون، ولسمشر د دولت د مشر، د حکومت د مشر، او د سياسي ګوند د مشر په توګه پېژندلی وو. ولسمشر د ګوند له خوا نوماند او د عالي غونډې يا لويې جرګې له خوا د شپږو کلونو لپاره ټاکل کېده.[۲۳]

د اعلی قوماندان په توګه، ولسمشر دنده لرله چې ملي يووالي ته وده ورکړي او د عامه ګټو ملاتړ ترسره کړي. د ولسمشر نورې دندې او صلاحيتونه د لويې جرګې رابلل، د ملي شورا انحلال، د نوو ټولټاکنو په هکله پريکړه کول، د ملي او نړيوالې پاليسيو لارښوونه او همغږي، د ولسمشر د مرستيال، وزيرانو، د سترې محکمې، سفيرانو، په نړيوالو ټولنوکې د افغانستان د دايمي استازو، او قاضيانو ګومارل ګڼل کېدل. سربېره پردې، ولسمشر د قوانينو د توشيح، د بښنې د اعطاکولو، د اعلاميو د ورکولو، او د سولې، جګړې او بيړنې حالت د اعلانونو واک درلود. [۲۴]

د ۱۹۷۷ کال اساسي قانون داسې واحد اجرائيوي سيستم رامينځ ته کړ چې **اجرائيه څانګه** د دولت د لوړ اداري ارګان په توګه وپيژندل شو. حکومت له ولسمشر، د ولسمشر مرستيال، او وزيرانو څخه جوړ وو چې د ولسمشر له خوا ئې لارښوونه کيدله. اجرائيه څانګې کولای شو

۲۰

۲۱ د افغانستان اساسي قانون، ۱۹۷۷ (لمريزکال ۱۳۵۵) ۴۹ مه، **۵۵** مه او ۷۲ مه ماده

۲۲ مشتاغي، د افغانستان اساسي قانون، ۱۸.

۲۳ د افغانستان اساسي قانون، ۱۹۷۷، ۷۵- ۷۲ ماده.

۲۴ د افغانستان اساسي قانون، ۱۹۷۷ ۷۸ ماده.

چې مقررې او قوانین او له نړیوالو موسسو او نورو هیوادونو سره تړونونه لاسلیک کړي. [۶۵]

## ۵.۵ د ۱۹۸۰ کال په اساسي قانون کې اجرائیه څانګه

هغه کودتا چې د نور محمد تره کی په مشرۍ ترسره شوه په افغانستان کې یې دخلکو دموکراتیک جمهوریت واک ته ورساوه. په ۱۹۷۸ کال کې، تره کې یو نوی یوګوندیز کمونیست حکومت جوړکړ چې د شوروی سیستم د حکومت کاپي کول ګڼل کېدل. تره کې د ۱۹۷۷ کال اساسي قانون لغوکړ او واک یې انقلابی شورا ته ولېږداوه چې پخپله یې دهغه ریاست په غاړه درلود. په هرصورت، په ۱۹۷۹ کال کې شوروی اتحاد پر افغانستان باندی یرغل وکړ او ببرک کارمل یې د جمهور رئیس په توګه وګوماره. په ۱۹۸۰ کال کې انقلابي شورا یو موقتي اساسي قانون تصویب کړ چې اسلام ته یې په ځینی مواردو کې درناوی کاوه، خو شوروي ډوله سمونې یې وکارولې.

د ۱۹۸۰ کال اساسي قانون یوه انقلابی شورا رامینځ ته کړه چې د دولت د لوړ ځواک په توګه یې دنده ترسره کوله. د انقلابي شورا غړي د جمهوري ریاست د یوه هیأت له خوا ټاکل کېدل، او شورا د مقننه قوې په توګه دنده اجراء کوله. د انقلابي شورا په صلاحیتونو کې د قوانینو، تقنینی فرمانونو او د حکومت د پرمختیایې پلانونو تأئید، د جمهوری ریاست شورا د سترې محکمې او کوزو محکمو د غړو، د حکومت او د وزیرانو شورا د غړو ګومارل او د وزیرانو ګوښه کول او د هغوپرځای د نورو وزیرانو ګومارل او په وزارتونو کې د نوو څانګو جوړول، شامل دي. [۶۶] ستره محکمه د دولت لوړپوړې قضایي اداره وه چې په منظمه توګه یې انقلابي شورا ته ریپوټ ورکاوه. [۶۷]

د ۱۹۸۰ کال اساسي قانون جمهوری ریاست ته د قوانینو د تفسیر، د قوانینو او فرمانونو د پلي کولو څارنې، د بښنې د اعطاء کولو او د اعزاز د صادرولو، د وسله والو ځواکونو د لوړ پوړو چارواکو د ګومارلو د تأئید او د دایمی استازو د ټاکلو، او د جګړې او بیړنې حالت د اعلانونو واک ورکړی و. [۶۸]

د اساسي قانون **۴۲** مه ماده دوه ګوني اجرائیه سیستم چې لومړی وزیر یې د حکومت مشروو، تصریح کړې وو. د وزیرانو شورا د دولت د عالي اجرائیوي ارګان په توګه ګڼل کېده.

سیمه ایزه اجرائیوی کمېټې د دولت د قدرت د پلي کولو لپاره جوړې شوي وي. د سیمه ایزو کمیټو په صلاحیتونو کې د قوانینو، فرمانونو تطبیق، د لوړ پوړو مامورینو په اړه تائید او پرېکړې، د امنیتي اقدامونو پلي کول د وطنوالو د حقونو او آزادیو تأمینول، د ټولنیزو، اقتصادي او فرهنګي انکشافي پروګرامونو پلي کول او د هغو ادارو او موسسو د همغږۍ لار ښوونه چې د دوی ترصلاحیت لاندې کارکوي، شامل دي. [۶۹]

## ۵.۶ د ۱۹۸۷ کال په اساسي قانون کې اجرائیه څانګه

د ۱۹۸۷ په جنوري کې، ډاکتر نجیب الله په افغانستان کې د ملي مصالحې لپاره یو کمیسیون جوړکړ. ډاکتر نجیب الله د کمیسیون په پرانیستونکې وینا کې د نوي اساسي قانون د جوړولو او تسوید غوښتنه وکړه [۷۰] په دغه اساسي قانون کې د خلکو لپاره داسې سیستم رامینځته شو چې په لویه جرګه او پارلمان کې د غیر مستقیمو رایو له لیاری استازیتوب وکړي. [۷۱] هغه سیستم چې د اساسي قانون له خوا وړاندې شوی و د دوديز کمونیستي سیستم پرځای ئې د دموکراتیک او لیبرال سیستم بڼه درلودله. خلکو د ولایتی شورا ګانو او لویې جرګې غړي انتخاب کړل. لویې جرګې ولسمشر د رایو په اکثریت وټاکه. [۷۲] حکومت د ملي شورا په وړاندې مسوول و. د حکومت غړې په ګومارېدلو او پالیسیو کې د باور د رایو تابع وو، او ملی شورا دا صلاحیت درلود چې د نه باور د رایو له لارې حکومت ګوښه کړي. سربېره

---

۶۵ د افغانستان اساسي قانون، ۱۹۸۰، ۳۶ – ۳۷ ماده.
۶۶ د افغانستان اساسی قانون، ۱۹۸۰، ۳۶ – ۳۷ مه ماده.
۶۷ د افغانستان اساسي قانون، ۱۹۸۰، **۵۵** مه ماده.
۶۸ د افغانستان اساسي قانون، ۱۹۸۰، **۴۳** مه ماده
۶۹ د افغانستان اساسي قانون، ۱۹۸۰، **۵۲** مه ماده.
۷۰ طرزي، امین، «په افغانستان کې اسلام او اساسي قوانین» (کوانیتکو: د مارین کارپس پوهنتون: د پرسیانیت د مطالعاتو ژورنال، ۲۰۱۲)، ۲۲۹.
۷۱ د افغانستان اساسي قانون، ۱۹۸۷، (۱۳۶۶)، لومړی ماده.
۷۲ د افغانستان اساسي قانون ، ۱۹۸۷، ۷۲ مه ماده.

پردې، ملي شورا کولای شو د حکومت غړي له پوښتنې لاندې ونیسي، او وزارتي اداري رامینځته کړي، او یا یې لغو کړي.[۷۳] جمهور رئیس کولای شو چې د ملي شورا له رئیس، د سنا له رئیس، لوی څارنوال او قاضي القضات سره له مشورې وروسته، پارلمان منحل کړي.[۷۴]

ولسمشر د لویې جرګې د رایو په اکثریت د اووکلونو لپاره ټاکل کېده او یوازې د دوو پر له پسې دورو لپاره یې د ولسمشرې دنده ترسره کوله. ولسمشر د خپلو مرستیالانو ګومارل د تأئید لپاره ولسي جرګې ته وړاندېزکول. مرستیالانو له ولسمشر سره مرسته کوله او کله چې ولسمشر د دندې د ترسراوې وسه نه لرله، د هغه مسوولیتونه یې په غاړه اخیستل او د ولسمشر د مړینې په صورت کې یې د لویې جرګې د رابللو مسوولیت په غاړه درلود. ولسمشر د وسله وال پوځ اعلی سرقوماندان ګڼل کېده. د ولسمشر په صلاحیتونو او دندو کې د پارلمان له خوا د تصویب شوو قوانینو توشیح، د صدراعظم ټاکل، بهرنیو هېوادونو او نړیوالو ټولنو ته د استازو پېژندګلوي، د لوی څارنوال او د اساسي قانون د شورا د غړو ټاکل، شامل وو. سربېره پردې، جمهور رئیس د وزیرانو د شورا د غړو ګومارل تأئیدول او په افغانستان کې یې د بهرنیو هېوادونو د دیپلوماتونو د رئیسانو د باور لیک منل په غاړه و، او د لویې جرګې له تأئید وروسته یې د سولې او جګړې اعلان کاوه.[۷۵] د ۱۹۸۷ کال قانون د دولت دندې په درې څانګو وېشلي وې: اجرائیه، مقننه (پارلمان) او قضائیه (د سترې محکمې تر مشرتابه لاندې). مقننه قوه دوه خونې لرلې، ملي شورا (ولسي جرګه) او سنا (مشرانو جرګه). د ملي شورا غړي په مستقیمه توګه د خلکو له خوا ټاکل کېدل. مقننه څانګه د قوانینو د جوړولو او تأئید او نړیوالو تړونونو، او د حکومت د څارنې دنده پرغاړه لرله.[۷۶] قضائیه څانګې د قوانینو پربنسټ د دوسیو د څېړلو مسئولیت پرغاړه درلود. د قضائیه مشرتوب د سترې محکمې په غاړه و، چې د نورو محکمو د چارو څارنه یې کوله. د سترې محکمې غړي د ولسمشر له خوا د شپږوکلونو لپاره ټاکل کېدل.[۷۷]

د وزیرانو شورا تر ټولو لوړ اجرائیوي ارګان و چې لومړي وزیر، د هغه مرستیالان او د مرکزي څانګو رئیسان په کې شامل وو. د اساسي قانون شورا له اساسي قانون سره د وړاندېز شوو قوانینو د تطابق په اړه جمهوررئیس ته رپوټ ورکاوه. دغه قانون په ۱۹۹۰ کال کې د ځینو وړو بدلونونو سره تعدیل شو او تر ډېرې کچې د ۱۹۲۴او ۱۹۷۷ کلونو د اساسي قوانینو په څېر و.

د ۱۹۸۷ کال اساسي قانون د حکومت یو دموکراتیک سیستم، ملي حاکمیت، او د قواوو جلاوالی رامینځ ته کړ. اساسي قانون د هرې څانګې مسوولیتونه او دندې تشخیص کړې او له روښتیا ښخه ډک او وړ جوړښت یې درلود. په هرحال، حکومت ددې وړتیا نه درلوده چې په نوي رژیم باندې د مخالفو ډلو له خوا د حملو له کبله د خلکو عمومي ملاتړ او باور ترلاسه کړي. ټولې کلیوالې سیمې وسلوالې شوې او د حکومت په مقابل کې ودرېدې.[۷۸]

---

۷۳ د افغانستان اساسي قانون، ۱۹۸۷، ۸۲ مه ماده.

۷۴ د افغانستان اساسي قانون، ۱۹۸۷، ۹۷ مه ماده.

۷۵ د افغانستان اساسي قانون ۱۹۸۷، ۷۲، ۷۵او ۷۶ مادې.

۷۶ د افغانستان اساسي قانون، ۷۸، ۷۹او ۸۱ مه ماده

۷۷ د افغانستان اساسي قانون، ۱۹۸۷، ۱۰۹- ۱۱۱ ماده.

۷۸ دانش، «د افغانستان د اساسي قوانینو مجموعه»، ۲۴۹.

## ۵.۷ په افغانستان کې د اجرائیه څانګې په هکله تاریخي درسونه زده کړه

- افغانستان څو توکمیزه هېواد دی او تمه کیږي چې دا تنوع په دولتي ادارو کې انعکاس ومومي.
- د افغانستان د اساسي قوانینو په تاریخ کې داسې سیستم چې په هغه کې یو سړی ټول واک په لاس کې ولري، کار نه ورکوي؛ د تاوتریخوالی لپاره شرایط چمتو کوي او د بهرنیانو مداخلې ته لار پرانیزي.
- د روڼ چک او بیلانس له لیارې د قواوو تفکیک، او د قدرت د لېږد لپاره د یوه شفاف سیستم شتون – د یوه قوي او غښتلي حکومت لپاره لومړنی شرط ګڼل کیږي.
- د قواوو بشپړ جلاوالی، هغه چې اجرائیه څانګه د پارلمان په وړاندې مسوولیت نه درلود، د خلکو لپاره یې پوره استازیتوب امکانات نه برابرول، او اریستوکراسۍ یې رامینځ ته کوله. د ډېر اغېزمنتوب لپاره ښه خبره دا وه چې یوې ادارې شتون درلودلای چې د اجرائیه څانګې فعالیت یې ترڅارنې لاندې نیولی وای او ددې توان یې درلودای چې حکومت د غیر قانوني اجرااتو له کبله ګوښه کړي.
- په افغانستان کې، دوه ګونی اجرائیوی سیستم، هغه چې دواړه اجرائیوي ادارې په قدرت کې ګډون ولري، ښه پایله نه لري، او د اوږدې مودې لپاره نه پاته کیږي.
- له یو څو بیلګو پرته چې اجرائیه مشران د خپلو سیاسي ګوندونو لاربښوونه کوي، نور ټول اجرائیه مشران د سیاسي ګوندونو د سیستم له لارې واک ته رسېدلي نه دي. سربېره پردې، په هغو مواردو کې چې د اجرائیه څانګې رئیسان په عین حال کې د ګوند لاربښوونکي هم وو ( د بیلګې په توګه د کمونیستانو دوره)، پایلې یې د هېواد لپاره له مصیبت څخه ډکې وې، او د سیاسي ګوندونو له عمومي بې باوری سره یې مرسته وکړه.

# ۲. د ۲۰۰۴ کال په اساسي قانون کې اجرائیوی څانګه

د افغانستان د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون په هکله، چې د اوسني حکومت قانوني چوکات جوړوي، د طالبانو له راپرځېدلو وروسته فکر وشو، او د هېواد د تاریخ په یوه آزمایښتي وخت کې جوړشو. افغانستان د لسیزو جګړو مصیبت زغملی دی. دغو جګړو د شوروي له خوا د ملاتړ شوو رژیمونو پرضد مقاومت څخه رانیولې بیا د انارشۍ او وینو بهیدلو تر مودې پورې چې په پای کې وروستی برید د طالبانو د راپرځولو سبب شو، دوام موندلی دی. [79] د کړکیچ او شخړو د غو کلونو هېواد په ډېرو سیمه ییزو، قومي، پوځي، سیاسي او شخصي ډلو وېشلي دی. په داسې شرایطو کې، لازمه وه چې سیاسي سیستم وېشل شوي خلک یووالی ته را بللي وای. [80]

## ۲.۱ د بن تړون او د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون

د طالبانو سقوط په افغانستان کې د قدرت تشه (خلاء) رامینځ ته کړه. ددې تشې د ډکولو لپاره ډېر وتلي افغانان د ملګرو ملتونو تر ملاتړ لاندې د جرمني په بن کې سره را ټول شول چې نوی دولت د دموکراتیکو اصولو پراساس جوړکړي. د بن تړون چې د ۲۰۰۱ کال په دسمبر کې لاسلیک شو، د نوي حکومت د جوړولو لپاره د درې مرحلو د بهیر اټکل کړی و:

- لومړۍ مرحله د شپږومیاشتو لنډ مهاله اداره وه، چې د حامد کرزي په ریاست د ۱۹۲۴ کال د اساسي قانون د تعدیل شوي متن پراساس یې باید کارکړي وای.
- دوهمه مرحله یوه انتقالي اداره وه چې د ۲۰۰۲ کال په جون کې د اضطراري لویې جرګې له خوا ییل شوه او حامد کرزی یې د جمهور رئیس په توګه و ټاکه. د انتقالي اداري لومړنی دنده د لویې جرګې له خوا د نوي اساسي قانون تسوید او تأئید وو؛ د بن د تړون له خوا د دې کار لپاره ۱۸ میاشتې ټاکل شوي وې.
- دریمه او وروستۍ مرحله هغه موده وه چې د ۲۰۰۴ کال په جنوری کې د نوي اساسي قانون د تأئید او د ۲۰۰۴ کال په اکتوبر کې د ملي ټاکنو ترمینځ واقع شوې وه. اساسی قانون د بن د کنفرانس له خوا په ټاکل شوې موده کې جوړشو، خو ټاکنې د ۲۰۰۴ کال د جون له میاشتې څخه د اکتوبر ترمیاشتې پورې وځنډېدلې. د ټاکنو په پایله کې حامد کرزي په افغانستان کې د لومړي ټاکل شوي جمهور رئیس په توګه و پېژندل شو.

### ۲.۱.۱ د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون محتوا

د طالبانو له را پرځېدلو سره سم، افغانستان په نا څاپه توګه د حکومت د بیا جوړولو له دندې سره مخامخ شو. طالبانو اساساً د فرمانونو له لارې حکومت کاوه، چې په عامه ځایونو کې تأئید او خپاره شوي وو. قانوني سیستم، د اسلامي قانون د بنسټیز تفسیر پراساس ولاړ و. هغه کسان چې د قانون په سرغړاوي تورن وو د طالبانو له خوا په جوړه شوي محکمه کې محاکمه کېدل (چې جریان یې ډېر لږ علنی و)، او مجازات پرته له دې چې د تجدید نظر حق وجود ولري په بېړه عملي کېدل. په دې توګه، انتقالي ادارې ته د اساسي قانون پراساس ولاړ حکومت جوړول په داسې یوه هېواد کې وسپارل شو چې نه یوازې د دموکراسي قوي تاریخ یې نه درلود، بلکې په عین حال کې د خپل تاریخ له ډېر کړکېچن او سخت حالت څخه راوتلی و.

ځکه چې په هغو هېوادوکې چې له داخلي جګړې او یاغیتوب [81] څخه راوتلي وي، د اداري بیا جوړونه ستونزمنه دنده برېښي، نو له جګړې وروسته حکومتونه باید هرومرو له قانوني او ولسي ملاتړ څخه برخمن وي. د قانونیت او مشروعیت د درلودلو لپاره، سیستم باید هرومرو داسې کړنې وکړي چې خلک احساس کړي چې غږ یې د پرېکړو د کولو په بهیر کې اورېدل کیږي. په یوه دموکراتیک سیستم کې، چې د قواوو روښانه جلاوالي، او مسوولیت وي، د ولسي جوړښتونو باور پراخیږي. [82] «په دې توګه، له جګړې وروسته دولتونه په

---

۷۹ پرال، ورنر، «له جګړې وروسته ټولنې د دموکراسۍ وده» (سانکت اوګوستون: د کانداد او ناور بنیاد، ۲۰۰۴)، ۲.

۸۰ د اساسي قانون د بیا کتنې د کمیسیون سکرتریت، «د نوي اساسي قانون لپاره د خلکو د نظریو او وړاندیز تحلیل ریپورټ» (کابل: د اساسي قانون د بیا کتنې د کمیسیون سکرتریت، ۲۰۰۴)، ۲۴-۲۵.

۸۱ راندنیلي، دنیس ای؛ او نور «په جګړې وروسته ټولنو کې د عامه ادارو بیا جوړونه: د نړیوالو مرستو پایلې» (واشنګتن: USAID، ۲۰۰۲)، ۱.

۸۲ پرال، په جګړو وروسته ټولنو کې د دموکراسي وده، ۵.

معمول ډول د ولسمشر/ لومړی وزیر په ټاکلو کې خورا پاملرنه او احتیاط کوي او هغه/ هغې ته په اساسي قانون کې د روښانه او مفصلو احکامو د ځایولو له لارې، قدرت ورسپاري.»[۸۳]

## ۲.۱.۲ د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون تسوید او تأئید

هغه بهیر چې انتقالي اداري د نوي اساسی قانون د تسوید لپاره پیل کړی و او د نړیوالو تر ټینګ ملاتړ او څارنې لاندې ترسره شو – پراخ او بشپړ و او موخه یې د ټولو ونډه والو (شریکانو) د ګټو په پام کې نیولو سره ټاکل شوې وه. د قانون جوړونې بهیر درې مرحلې درلودې: (۱) یو نهه کسیز تخنیکی کمیسیون (نهه نارینه او دوه ښځې) ته دنده وسپارل شوه چې یوه مسوده جوړه کړي؛ (۲) نوموړې مسودې ته باید د بیا کتنې د یو لوی کمیسیون له خوا بیا کتنه شوې وای؛ او (۳) وروستنی مسوده باید د اساسي قانون د لویې جرګې له خوا تر بحث لاندې نیول شوې او تصویب شوې وای.[۸۴] دغه بهیر په دې موخه جوړشوی و چې ډاډ ترلاسه شي چې په شفافه او مشروعه توګه کتنه ورته کیږي. له محلي او بین المللي کارپوهانو سره د سلا مشورې او د عامه پوهاوي د لوړولو لپاره تیاري او چمتووالی نیول شوی و. داسې پرېکړه شوې وه چې د قانون مسوده مخکې له دې چې نهایي شي د عامه نظریو د راټولولو لپاره خپره شي. دا بهیر د انډول لرونکی و او د ټولو علاقه لرونکو ډلو لپاره یې دا فرصت برابر کړی و چې په بهیر کې یې ګډون وکړي او خبرې یې واورېدل شي.[۸۵]

### ۲.۱.۲.۱. د اساسي قانون د تسوید کمیسیون

په دویمه مرحله کې، د اساسي قانون د بیا کتنې کمیسیون (CRC) د جمهور ریاست له فرمان سره سم جوړ شو چې د مسودې په اړه بیا کتنه وکړي او خپلې نظریې وړاندې کړي. CRC له **۳۵** غړو څخه جوړ و، چې په هغو کې اوه ښځې او د CDC عمده غړي شامل وو. په غړو کې قانون پوهانو، کار پوهانو، سیاسیونو، اقتصاد پوهانو، دیني عالمانو او نورو شتون درلود.[۸۶] CSR ته هم دنده سپارل شوې وه چې د خلکو پوهاوي لوړ او د هغوی نظریې و ارزوي.

د دننیو بحثونو په بهیر کې، داسې مسئلې لکه ملي ژبه، ملي سرود، د حکومت بڼه، د اساسي قانون د محکمې جوړول او داسې نورې موضوعګانې تر بحث لاندې ونیول شوې، او د اصلي مسودې په متن کې ډېر تعدیلات رامنځته شول. دوه ډېرې غټې مسئلې د لومړي وزیر او د اساسي قانون د محکمې په هکله وې. د لومړي وزیر په اړه، عمومي هوکړه وه چې دغه مقام باید وي، په داسې حال کې چې د هغه / هغې د ټاکلو د بنې په اړه لوي توپیر موجود و. څلور مختلفې مسودې د بحث لپاره د جمهور رئیس دفتر ته وړاندې شوې. په هرصورت د جمهور رئیس او د حکومت عمده غړو د مقاومت په پایله کې دوه ګونی اجرائیوي سیستم ؤنه منل شو.[۸۷]

د بن تړون د ۲۰۰۲ کال له اګست میاشتې مخکې د تسوید د کمېټې جوړولو غوښتنه کړې وه؛ خو دا اقدام د څو میاشتولپاره وځنډېد. جمهور رئیس کرزي د اکتوبر په میاشت کې د **اساسي قانون د تسوید د نهه کسیز کمیسیون** (CDC) د جوړېدو فرمان صادر کړ، او کمیسیون په رسمي توګه د ۲۰۰۲ کال د نومبر په میاشت کې د پخواني پاچا ظاهر شاه له خوا پرانیستل شو.[۸۸] د نوموړي کمیسیون (CDC) ریاست د نعمت الله شهراني په غاړه و، چې د انتقالي حکومت د مرستیال په توګه یې دنده لرله. د کمیسیون نورغړي عبدالسلام عظیمي، محمد سرور دانش، قاسم فاضلي، رحیم شیرزوی، محمد موسی اصغری، موسی معروفي، آصفه کاکړ او مکرمه اکرمي وو. د CDC ټول غړي د کابل د پوهنتون د حقوقو یا شرعیاتو د پوهنځیو فارغین وو او ځینو یې په بهر کې عالي تحصیلات لرل.

### ۲.۱.۲.۲. د اساسي قانون د بیا کتنې کمیسیون

---

۸۳ دعامه نړیوال قانون او پالیسي ډله، له جګړې وروسته د اساسي قانون د تسوید کوونکو لپاره لاسي کتاب، **۲۴**.

۸۴ د نړیوال بحران ډله، «د افغانستان د اساسي قانون نیمګړی بهیر» (ICG آسیا ریپورټ، **۵۲** شمیره، د **۲۰۰۳** کال جون)، **۱۳**.

۸۵ د نړیوال بحران ډله، «د افغانستان د اساسي قانون نیمګړی بهیر،» **۱۳**.

۸۶ دانش، د افغانستان اساسي قانون، **۲۲۷**.

۸۷ دانش، د افغانستان اساسي قانون، **۲۹۳-۲۹۷**.

۸۸ د اساسي قانون د کمیسیون سکرتریت، «د افغانستان نوي اساسي قانون له مسودي څخه تر پیل پوری (پښتو متن)، لومړي ټوک» (کابل: د اساسي قانون د کمیسیون سکرتریت، **۲۰۰۴**)، **۲۳۵**.

د ريپوټونو په اساس CDC د خپل کار په پيل کولو کې ورو او پخه وه، او نږدې له پيل څخه ټوټه ټوټه شوې وه. د ډېرو وېشلو ستونزو په کتار کې د اجرائيه څانګې جوړښت او واک و. ځينو غړو له يو غښتلي او قوي رياستي سيستم څخه ملاتړ کاوه، په داسې حال کې چې نورو پارلماني يا مختلط سيستم خوښاوه. [89] CDC، د قانون له نورو افغاني کارپوهانو او د اساسي قوانينو نړيوالو متخصيصنو سره د غونډو له جوړولو وروسته، د قانون مسوده د ۲۰۰۳ کال د اپريل په مياشت کې، له اصلي تاريخ څخه دري مياشتي وروسته جمهور رئيس کرزي ته وړاندې کړه. نهايي مسودې ۱۲ څپرکي او ۱۷۲ مادې درلودې.[90] چې ډېرې برخې يې په مستقيمه توګه د ۱۹۶۴ کال له اساسي قانون څخه اخيستل شوې وې.

په دې دليل چې نيم ولسمشريزه سيستم به د دواړو پارلماني او ولسمشريزه سيستمونو ښه والي ولري، او په هېواد کې به تبريز انډول ته پام وساتي، CDC د سيالو ډلو په مينځ کې د روغې جوړې په موخه د اجرائيوی سيستم د دوه ګونې ډول وړانديز وکړ چې په هغه کې ولسمشر او لومړی وزير برخه ولري. [91] CDC د چک او انډول سيستم ته په پاملرنې سره چې وزيران د پارلمان د باور رايو ته اړتيا لري خو جمهور رئيس داسې رايو ته ضرورت نه لري، د پورتنې وړانديز منلو ته زړه ښه کړ. جمهوري رياست په هېواد کې د ترټولو لوړ مقام په توګه وړانديز شو، او نوماند اړ دي چې دې مقام ته د رسيدلو لپاره له ۵۰ سلنې څخه ډېرې رايې ترلاسه کړي. [92] جمهور رئيس وروسته اجازه لري لومړي وزير وټاکي. ضرور نه ده چې لومړی وزير د پارلمان په اکثريت ډلې پورې اړه ولري.

## ۲.۱.۲.۳. له عامه خلکو سره د سلا او مشورې موده

له عامه خلکو سره د مشورې نږدې دوه مياشتنۍ موده د ۲۰۰۳ کال په جون کې پيل شوه. د بن تړون اټکل داو چې د اساسي قانون مسوده بايد د بحث د آسانتيا لپاره ووېشل شي. خو په هرصورت د اساسي قانون هيڅ ډول مسوده عامه خلکو ته وړاندې نه شوه. ځينو کارپوهانو ددغه بهير د روڼتيا او مشروعيت په موخه د مسودې له خپريدو ملاتړ کاوه، خو ليد دا و چې کېدای شي بحث پاروونکې مسئلې د عصري سمونو او افغانې دوديزو ارزښتونو نازک انډول له خطر سره مخامخ کړي. داسې ژورو اندېښنو هم شتون درلود چې د مسودې عامول به د مشورې بهير د منظمو تنظيمونو او سياسي ډلو تر تسلط لاندې راولي چې ځينې يې لاتر اوسه وسلې په لاس کې درلودې، او دا ځواک ورسره و چې د نورو د ويرولو له لارې هغوی اړ کړي چې ځانګړې اجنداوې ومني. په پايله کې، عامه مشورې د عمومي اصولو په هکله د بحثونو له چوکاټ څخه بهر شوې. سره له دې، دا پېښه تاريخي وه، ځکه چې د افغانستان په تاريخ کې د لومړي ځل لپاره د اساسي قانون د تسويد لپاره د عامه خلکو نظرونو ته پاملرنه وشوه. CRC، و ګړو ته د رسېدلو په اړه د ليد وړ دنده ترسره کړله، په سلهاوو عامه غونډې يې جوړې کړي او د خلکو په لسهاوو زره نظريې يې راټولې کړې. ددې ستر کار د سرته رسولو لپاره، هېواد په لسو زونونو ووېشل شو، او د هر زون لپاره اختصاصی ډله وټاکل شوه. په وېشل شوو زونونوکې مرکزي، شمالی، ختيزې سويلي، لويديزې، شمال ختيزې، سويل لويديزې، او د کابل، پاکستان او ايران برخې شاملې وې. [93] په نوموړو زونونو کې ۵۵۵ عمومي غونډې جوړې شوې وې. [94]

د حکومت د بڼې په اړه د مشورې په مرحله که ډول ډول نظريې وړاندې شوې، خو په ټوليزه توګه عامه نظريو د اسلام د اصولو پراساس د يوه رياستي سيستم، ملاتړ وکړ. د بيلګې په ډول، له ختيزو ولاياتو څخه ډېرو استازو د يوه متمرکز رياستي سيستم پلوي وکړه چې پارلمان ولري – متمرکز سيستم ددې لپاره د هغوی له خوا غوره ګڼل کېده چې وېره وه، په غير متمرکز فدرال سيستم کې به سيمه ايز او تبريز تاوتريخوالی ډېر شي. له سويلي ولاياتو څخه ځينو استازو د مشروطه سلطنت ملاتړ کاوه په داسې حال کې چې ځينو نورو رياستي سيستم غوره ګاڼه. په شمالي ولايتونو په تېره مزار شريف کې د رياستی سيستم پلوي کېده، په داسې حال کې چې په نورو سيمو کې خلک يا د سلطنت او يا د پارلماني سيستم پلويان وو. د مرکزي ولايتونو خلکو د رياستي سيستم ملاتړ کاوه، او د لويديزو او سويل لويديزو ولايتونو ډلو متمرکز رياستي سيستم غوره ګاڼه، او په دې باور وو چې فدرالي حکومت د بې ثباتۍ لاملونه برابروي او د افغانستان د وېشلو او تجزيې امکانات رامينځ ته کوي. [95]

---

۸۹ دانش، د افغانستان اساسي قانون، ۲۸۱.

۹۰ د اساسي قانون د کميسيون سکرتريت، «د افغانستان نوي اساسي قانون» ۲۴۵.

۹۱ روبين، برنيت آر.، «د افغانستان لپاره د اساسي قانون جوړول،» د دموکراسي ژورنال. ۱۵ټوک. دريمه شميره، (۲۰۰۴)، ۱۱.

۹۲ دانش، د افغانستان اساسي قانون، ۲۸۱-۲۸۴.

۹۳ د اساسي قانون د کميسيون سکرتريت، د **افغانستان نوي اساسي قانون**، ۳۸۷-۳۹۱

۹۴ د اساسي قانون د کميسيون سکرتريت، د **افغانستان نوي اساسي قانون**، ۵۰۰

۹۵ د اساسي قانون د کميسيون سکرتريت، د **افغانستان نوي اساسي قانون، ۴۰۲، ۴۱۲، ۴۲۲، ۴۳۲، ۴۴۱، ۴۵۵، ۵۰۴.**

ددې ترڅنګ چې په هېواد کې عمومي غونډې او بحثونه جوړشول، د اساسي قانون نوی سیستم په رسنیو کې د پراخ بحث موضوع هم وه. د **انیس** ملي ورځپاڼې په ډاګه کړه چې « زموږ د هېواد لپاره چې د لسیزو جګړو موده یې تېره کړې ده، تر ټولو غوره نظام د ولسمشرۍ سیستم دی»[۹۶] له بلې خوا، **د کابل اوونیزې** د پخواني ولسمشر برهان الدین رباني دا نظر څرګند کړ چې « ریاستي سیستم په افغانستان کې کار نه ورکوي ځکه چې دا سیستم په دیکتاتورۍ بدلیږي» [۹۷].

په افغانستان کې د ریاستي سیستم په اړه د پخواني مالیې وزیر اشرف غني د نظریو په اړه، **انیس** ولیکل چې « د افغانستان خلک د یوه ټینګ او ځواب ورکوونکي حکومت غوښتونکي دي چې ددې وړتیا ولري چې د هېواد اوسنۍ اړتیاوې پوره کړي. په دې توګه، که موږ مرکزی قدرت ځ نلرو، موږ به ددې وړتیا پیدا نه کړو چې د قوي او غښتلي حکومت څښتن شو» ښاغلي غني په عین حال کې څرګنده کړه هغه واک چې د اساسي قانون د مسودې پراساس جمهور رئیس ته ورکړ شوی دی په حقیقت کې د ټول حکومت صلاحیت ګڼل کیږي، او باید د یوه شخص د واک په ډول ونه پېژندل شي.[۹۸]

د نظر هغه یووالی چې د نوي اساسي قانون په اړه د خلکو په نظریو کې څرګند شو دا و، چې: دداسې یو حکومت پلوي کوي چې نیغ په نیغه د خلکو له خوا ټاکل شوی وي او په اجرائیه څانګې باندې ټینګ کنټرول ولري. وړاندیزونو هم د جمهور رئیس لپاره د ښو ځانګړتیاوو غوښتنه کړې وه: هغه ( جمهور رئیس) باید افغان، د حنفی مذهب پیرو مسلمان، له څلوېښت کلونو څخه د ډېر عمر خاوند وي او د اسلامي ارشاداتو او کړنو پراساس حکومت وکړي او جنایي دوسیه و نه لري.[۹۹]

CRC خپله مسوده د ۲۰۰۳ کال د سپتمبر په میاشت کې جمهور رئیس کرزي ته وړاندې کړه. په مسوده کې د ډېرو پیژندل شوو حقوق پوهانو او د اساسي قوانینو پوهانو لکه د فرانسې ګای کارکاسوني، د کینیا یاش پال غاي او د متحده ایالاتو برنیټ روبین، نظریو انعکاس موندلی و. له انتقالي ادارې سره پاموړ مشورې هم ترسره شوې وې.

## ۲.۱.۲.۴. د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون تصویب

د اساسي قانون لویې جرګې لومړی ځل د ۲۰۰۳ کال د دسمبر په ۱۳ مه، د جمهوری ریاست له فرمان څخه وروسته، غونډه وکړه[۱۰۰] په جرګې کې د ټولو غړو د شمېر **۵۰۲** کسان وو، چې په هغو کې غوڅ اکثریت ( نږدې **۴۵۰** غړي ) په مستقیمه توګه د **بیړنۍ لویې جرګې** د پخوانیو هغو غړو له خوا غوره شول، چې هغوی پخپله د یوه دوه‌ډیز مکانیزم پراساس د هېواد په ولسوالیو کې ټاکل شوي وو. **۵۳** غړي د جمهور رئیس له خوا ګومارل شوي وو. او ۱۰۰ تنه ( نږدې ۲۰ سلنه ) ښځې وې.[۱۰۱] د **۲۰۰۴** کال په نهایي شوي اساسي قانون کې ډېرې مادې د **۱۹۲۴** کال له اساسي قانون څخه اخیستل شوې وې. په هرحال، نوموړې ټکې ته د رسېدلو لپاره، د ښځو د حقونو، د بشري حقونو، د جمهور رئیس د مرستیالانو د شمېر، او د رسمي ژبو د شمېر په اړه د ښکیلو ډلو تر منځ تاوده بحثونه ترسره شول. د اریانتیا خبره نه ده، چې د اجرائیه څانګې د جوړښت او ونډې په هکله هم تاوده بحثونه وشول. انتقالي ادارې د جمهور رئیس تر مشرۍ لاندې، چې د کابینې کنټرول یې په لاس کې وي د ټینګ مرکزي حکومت په جوړولو باندې، ټینګار وکړ. د قومي لږه کیو ( اقلیتونو ) د ډلو ځینو غړو د پارلماني سیستم په ګټه خبرې کولې چې د حکومت د جوړولو لپاره یې د مختلفو ګوندونو او علاقه لرونکو ډلو ترمینځ د همکارۍ غوښتنه کوله؛ دې ډلې د داسې حکومت وړاندیز کاوه چې د ډلو د رهبرانو، د ځانګړو ګټو د ډلو او یا حتی جنایتکارو عناصرو له خوا اداره شي.[۱۰۲]

په پای کې، د اساسي قانون لویې جرګې پرېکړه وکړه چې پوره ریاستي سیستم جوړشي. پارلماني ډوله حکومت، لږ ترلږه، په دې دلیل رد شو چې په افغانستان کې داسې ملکي قومي سیاسي ګوندونه نشته چې ددې سیستم دکارورکولو لپاره ضروري بریښي. د **۲۰۰۴** کال د اساسي قانون پراساس، دولت په اجرائیه، مقننه او قضائیه څانګو وېشل شوی ده، او جمهور رئیس د دولت د درې څانګو لاربښوونه

۹۶ د اساسي قانون د کمیسیون سکرتریت، د **افغانستان نوي اساسي قانون** ، **۵۲۲- ۵۲۷**

۹۷ د اساسي قانون د کمیسیون سکرتریت، د **افغانستان نوي اساسي قانون، ۵۲۷.**

۹۸ د اساسي قانون د کمیسیون سکرتریت، د **افغانستان نوي اساسي قانون،۵۲۷.**

۹۹ د اساسي قانون د کمیسیون سکرتریت، د **افغانستان نوي اساسي قانون، ۲۴.**

۱۰۰ دانش، د افغانستان اساسي قانون، **۲۹۷.**

۱۰۱ دانش، د افغانستان اساسي قانون، **۳۰۱.**

۱۰۲ روبین، « د افغانستان لپاره د اساسي قانون جوړول، » ۱۲.

په غاړه لري.[۱۰۳] نوی اساسي قانون نږدې د رایو په اتفاق د لویې جرګې له خوا د ۲۰۰۴ کال د جنوری په ۴ مه تصویب شو، او د ۲۰۰۴ کال د جنوري په ۲۲ مه جمهور رئیس کرزي لاسلیک کړ.[۱۰۴] د لویې جرګې د تړلو په مراسمو کې جمهور رئیس کرزي وویل چې نوې اساسي قانون، مرکزي قوی اداره، او اسلامي قانوني سیستم چې د سترې محکمې له خوا یې ملاتړ کیږي او د قضائیه بیا کتنې قدرت یې په لاس کې دی، د افغانستان اړتیاوې پوره کوي.[۱۰۵]

## ۲.۲ د ۲۰۰۴ کال په اساسي قانون کې د حکومت جوړښت

د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون د ریاستی سیستم غوښتونکی دی، چې په ټولیز ډول تر جګړې وروسته هېوادونو لپاره مناسب ګڼل کیږي، او د وګړیو د اکثریت له خوا د ثبات او امنیت د ټینګولو د وسیلې په توګه پېژندل شوی.[۱۰۶] د هغو عواملو ترمنځ چې د ثبات لپاره طرحه شوي دي یو هم د قواوو تفکیک دی، چې د جمهور رئیس د قدرت د چک کولو لپاره یوه وسیله ګڼل کیږي.[۱۰۷] نوي اساسي قانون په عین حال کې ټولو افغان ښاریانو ته د جنسیت یا ټبریز توپیر څخه پرته د رای ورکولو او نوماندېدلو د حق له لارې، مساوات او برابری ته وده ورکوي.[۱۰۸] څکه چې اساسي قانون هم د پارلمان د یوې خونې غړې د مستقیمو ټاکنو له لارې پوره کوي، ټولې ټوکمیزې ډلې کولای شي د پرېکړو کولو په بهیر کې ګډون ولري.[۱۰۹]

### ۲.۲.۱ اجرائیه څانګه

د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون ۶۰ مه ماده وایي: «جمهور رئیس د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت په سرکې دی چې خپل واکونه په اجرائیه، مقننه او قضائیه برخو کې ددې اساسي قانون له حکمونو سره سم عملي کوي». د جمهور رئیس د غیاب، استعفاء یا مړینې په حالاتو کې، د هغه یا هغې ځای د جمهور رئیس د لومړي مرستیال، او یا د لومړي مرستیال په غیاب کې د دوهم مرستیال له خوا د اساسي قانون له احکامو سره سم ډکیږي او دنده اجراء کوي.

د اساسي قانون ۶۴ مه ماده د جمهور رئیس صلاحیتونه توضیح کوي. د جمهور رئیس ځینی عمده واکونه دا دي:

- دملي شورا په تأئید د ملي پالیسي ټاکل؛
- د اساسي قانون د تطبیق څارنه؛
- د وسله والو قواوو د اعلی سرقوماندان په توګه د دندې اجراء کول؛
- د ملی شورا په تأئید د جګړې او سولې اعلانول؛
- د لویې جرګې رابلل؛
- د ملی شورا او مشرانوجرګې د غونډو پرانیستل؛
- د ولسي جرګې په تأئید د وزیرانو، لوی څارنوال، د مرکزي بانک د رئیس، د ملي امنیت د رئیس او نورو مامورینو ټاکل؛
- د ولسي جرګې په تأئید د قاضی القضات او د سترې محکمې د نورو قاضیانو ټاکل؛
- د سفیرانو ټاکل او په افغانستان کې د بهرنیو سیاسي استازو د باورلیک منل؛

۱۰۳ له کلیدي کارپوه سره مرکه# ۸ (MU، نارینه، کابل)
۱۰۴ له کلیدي کارپوه سره مرکه# ۸
۱۰۵ له کلیدي کارپوه سره مرکه# ۸
۱۰۶ پرال، له جګړې وروسته ټولنو کې د دموکراسي وده، ۲.
۱۰۷ مشتاغي، د افغانستان اساسي قانون، ۲۴.
۱۰۸ د افغانستان اساسي قانون، ۲۰۰۴ (لمریز کال ۱۳۸۲)، ۲۲ مه ماده.
۱۰۹ پرال، تر جګړې وروسته ټولنو کې د دموکراسي وده، ۷.

- د قوانینو او تقنیني فرمانونو توشیح کول؛
- د نړیوالو تړونونو لاسلیک کول؛
- ددې قانون پراساس د نورو صلاحیتونو او دندو پلي کول.

د جمهور رئیس دندې پراخې دي او له سیاسي، تقنیني، قضایي، اداري او تشریفاتي برخو څخه جوړې دي.[110] په هرصورت، ډېر اجرائیه واکونه په دې دلیل محدود دي چې باید هرومرو د تقنینیه څانگې تأئید او تصویب ترلاسه کړي. د **۲۰۰۴** کال اساسي قانون تصریح کوي چې جمهور رئیس د عمومي رایو په مطلق اکثریت (له **۵۰** سلنې څخه د ډېرو رایو) ټاکل کیږی.[111] چې په افغانستان کې د هغه لاس ته راوړل د قومي، سمیه ایزو او نورو ویشونکو عواملو له کبله ستونزمن بریښي.[112] په همدې اساس باور دا وو چې له بریالي نوماند څخه ددې غوښتنه چې د ټولو رایو له **۵۰** سلنې څخه ډېرې رایې ترلاسه کړي په دې مانا ده چې ولسمشر باید د خپل مشروعیت لپاره د ټولو قومي ډلو گټو ته پاملرنه وکړي.

## ۲.۲.۱.۱. کابینه

د نوي اساسي قانون پراساس، حکومت له وزیرانو څخه جوړدی چې د ولسمشر په مشرۍ خپلې دندې اجراء کوي.[113] **۷۱** مه ماده په روښانه توگه څرگندوي چې جمهور رئیس د کابینې رئیس او مشردي. جمهور رئیس وزیران گوماري. وزیران د پارلمان تصویب ته اړ گڼل کیږي.[114] اساسي قانون بشپړ ریاستي سیستم مني، خود پارلمان له خوا د څانگړو وزیرانو تأئید د پارلماني سیستم خصوصیت ده. د حکومت دندې هم په قانون کې وضاحت لري او په دې ډول دي:

۱. د اساسي قانون، نورو قوانینو، او د محکمو د نهایي احکامو عملی کول؛

۲. د خپلواکۍ ساتل، له زمکنۍ بشپړتیا څخه دفاع او په نړیواله ټولنه کې د افغانستان د حیثیت او گټو ساتل؛

۳. د عامه نظم او امن ټینگول او د هرراز اداري فساد له منځه وړل

۴. د بودیجې جوړول، د مالي وضعیت تنظیمول او د عامه شتمنۍ ساتل؛

۵. د ټولنیزو، فرهنگي، اقتصادي، او ټیکنالوژیکي پرمختیایي پروگرامونو طرحه او تطبیق؛

۶. ملي شورا ته د مالي کال په پای کې د سرته رسېدلو چارو او د نوي مالي کال د مهمو پروگرامونو په باب گزارش ورکول؛

۷. د هغو نورو دندو ترسره کول[115] چې ددې اساسي قانون او نورو قوانینو له مخې د حکومت له دندو څخه گڼل شوي دي.

## ۲.۲.۱.۲. د افغانستان د ۲۰۰۴ کال په اساسي قانون کې متمرکز سیستم

له جگړې وروسته هېوادونو کې، دا پرېکړه چې د دولت کوم ډول جوړښت مناسب دی چې د خلکو اړتیاوې پوره کړي، په ډېرو عواملو پورې اړه لري. په نوموړو عواملو کې د شخړو سببونه، دهېواد اوسنی وضعیت، بشري حقونه او نور مهم عوامل شامل دي. په هرحال، له جگړې څخه وروسته هېواد کې ډېره مهمه مسئله د فدرالي (غیرمتمرکز) سیستم، یا د یووالي (ناوېشلي) دولت، ټاکل دي.[116] په ناوېشلي (واحد) جوړښت کې د واک یوه واحده مرکزي سرچینه وي او اداره خپل صلاحیت د مرکزي حکومت له لارې تطبیقوي. سربېره

۱۱۰ رسولي، د افغانستان د اساسي قانون ارزونه او انتقاد، ۹۴.

۱۱۱ د افغانستان اساسي قانون، ۲۰۰۴، ۶۰ مه ماده.

۱۱۲ له کلیدی کار پوه سره مرکه# ۴، (DDM،نارینه، کابل).

۱۱۳ د افغانستان اساسي قانون، ۲۰۰۴، ۷۱ مه ماده.

۱۱۴ د افغانستان اساسي قانون، ۲۰۰۴، ۶۴ مه ماده.

۱۱۵ د افغانستان اساسي قانون، ۲۰۰۴، ۷۵ مه ماده.

۱۱۶ د نړیوال عامه قانون او پالیسي ډله، له جگړې وروسته اساسی قانون د تسوید کوونکو لپاره لاسي کتاب،۱۲.

پردې، سیاسي جوړښتونه هم خپل سیاسي صلاحیتونه له مرکزي حکومت څخه لاس ته راوړي. په فدرالي سیستم کې، صلاحیتونه او قدرت دمرکزي حکومت او ولایتي ادارو ترمینځ وېشل کیږي. د دغو دواړو سیستمونو ترمینځ، واحد او نه وېشلی سیستم له جګړې څخه وروسته هېوادونو لپاره عام منل شوی سیستم دی. له جګړې څخه وروسته ډېر هېوادونه دغه سیستم غوره ګڼي او واک د خپلو اړتیاوو د پوره کولو لپاره ورسپاري. [117]

د **۲۰۰۴** کال د اساسي قانون په لومړۍ ماده کې راغلي چې: «افغانستان، خپلواک، واحد او نه بېلېدونکی اسلامي جمهوري دولت دی.» دغه ماده په روښانه توګه وايي چې افغانستان یو واحد دولت دی، او دغه اصل د افغانستان په اساسي قانون کې خپل ځای لري. نوموړی اصل افغانستان یو بشپړ متمرکز سیستم شمېري، او فدرالیسم ردوي. ددې سیستم یوه ځانګړتیا په دې کې ده چې په هغه کې محلي حکومتونه او سیمه ایزې ادارې د بشپړ واک خاوندانې نه دي. محلي حکومتونه ددې واک نه لري چې قوانین او مقررات جوړکړي؛ ټول قوانین د مرکزي حکومت له خوا جوړیږي او محلي حکومتونو ته استول کیږي. له بلې خوا؛ په فدرالي سیستم کې، هره محلی حکومتي اداره د خپلواکۍ او خپل اختیاري یوه کچه په لاس کې لري. په دې سیستم کې، محلي حکومتونه کولای شي، لکه جرمني او متحده ایالاتو کې، قوانین او مقررات جوړ او تنفیذ کړي. [118] د مرکزي او محلي حکومتونو جوړښت او صلاحیتونه د افغانستان د **۲۰۰۴** کال د اساسي قانون په **۱۳۲ – ۱۴۲** مادو کې توضیح شوي دي.

د **۲۰۰۴** کال د اساسي قانون د تسوید په بهیر کې په دې اړه چې افغانستان د فدرالي او واحد سیستم ترمینځ، باید کوم یو غوره کړي، د لید وړ بحثونه وشول. د واحد مرکزي سیستم ملاتړو استدلال کاوه چې واحد جوړښت د افغانستان لپاره مناسب دی چې هېواد په پای کې، لویې جرګې د یو واحد، مرکزي حکومت سیستم د نوي اساسي قانون پربنسټ ومانه، داسې نظر هم و چې متمرکز حکومت لاندې ګټور توپیرونه لري: مملکت ټوټې ټوټې شوی، محلي ادارې کمزورې دي،او د کلیوالو سیمو په لویه برخه کې د حکومت پوره واک ټینګ نه دی، نو ځکه یوه قوي او غښتلي مرکزي حکومت ته اړتیا لیدل کیږي. له بلې خوا د فدرالي سیستم پلویانو دا دلیل وړاندې کاوه چې له دې کبله چې افغانستان څو ټبریزه هېواد دی او مختلفې سیمې د خپلواکۍ غوښتونکې دي، واحد مرکزي سیستم به دملي یووالي پرخلاف یو اقدام وي. [119]

- دا سیستم د پرېکړه کولو او متمرکز ځواک د درلودلو له پلوه اغېزمن جوړښت دی.
- نوموړي سیستم ساده جوړښت او تشکیلات لري.
- په مختلفو حالاتو او شرایطو کې انعطاف منونکی دی.
- په نوموړي سیستم کې د واک او صلاحیت په اړه شخړې او تضاد وجود نه لري.
- د متمرکز قدرت په نتیجه کې ټینګه داخلي او خارجي پالیسي رامنځته کیږي.
- د لږو سیاسي ادارو او جوړښتونو د شتون په سبب د لګښتونو کچه ټیټه ده.
- د کوچنیو هېوادو نو لپاره ډېر مناسب سیستم ګڼل کیږي.
- دا سیستم د اتباعو لپاره د محلي او ملي ګټو ترمنځ تضاد نه رامینځ ته کوي.

---

۱۱۷ د نړیوال عمومي قانون او پالسیۍ ډله، له جګړې وروسته د اساسي قوانینو د تسوید کوونکو لپاره لاسي کتاب، ۱۲- ۱۳.

۱۱۸ مشتاغي، د افغانستان اساسي قانون، **۵۷- ۵۸**.

۱۱۹ غای، یاش، «د واحد مرکزي او فدرالی سیستم په اړه د اساسي قانون کمیسیون ته د یوي اختیاري لیکنې وړاندې کول: یو غلط انتخاب ؟ په افغانستان کې د دولت د قواوو غیر متمرکز کول،» له: په افغانستان کې د دولت د قواوو غیر متمرکز کول، څخه نقل قول: http://www.bing.com/cr ( د ۲۰۱۷ کال د اګست په ۲ مه د لاسرسي وړ).

## ۲.۲.۲ مقننه څانګه

د **۱۹۲۴** کال له اساسي قانون څخه په ګټې اخیستنې، د **۲۰۰۴** کال اساسي قانون دوه خونه ایزه مقننه قوه جوړه کړه چه یوه ئې د کښته خونې ( ولسي جرګې ) او بله ئې د لوړې خونې ( مشرانوجرګې ) په نامه یادیږي. په پارلمان کې په ټولیزه توګه **۳۵۲** څوکۍ دي. ولسي جرګه **۲۵۰** غړي لري. چې هریوئې په ولایتی ټاکنو کې د خلکو د مستقیمو رایو له لارې ټاکل کیږي. هرولایت د خپل نفوس په اندازه څوکۍ لري. لږترلږه **۲۸** غړي باید ښځې وي، د نوي اساسي قانون پراساس لومړی ټاکنې د **۲۰۰۵** کال د سپتمبر په میاشت کې ترسره شوې او غړي یې د پنځو کلونو لپاره وټاکل شول. ورپسې ټاکنې په ۲۰۱۰ کال کې وشوې خو وروسته له هغه هیڅ ټاکنې ترسره شوې نه دي.

مشرانوجرګه ۱۰۲ غړي لري. دغړو یوه دریمه برخه ( **۳۴** غړي چې ۱۷ یې باید هورمرو ښځې وې) د پنځو کلونو لپاره د جمهور رئیس له خوا ټاکل کیږي. د اساسی قانون پراساس نورې دوه دریمې برخې د ولایتی او ولسوالیو شورا ګانو په داخلي ټاکنو کې ټاکل کیږي. د ولایتی شوراګانو له خوا غړي د مشرانوجرګې د غړو په توګه د څلورو کلونو او د ولسوالیو د شوراګانو له خوا ( **۳۴** غړي) د درې کلونو لپاره ټاکل کیږي. [۱۲۰] ؛ په هرحال، د ولسوالیو د شوراګانو ټاکنې لاتر اوسه ترسره شوې نه دي. په عمل کې، د غړو یوه دریمه برخه چې د ولسوالیو شوراګانو لپاره اختصاص شوي ده، اوس اوس له ولایتی شوراګانو څخه ټاکل کیږي، چې د اساسي قانون پربنسټ یې پوښتنی رامنځته کړي دي. دولسي جرګې په څېر، دمشرانو جرګې غړي د پورته ویل شویو مشخصو مودو لپاره، دنده ترسره کوي.

د **۲۰۰۴** کال د اساسي قانون ۸۱ مه ماده وایي چې پارلمان یا ملي شورا، « د سترتقنیني اورګان په توګه د افغانستان دخلکو د ارادې ښکارندویه ده او د ټول ملت استازیتوب کوي» د پارلمان په واکونو کې لاندې خبري شاملي دي:

- د قوانینو او تقنیني فرمانونو تصویب، تعدیل یا لغو کول؛
- د ټولنیزو، فرهنګي او اقتصادی پروګرامونو تصویب ؛
- د ملي بودیجې تصویب؛
- د اداري واحدونو رامنځته کول یا لغو کول؛
- د نړیوالو تړونونو او هوکړه لیکونو تائید ول. [۱۲۱]

سربېره پردې، یوه مسئله چې په ځانګړې توګه د **۲۰۰۴** کال په اساسي قانون کې د حکومت لپاره ستونزمنه بریښي د ولسي جرګې له خوا د وزیرانو تأئید دي. په داسي حال کې چې دمقننه قوې له خوا د وزیرانو تصویب په اساسي قوانینوکې یو غیر معمولي کارنه دی، د اساسي قانون ۹۱ او ۹۲ مادې ولسي جرګې ته را یو دا حق ورکړي چې له وزیرانو څخه پوښتنې وکړي، او که د هغوی ځوابونه د رضایت او قناعت وړنه وي نو د نه باوررایې مسئله رامنځته کیږي.

په دې اړه چې د باور یا نه باور رایه باید د ځانګړو وزیرانو یا د ټولی کابینې په وړاندې وکارول شي یو لړ بحثونه شته. په هرحال د اساسي قانون د ۷۷ مې او **۹۲** مې مادې پراساس څرګندیږي چې د پارلمان له خوا د باور یا نه باور رایه د ځانګړو وزیرانو په هکله کارول کیږي. سربېره پر دې، داخبره معموله شوي، چې د باور/ نه باور رایه په سري ډول ترسره کیږی. په دی توګه :

- د ولسي جرګې دا کړنه چې ځانګړي وزیران د استیضاح لپاره غواړي او وروسته هغوی له خپل مقام څخه ګوښه کوي ، د ثبات د نه شتون څرګندونه ده.

۱۲۰ د افغانستان اساسي قانون، ۲۰۰۴، ۸۴ مه ماده.

۱۲۱ د افغانستان اساسي قانون، ۲۰۰۴، ۹۰ مه ماده.

- وزیران ددې پرځای چې خپله انرژي او ورتیا د حکومت پالسیو ته وقف کړي، د پارلمان په غړو کې د خپل شهرت په اړه اندېښنه لري.
- د ولسي جرګې د غړوله خوا د حساب ورکولو ډاډېنه نشته ، ځکه چې د دوی موکلین نه پوهیږي چې استازي یې څنګه او چاته رای ورکوي، او....
- د باور او نه باور سري (ویټو ) رایه ورکول چاپیریال د فساد او د بیوالي د نه شتون لامل ګرځي، نوموړې ستونزې د جمهور رئیس واک او اغیزمنتوب کمزوری کوي.

## ۲.۲.۳ قضائیه څانګه

د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون ۱۱۶ مه ماده افغان قضائیه قوه د دولت خپلواکه څانګه ګڼي. ستره محکمه د قضائیه قوې ترټولو لوړ صلاحیت لري او د وروستیو بیا کتنو محکمه شمېرل کیږي؛ په نورو کې ابتدائیه محکمې ( چې کښ شمیرې څانګې لري) او د استیناف محکمې شاملې دي.

### ۲.۲.۳.۱. ستره محکمه

د سترې محکمې قاضي القضات او د هغه همکار قاضیان د ولسي جرګې په تأئید د جمهور رئیس له خوا د لسوکلونو لپاره ټاکل کیږي. د نورو دندو تر څنګ، د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون ۱۲۱ مه ماده تصریح کوي چې د حکومت یا نورو ټیټو محکمو د غوښتنې پراساس، ستره محکمه د قوانینو ، تقنیني فرمانونو ، نړیوالو تړونونو او نورو بین المللی هوکړه لیکونو بیا کتنه او تفسیر د افغانستان له اساسي قانون سره د انطباق لپاره، ترسره کوي.

دا قوه، ستره محکمه د نهایي قاضي په توګه ددې لپاره تأسیسوي چې وګوري آیا یوه ماده له اساسي قانون سره تطابق لري او که نه، او په حقیقت کې ئې د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون د تفسیر په هکله پرېکړه صادره کړې ده. په هرحال، اساسي قانون هم ICOIC تأسیسوي، او د دواړو ادارو ونډې د ډېر تناقض تابع پاته کیږي. د بیلګې په توګه، جمهور رئیس غني له سترې محکمې څخه غوښتنې دي چې د ولسي جرګې له خوا د ځانګړو وزیرانو د ګوښه کولو په اړه فیصله وکړي چې آیا له اساسي قانون سره تطابق لري او که څنګه، په داسې حال کې چې په دې هکله د پرېکړې لپاره لاتر اوسه تمه کیږي، پرېکړه لا تر اوسه شوې نه ده. د پارلمان ډېروغړو ویلي دي چې په هیڅ توګه نوموړې پرېکړې ته پام نه ساتي. له ICOIC سره د ناڅرګندو اړیکو ترڅنګ، ستره محکمه هم د مسئولیت او ځواب ویلو له نه شتون څخه رنځیږي. د اداري صلاحیت ډېره برخه د قاضي القضات په دفتر پورې اړه لري چې کېدای شي د ټیټو محکمو هغو قاضیانو ته ورکړل شي چې غواړي ستره محکمه خوشاله وساتي. د پرېکړو د چاپولو اوخپرولو لپاره د قاضیانو له خوا د غوښتنې نه شتون داسې تصور رامینځ ته کوي چې بنایي هغوی نه غواړي قوانین په ټینګه تطبیق شي. د افغانستان قضائیه قوې د خپلواکۍ او مسوولیت ( ځواب ورکولو ) ډېرول به د **سترې محکمې** د ډېر صلاحیت د منلو په مانا وي.

### ۲.۲.۳.۲. د اساسي قانون د تطبیق د څارنې لپاره خپلواک کمیسیون (ICOIC )

د **اساسي قانون د تسوید کمیسیون** (CDC) او د **اساسي قانون د بیا کتنې کمیسیون**، دواړو وړاندیز وکړ چې داسې یوه محکمه باید جوړه شي چې د قانون په اړه مسئلو کې د وروستی قاضي یا حکم په توګه دنده ترسره کړي. **اساسي قانون** ته د مراجعې مسئله له وروستۍ مسودې څخه ددې لپاره وایستل شوه چې د دوه –سري (dual-headed) قضائیه څانګې د رامنځته کولو امکانات رامنځته نشي. خو د اساسي قانون لویې جرګې **۱۷۵** مې مادې زیاته کړه چې په اساس یې ICOIC رامنځته شو. په خواشینۍ سره باید وواېو چې د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون په څرګند ډول د ICOIC ونډه توضیح کړې نه ده او هغه یې د ( راتلونکې) ملاتړ کوونکې قانون ته پرېښوده چې تعریف یې کړي. له بلې خوا ، په اساسي قانون کې هم د **سترې محکمې** د تفسیري ونډې په اړه په څرګنده توګه څه ویل شوي نه دي.

د ۲۰۰۸ کال په آګست کې پارلمان د یوه قانون وړاندیز وکړ چې پراساس ئې ICOIC ته اجازه ورکړل شي چې د جمهور رئیس، اجرائیه څانګې، پارلمان، یا سترې محکمې په غوښتنه د اساسي قانون تفسیر وکړي. رئیس جمهور کرزي د نوموړي قانون مسوده په دې دلیل چې د اساسي قانون له ۱۲۱ مې مادې سره تضاد لري، رد کړه. خو په هرصورت، پارلمان په بیرې سره نوموړې ویتو د دوه دریمې رایو په اکثریت بې اغېزې کړه، او قانون نافذ شو. لاتراوسه مالومه نه ده چې بالاخره کومه اداره د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون تفسیر په غاړه لري، دا خبره د خلکو لپاره د ژورې اندېښنې وړ ده او کېدای شي د سیاسي پایښت لپاره تهدید رامنځته کړي.

# ۷. د ۲۰۱۴ کال د ولسمشرۍ ټاکنې او د ملي وحدت حکومت (NUG)

حامد کرزي د دوو پنځه کلنو دورو لپاره چې د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون په اساس ترټولو اوږده موده ده، جمهور رئيس وو. د ۲۰۱۴ کال د اپریل په میاشت کې ټولټاکنې وشوې تر څو د افغانستان په تاریخ کې نوموړې دموکراتیک لیږد ترسره شي. په هرصورت، دا لیږد پرته له اختلاف څخه نه ؤ. د دویم پړاو ټاکنو او په رای ورکوونکو باندې د تقلب د تور په بهیرکې، یوه روغه جوړه وشوه چې په پایله کې یې دوه ګونی اجرائیوی سیستم رامنځته شو. ولیدل شي چې دا بدلون به لنډمهاله وي یا داوږدې مودې لپاره به پایښت ولري.

## ۷.۱ د ۲۰۱۴ کال ټولټاکنې

په لومړي سرکې ۲۷ نوماندانو د ولسمشر کرزي د ځای ناستو په توګه د سیالۍ ډګر ته راودانګل. د ۲۰۱۳ کال په اکتوبر کې د ټاکنو خپلواک کمیسیون ۱۲ نوماندان د وړتیا وړ ؤنه ګڼل او دري نورو نوماندانو له ټاکنو مخکې د سیالۍ له بهیر څخه ووتل. پاتې نور اته تنه نوماندان عبدالله عبدالله، اشرف غني، زلمي رسول؛ عبدالرسول سیاف، ګل آقا شیرزی؛ قطب الدین هلال؛ محمد داود سلطانزوی او هدایت امین ارسلاء وو. ټولټاکنې د ۲۰۱۴ کال د اپریل په ۵ مه ترسره شوې. څرګند مخکښ نوماند عبدالله عبدالله وو چې ۲,۹۷۲,۱۴۱ یا ۴۵ سلنه رایې ئې ترلاسه کړې وې. اشرف غنی دوهم مخکښ نوماند وو چې ۲,۰۸۴,۵۴۷ یا نږدې ۳۱,۵ سلنه رایې ئې لاس ته راوړې وې. زلمي رسول له نږدې ۱۱ سلنې رایې سره دریم مخکښ نوماند او نور پاتې نوماندانو له ۱۱ سلنې څخه لږ رایې ترلاسه کړې وې. که څه هم داکتر عبدالله له ښاغلي غني څخه له لس سلنې څخه ډیرې رایې درلودې، خو بریالی نه شو چې د رایو مطلق اکثریت لاس ته راوړي، نوځکه د دوهمې دورې ټاکنې ترسره شوې.

دوهمه دوره ټاکنې د ۲۰۱۴ کال د جون په ۱۴ مه ؤشوې، او ژمنه وشوه چې د ټاکنو پایله به د جولای په ۲ مه نیټه اعلان شي، خو په ټاکنو کې د پراخو درغلیو د تور له کبله د پایلو اعلانول ؤځنډیدل. د جولای په ۱۲ مه د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر جان کري په ښکاره توګه اعلان کړه چې د پایلو د نه ډاډ منتوب له امله، ملګري ملتونه د رای د پاڼو پلټنه کوي. د پایلو په اړه نورو اختلافونو د ګټونکي د نوم اعلان لا ډېر له ځنډسره مخامخ کړ.

## ۷.۲ د اجرائیه رئیس د دفتر رامنځته کیدل

د ټاکنو په اړه اختلافونو په هېواد کې ماتیدونکې د موکراسي چې یوازې یوه لسیزه وړاندې تأسیس شوي وه، له ګواښ سره مخامخ کړه. د نړیوالي ټولنې له څارنې سره، هم داخلي ځواکونو او هم بهرنیو قوتونو هڅه وکړه چې د حل یوه لاره را ؤباسي؛ په پای کې، جمهور رئیس کرزی د دولت د رئیس په توګه پاته شو. د ۲۰۱۴ کال د سپتمبر په ۱۹ مه د دواړو ډلو ترمینځ د ملي یووالي د حکومت د جوړښت په هکله یو هوکړه لیک لاسلیک شو، او د ټاکنو خپلواک کمیسیون اشرف غني د ګټونکي او د افغانستان د راتلونکي جمهور رئیس په توګه اعلان کړ. ښاغلي غني د رایو ۵۲ سلنه او په مقابل کې داکتر عبدالله ۴۴ سلنه رایې ترلاسه کړې وې.

د ګټونکي د نوم له څرګندېدو وروسته په څو ساعتونو کې، ښاغلي غني او داکتر عبدالله د **ملي یووالي د حکومت** NUG د جوړولو په اړه یو هرکړه لیک لاسلیک کړ او ډاکتر عبدالله د حکومت د اجرائیه رئیس په نوم یاد شو. د ملي یووالي د حکومت د هوکړه لیک پربنسټ، د جمهوري ریاست د تقنینیه فرمان له مخې د اجرائیه رئیس مقام رامینځ ته شو چې دا لاندې (د بحث وړله ابهامونه څخه ډک) مسوولیتونه یې په غاړه واچول شول:

- له جمهور رئیس سره یوځای، په دوه اړخیزو پریکړه کوونکو غونډو کې ګډون کول؛
- لکه چې په تقنیني فرمان کې ویل شوي دي، د حکومت د اداري او اجرائیوی چارو پرمخ بیول؛
- د سمونو او فساد پرضد د اقداماتو وړاندیز کول؛
- د اجرائیه او قضائیه څانګو ترمنځ د اړیکو د رامینځ کوونکي په توګه خدمت کول؛
- د پالیسیو او پروګرامونو تطبیق ، ملاتړ او څارنه؛

- د مامورینو د ګومارلو او ګوښه کولو په شمول د حکومت په چارو کې جمهور رئیس ته د وړاندیزونو وړاندې کول؛
- په نړیواله کچه، له جمهور رئیس څخه وړ استازیتوب.

اجرائیه رئیس په عین حال کې د **وزیرانو د شورا** د اوونیزو منظمو غونډو او د وزیرانو د شورا د فرعي کمېټو ریاست په غاړه لري.

## ۷.۳ د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون او اجرائیه رئیس

د اساسي قانون د **۵**مې، **۵۰** مې او **۱۴۲** مې مادې پراساس د اجرائیه رئیس اداره د NUG هوکړه لیک پایله ده او په رسمي توګه د جمهوري ریاست د فرمان له مخې رامنځته شو. پنځمه ماده د اساسي قانون او نور قوانینو د حکمونو تطبیق د دولت عمومي دنده ګڼې، **۵۰** ماده دولت ته دا وړتیا ورکوي چې د « یوې سالمې اداری او د هېواد په اداري سیستم کې د سمون د رامنځته کېدو لپاره، لازم تدبیرونه ونیسي.» په همدې ډول **۱۴۲** مه ماده دولت ته عمومي واک ورکوي چې « دولت ددې اساسي قانون د حکمونو د تعمیل او مندرجو ارزښتونو د تأمین لپاره لازمې اداري جوړوي.»

سره له دې، مهمه ده چې د نورو ادارو او ځانګو جوړول د اساسي قانون د نورو مقرراتو مخه نشي نیولای. د اساسي قانون **۲۰** مه ماده د جمهور رئیس لپاره د لومړي مرستیال او دویم مرستیال وړاندوینه کوي؛ دبلې اجرائیه اداري نوم هم اخیستل شوی نه دی. **۷۱** مه ماده لیکي چې « حکومت له وزیرانو څخه جوړېږي چې د جمهور رئیس تر ریاست لاندې کارکوي،.» په دې توګه، د یوې بلې اجرائیه اداري جوړول نه یوازې په **۲۰۰۴** کال اساسي قانون کې ځای نه لري، بلکې د افغانستان د حکومت جوړښت له ریاستی سیستم څخه نیمه ریاستي یا دوه ګوني اجرائیه سیستم ته بدلوي – هغه څه چې په واضح ډول د اساسي قانون د تسوید او تصویب په بهیر کې رد شو.

## ۷.۴ د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون اغېزمنتوب

د آسیا بنسټ (Asia foundation) د کلنۍ سروې پراساس، د افغانستان له حکومت څخه ملاتړ او په هغه باور د طالبانو څخه وروسته دوره ترټولو ټیټې درجې ته رسېدلی دی. د نوموړې سروې پربنسټ د ملي یووالی حکومت (NUG) له خوا « د ټاکنیزو بدلونونو معرفي کول او په دووکلونو کې د اوږ د مهاله حکومت جوړښت هغه ژمنې دې چې عملي نه شوې.» د لومړي ځل لپاره، د سروې شوو افغانانو له **۵۰** سلنې څخه لږ کسانو باور درلود چې حکومت خپله دنده په ښه توګه اجراء کوی؛ دا ستونزه په تېره بیا په ښاري سیموکې، هلته چې د NUG د منلو کچه **۴۰** سلنه ده، ډېره په ډاګه کیږي.[۱۲۲] په یقیني توګه، د NUG ټولې ستونزې نشی کیدای د **اجرائیه څانګې** له جوړښت سره نېغ په نېغه اړیکې ولري. فساد د عمده ستونزې په توګه پرځای پاتې دی: د **نړیوالې روڼتیا د سازمان** د کلني فساد د کچې د شاخص پر اساس افغانستان د **۱۲۸** ډېرو فاسدو هېوادونو په کتار د کلني فساد په اړه **۱۲۲** مقام لري.[۱۲۳] په دې مینځ کې توکمیز توپیرونه دپاموړ بریښي، لکه چې د NUG له خوا ښودل شوي، د پښتنو ترمینځ رضایت (**۵۷** سلنه) لوړه شوي ده. امنیتي وضعیت په ټول هېواد کې د لاخرابیدو خواته روان دی.

په هرحال، له ډېر لږ شک څخه پرته معلومېږي چې **اجرائیه څانګه** ددې وړتیا نه لري چې په اغېزمنه توګه کار وکړي. د اساسي قانون په مسئلو کې چې اوسنۍ اداره تاوان کوې دادي:

۱. دوه ګونی اجرائیوي سیستم مشروعیت نه لري او بې اغیزې پاته دی. ځکه چې د **۲۰۰۴** کال اساسي قانون د CEO ونډې ته اهمیت نه ورکوي، داکتر عبدالله ته یوازې ځینې کمزورې تعریف شوي مسوولیتونه ورسپارل شوي دي.

۲. د **۲۰۰۴** کال اساسي قانون په **۸** څپرکو کې یو څو حکمونه په محلي سیمو کې په محلي کچه د حکومتولی په اړه وجود لري. د متمرکزې اداري له سیستم سره سره، د دې څپرکې ډېر حکمونه اټکل کوی چې سیمه ایزې شورا ګانې چې د خلکو د استازو له خوا په مستقیمه توګه ټاکل کیږي، په سیمه ایزه اداره کې ګډون او همکاري کوي او مشورې وړاندې کوي. د سیمه ایزو حکومتونو د انتخابي برخو په تأسیس کې د حکومت ناوړتیا، چې د نورو شیانو ترځنګ په اساسی قانون کې اټکل شوي دي، د لوېې جرګې د جوړېدو وړتیا له کمزورۍ سره مخامخ کړې ده.

۱۲۲ بربریج، هنری دیوک.« د افغانستان خلکو یوه سروې: افغانستان په ۲۰۱۲ کال کې.» ( سانفرانسیسکو د آسیا فدراسیون، ۲۰۱۲.)

۱۲۳ د افغان خلکو یوه سروې، ۱۰۳.

۳. د ولسي جرګې له خوا د وزیرانو د ګوښه کولو ورتیا په تېره بیا په حکومت باندې د بې ثباته کولو اغېزې لري. وزیران چې په مطلوبه توګه ولسمشرته ځواب ورکوونکي ګڼل کیږي باید په پرله پسې توګه له پارلمان سره د خپلو اړیکو په اړه اندېښنه ولري. ولسي جرګه چې د نه باور رایه په پټه ترسره کوي وضعیت لا ډېر خراب کړی دی. پارلمان ته تردې کچې اجازه ورکول چې د حکومت د کارونو خنډ شي د یوه پیاوړي ولسمشر له مفهوم سره تناقض لري او د حکومت د غړو د لاسه ورکولو له پرله پسې فشار سره مخامخ دی.

۴. د قضاییه قوې او په تیره بیا د سترې محکمې نا څرګنده ونډه د سیستم بې ثباتې لا ډېروي. د **سترې محکمې** غیر مبهمه منل شوې ونډه چې د اساسي قانون تفسیر په غاړه ولري، د سیستم په وړاندې ګواښ ګڼل کیږي.

# ۸.     د اجرائیه څانګې بیا ارزونه

د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون له تصویب څخه دیارلس کلونو وروسته، د افغانستان دموکراسي زیاتېدونکي دردونه ګالي. په دې موده کې، افغانانو پخپل تاریخ کې هیڅکله دموکراسي په دې ډول په غیږ کې نیولې نه ده. د لومړي ځل لپاره، د دولت رئیس د عامه رایو له لارې په مستقیمه توګه ټاکل شوی دی. که څه هم ځینو ترخو او ترینګلیو شېبو هم پېښې وې، قدرت په سوله ایزه توګه له پخوانی جمهور رئیس څخه نوی جمهور رئیس ته ولېږدول شو. یوه ملي شورا. چې د خلکو په وړاندې یوه ځواب ورکوونکی ولسی جرګه لري، د قانون جوړنې او نظارت صلاحیت په غاړه لري. یوه خپلواکه قضائیه څانګه، که څه هم نیمګړې ده، شتون لري چې خلک کولای شي د تاوتریخوالي په صورت کې، هغې ته مراجعه وکړي.

## ۸.۱     آیا لویه جرګه باید دایره شي؟

د افغان په سیاسي جوړښت کې د قانوني سیاسي بدلونونو لپاره په اساسي قانون کې تعدیل ته ضرورت شته. ډېر اساسي قوانین داسې یو مکانیزم لري چې د هغه پراساس اساسي قانون تعدیل مومي، په عمومي طرزالعملونو کې د تقنینیه څانګې یا عمومي ریفرانډم ( ټول پوښتنې) له خوا اقدام شامل دی.[۱۲۴] په افغانستان کې، د اساسي قانون ۱۱۱ ماده د سمونې صلاحیت لویې جرګې ته ورکوي، چې دغه بهیرته د لید وړ قانونیت ور ببښي، ځکه چې د وګړو اکثریت له هغه څخه ملاتړ کوي.[۱۲۵] په هرحال، په اوسني حال کې د لویې جرګې د دایرولو په وړاندې مهمې ستونزې شته.

### ۸.۱.۱   د لویې جرګې په وړاندې قانوني خنډونه

لویه جرګه د افغانستان په سیاسي فرهنګ کې ځانګړی ځای لري، او په دودیزه توګه رهبران ( لاربښوونکي ) او د ټولنې د درناوي وړغړي سره را ټولیږي چې د شخړو یا خطر په وخت کې پرېکړې وکړي. له تاریخي پلوه په ګډون کوونکو کې د توکمونو مشران، نظامي لاربښوونکي، مذهبی ( دینی ) لاربښوونکي، پوهان او ښوونکي، سیاسي شخصیتونه، او د ټولنې د درناوي وړ غړي شامل دي.

د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون د لویې جرګې جوړښت او ترکیب جوړکړ، او په بحث پارونکي توګه یې د لویې جرګې خصلت له دودیزې غونډې څخه یوې محدودې رسمي غونډې ته ورنژدې کړ. د اساسي قانون د ۱۱۱ مې مادې پراساس لویه جرګه داسې تعریف شوي ده چې لاندې خلک پکې شامل دي:

(۱) د ملی شورا غړي، او د ولایتي او ولسوالۍ شوراګانو رئیسان. په هر حال، د ملي شورا د ولسي جرګې وروستنۍ ټاکنې په ۲۰۱۰ کال کې وشوې. د ولسي جرګې د غړو موده پنځه کاله ده، خو اوس یې خپلې څوکۍ یوازې د جمهور رئیس د فرمان پراساس چې د هغوی د کار موده یې اوږده کړې ده، ساتلي دي. په دې توګه، په لویه جرګه کې د هغوی د حضور اعتبار تر پوښتنې لاندې راځي.

په همدې توګه، د اساسي قانون غوښتنه چې د ولسوالیو د شوراګانو ټاکنې باید تر سره شي هیڅکله بشپړې شوي نه دي؛ د پایلې په ډول، د **ولسوالیو د شورا ګانو** رئیسان په مناسبه توګه هیڅ وخت ټاکل شوي نه دي چې په لویه جرګه کې ګډون وکړي. په دې ډول، د لویې جرګې جوړېدل لږ ترلږه هغه ډول چې د ۲۰۰۴ کال په اساسي قانون کې تصریح شوي دي، ناشونې معلومیږي.[۱۲۶]

---

۱۲۴     دانش، د افغانستان اساسي قانون، ۱۰۷- ۱۱۱.

۱۲۵     احمدي، محمد امین، او نور، «د اساسي قانون د سمونې او عمومي وړاندیزونو د نظریاتو په اړه تحلیل» ( کابل: د ستراتیژیکو مطالعاتو لپاره افغان انستیتوت، ۲۰۱۲)۵۲.

۱۲۶     له عمده متخصص سره مرکه# ۹.

### ۸.۱.۲ د لويې جرګې په وړاندې ټولنيز او سياسي خنډونه

که د مشروعیت مسئلې یوې خواته کیږدو، داسې نور ملاحظات شته چې د لويې جرګې د دایربدلو په اړه پربکړې باندې اغېز کوي. یوه اندېښنه چې باید هرومرو په نظر کې ونیول شي په افغانستان کې نامساعده امنیتي وضعیت دی. بله پوښتنه داده چې آیا ټولټاکنې، او ټاکل شوي مامورین، مشروعیت او قانونیت لري؟ یوه نظریه داده، چې په تېره بیا د جمهوري ریاست د وروستیو ټاکنو له خوا رامینځ ته شوي پوښتنې، د ډېرې روښتیا شتون دی چې مخکې له دې چې شرایط د لويې جرګې د دایرولو لپاره چمتو شي، ضروري ګڼل کیږي. ۱۲۷

باید په یاد ولرو چې کله چې لویه جرګه دایره شي، د پایلو کنترول، یا د هغو د اقدام د ساحې محدودول نه شونی بریښي. ښائي لویه جرګه نه یوازې د اساسي قانون تعدیل رد کړي، بلکې کېدای شي په نورو مسئلو تمرکز وکړي. دا امکان هم شتون لري چې لویه جرګه نن ورځ د ټبریزو مسئلو په دام کې ولوېږي او ددې پرځای چې د حکومت د جوړښت په مسئلو بحث وکړي، ډېروخت به په هویتي اوږدېنیو مسئلو باندې د بحث لپاره ؤلګوي. ۱۲۸

## ۸.۲ که چیرې لویه جرګه جوړه شي، کوم بدلونونه به رامینځ ته کړي؟

که داسې وانګیرل شي چې (۱) قانوني خنډونه له مینځه تللی او لویه جرګه دایره شوې (۲) او د اجرائیه قوې د سمونو مسئلې حل شوې دي، لویه جرګه اړه ده چې د اجرائیه څانګې د درې موډلونو(بڼو) ترمینځ پربکړه وکړي. نوموړي موډلونه بشپړ ریاستي سیستم، پارلماني سیستم، او مختلط (نیمه ریاستي یا دوه ګونی – اجرائیوي) سیستم دی، چې هریوېې په لاندې ډول توضیح کیږي.

### ۸.۲.۱ پارلماني سیستم

پارلماني سیستم د قدرت پر نسبي جلاوالي تکیه لري. د اساسي قوانینو ډېر کارپوهان عقیده لري چې پارلماني سیستمونه، چې د نظریو په توافق تکیه لري په هغو هېوادونو کې په ښه ډول کار کوي چې غښتلي او منظم سیاسي ګوندونه ولري. ۱۲۹ په افغانستان کې سیاسي ګوندونه شته، خو دا سیستم پوخوالی ته نه دی رسېدلی. دا ګوندونه ډېر د توکمیزو کرښو پر اساس جوړشوي، او د ځواکمنو شخصیتونو، چې ستونزمنه سابقه لري، ملاتړ کوي. په ۲۰۰۹ کال کې، له عدلیې وزارت سره له سلو (۱۰۰) ډېر سیاسي ګوندونه ثبت شوي وو. سربېره پردې، د افغانستان عمده سیاسي ګوندونه، په افغانستان کې د سیاسي ګوندونو د قانون پرخلاف، په اصل کې قومي وسله والي ملېشې دي. ۱۳۰ که څه هم چې په ډېرو سیمو کې ځواکمني بربښي، خو په عمومي ډول سیاسي ګوندونه د خلکو له خوا خورا ډېر نامنلي دي، او لکه چې پارلمان وښوده، په پارلمان کې د واحد، نه لیږدیدونکي رای ورکولو سیستم څخه ګټه پورته کیږي او د کومې ځانګړې ډلې لپاره رایې نه ټولوي (که څه هم د ټاکنو قانون نوماندانو ته اجازه ورکوي چې خپل ګوندیز غړیتوب څرګند کړي، خو نږدې هیڅ نوماند په ګوندونو کې خپل غړیتوب نه څرګندوي).

په افغانستان کې د سیاسي ګوندونو په سیستم کې د ګډوډوالي شتون ته په پاملرنې سره، او د ملت جوړونې ننګونې ته پام چې له کلونو جګړو وروسته یې شدت موندلی، پارلماني سیستم د هېواد د اوسنیو اړتیاوو د پوره کولو لپاره مناسب نه دی. یو پارلماني سیستم یا قوي ګوندونو، یا کڼ شمېر ګوندونو ته اړتیا لري چې غواړي د ائتلاف د جوړولو لپاره له یو بل سره یوځای کار وکړي. په یوې ټوټې ټوټې شوي ټولنه کې، په تېره بیا داسې یوه ټولنه کې چې نوماندان حتی د خپل ګوند د غړیتوب له څرګندولو څخه ځان څنډې ته کوي، داسې یو سیستم چې هلته کېدای شي هروخت چې ائتلاف له ماتې سره مخامخ شي، د ټاکنو غوښتنه وکړي. افغانستان اوس مهال هڅه کوي چې هر پنځه کاله ټاکنې وکړي. افغانستان نشي کولای د داسې یو سیستم تحمل وکړي چې په هغه کې د نه پایښت لرونکو ائتلافونو تر ترحم او زړه سوي لاندې فعالیت وکړي. پارلماني سیستم یوه هیله پاتې شوي ده، او ځینې وختونه د سیاسي نخبګانو له مینځ څخه د هغه غوښتنه کیږي، خو د مرکه شوو یا جدي سیاسي سیالي کوونکو له خوا هیڅکله په تېره بیا په دې وخت کې د افغانستان لپاره د ژوند او ودې وړ انتخاب شمېرل شوی نه دی.

---

۱۲۷ له عمده متخصص سره مرکه# ۸.

۱۲۸ له عمده کارپوه سره مرکه# ۱. (NS، نارینه، کابل).

۱۲۹ له عمده کار پوه سره مرکه# ۸.

۱۳۰ له عمده کارپوه سره مرکه# ۸.

## ۸.۲.۲ دوه ګونی اجراییه سیستم

که څه هم د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون د حکومت ریاستي سیستم را منځته کړی، خو افغانستان له ۲۰۱۴ کال راهیسي په عملي توګه، کله چې د NUG د هوکړه لیک په تعقیب، د جمهور رئیس د فرمان له مخې د CEO د فتر رامنځته شو، له ۲۰۱۴ کال راهیسي دوه ګوني اجرائیوی سیستم لري.

دوه ګوني اجرائیوی سیستم له یو څه بریالیتوب سره په ځینو هېوادونو لکه فرانسې او روسیې کې عملي شوی، خو په نومورو هېوادونو کې سیاسی سیستم په پراخه توګه له هغه سیستم سره توپیر لري چې په افغانستان کې دی، او د کار ور موډلونه، نه وړاندې کوي.

لومړی، دوه ګونې اجرائیوی یامختلط سیستم نغښتی او پېچلی دی او یوازې په هغو دموکراسیو کې ښه کار ورکوي چې قوي قانوني بنسټونه ولري، د اجرائیه وندې او صلاحیتونه په ښه ډول تعریف شوي او عملی شوي وي، او داسې تعامل ولري چې رهبرانو ته لار ښوونه وکړي، او د قدرت پرسر د اختلافونو د حل لپاره روښانه او څرګند مینځګړي یا حکمان ولري. په نومورو هېوادونو کې، جمهور رئیس په مستقیمه توګه ټاکل کیږي، او د لومړي وزیر ملاتړ لږ ترلږه په پارلمان کې د اکثریت له خوا ترسره کیږي. په روسیه کې، چې لا هم ورته یوه پرمختللې دموکراسي نه شي ویل کېدی، جمهور رئیس پراخ ځواک لري او په آسانۍ کولای شي د روسیې پارلمان ، دوما ، اړ کړي چې د لومړي وزیر په توګه د هغه انتخاب تأئید کړي. د نورو ځواکونو ترڅنګ، جمهور رئیس کولای شي چې د لومړي وزیر په توګه درې ځلې د هغه د انتخاب د ردولو په صورت کې، پارلمان منحل کړي.

فرانسوي مودل د پرمخ تللي دموکراسۍ په توګه ډېر د تطبیق وړ ګڼل کیږي، که دا خبره په فکر کې وساتو چې د نسبي بریالیتوب لامل یې دادی چې جمهور رئیس او صدراعظم، ډېری وختونه له یوه ګوند څخه وي . په **۱۹۸۶**کال کې چې دواړه ، ولسمشر او صدراعظم ، له سیالو ګوندونو څخه وو ـ دا موده « له یو بل سره د ګډ ژوندکولو » « همزیستی» په نوم یادېده – د اساسي قوانینو د ډېروکارپوهانو په نظر، سیستم ښه کار ور نه کړ. دوه کاله وروسته، کله چې یوه ګوند دا وړتیا پیدا کړه چې دواړه، جمهور رئیس او لومړي وزیر، له یوه ګوند څخه وټاکي، وضعیت سموالي وموند. داسې معلومیږي چې دوه ګونی اجرائیوی سیستم یوازې هغه وخت ښه کار ورکوي چې صدراعظم، د حکومت د مشر په توګه، په ټینګه سره د جمهور رئیس پالیسۍ تعقیب کړي، هغه د دولت مشر وګڼي او د خلکو له خوا د ټاکل کېدو مشروعیت او قانونیت یې ومني.[۱۳۱]

وړاندیز کیږي چې د اجرائیه برخې د لا پراخوالي لپاره، افغانستان کولای شي د روسیې یا ترکیې د حکومت له جوړښت څخه، چې د صدراعظم مسئولیتونه د جمهور رئیس له خوا ورته سپارل کیږي، ګټه پورته کړي.[۱۳۲] داسې بریښي چې دې موډل ته ځینې هغه کسان ترجیح ورکوي چې دا سیستم د دوه ګوني قومي اجرائیوی خواته د لارې د اوارولو وسیله ګڼي؛ په اوسنیو شرایطو کې څرګندیږي او تمه دا ده چې دواړه مقامونه د مختلفو ټبرونو د رهبرانو له خوا ، لکه د جمهور رئیس او مرستیالانو په توګه ډکیږي. ددې انډول د پوهېدو ګټې به د سیستم د باالقوه جدي نیمګړتیاوو ترسیوري لاندې راشي او د حکومت هغه کمزوري به څرګنده کړي چې ښایي د دوو اجرائیوي اشخاصو ترمینځ را پیدا شي، چې کېدای شي ټبریزه بڼه غوره کړي. د ډېرو اشخاصو لپاره، د NUG د دوو کلونو تجربې یوازې د پورته ذکر شوو تمو او اندېښنو تأئید کوي.

د دوه ګوني اجرائیوی سیستم په وړاندې بل اساسي خنډ ، د پارلماني سیستم په شان، دغښتلو ملي سیاسي ګوندونو نه شتون دی، چې کولای یې شو لومړي وزیر ( صدراعظم) ته قانونیت او مشروعیت ورکړي، او اړین سیاسي ثبات را منځته شي. په افغانستان کې د ستونزو له راټولولو سره دا خبره د بحث وړ پاتې کیږي، چې **ستره محکمه** یا ICOIC به د هرې ادارې د صلاحیت په اړه د اختلافونو حل په غاړه واخلي.

شرایطو ته په پاملرنې سره د بحث وړخبره داده چې دوه ګوني اجرائیوی سیستم پر ښاغلي غني او داکتر عبدالله باندې په زور ومنل شو؛ د ملي یووالي حکومت (NUG) جوړول د انتخاباتي کړکیچونو د حل کولو لپاره د یوې اغیزمنې وسیلې په توګه و کارول شو. د پوښتنې وړ خبره داده چې آیا ژور سوچ شوی وو چې جمهور رئیس / CEO به د وړاندې تک په وخت کې له یوبل سره یو ځای کار وکړای شي او که ځنګه؟ په هرصورت، داسې وړاندیزونه هم شوي دي چې د سیستم د سموني لپاره یوه لار داده چې د جمهوري ریاست نوماندان د خپل وړاندیز شوي CEO نوم له ټاکنو څخه مخکې څرګند کړي. دا وړاندیز شوی تعدیل به داسې شرایط برابرکړي چې مخکې له دې چې دواړه

۱۳۱ نیاز، پرتلیز اساسي قانون، ۳۲۸.

۱۳۲ د عمده کارپوه مرکه# ۷( AS، نارینه، کابل)

اجرائیه مامورین خپلو دفترونو ته لاړشي، پرېکړه شوې وي چې څوک به په اداري (اداري چاروکې) کومه ونډه ولري، او په دې توګه به د دواړو ادارو د یوځای کارکولو امکانات ډېر شي.

حتی که چېرې دوه ګوني اجرائیوي سیستم، او د لومړي وزیر مقام ته د CEO د مقام د رسولو لپاره، چې عملي کول یې امکان نه لري، لویه جرګه دایره شوې هم وي ترڅو لوړو موخوته د اساسي قانون پربنسټ قانونیت / مشروعیت ورکړي، خو د افغانستان د اساسي قوانینو تاریخ په دې عقیده ده چې داسې سیستم دلته کار نه ورکوي.

ډېر افغان مفسرین، د یوه پخواني وزیر په شمول، د دواړو اجراکوونکو ترمینځ میراثې تاوتریخوالی یادوي، چې د بشپړ پارلماني یا نږه (سوچه) ریاستي سیستم د ملاتړو د اختلافونو پایله ده.[۱۳۳] یو خالص پارلماني سیستم، لکه چې پورته هم وویل شو، په اوسنیو شرایطو کې عملي نه دی. په دې توګه، پایله داده چې افغانستان سیاسی ثبات ته د رسېدلو لپاره ډېر ښه امکان او قانوني او اغېزمن سیستم په لاس کې لري. یوازې سمونه چې ډېره اړینه بریښي د ۲۰۰۴ کال په اساسي قانون کې د ریاستي سیستم په سوتره کولو باندې د تمرکز موضوع ده.

## ۸.۲.۳ ریاستي سیستم او د سمونو اړتیا

ددې څېړنې پایلې، او د ډېرو مرکه شویو کارپوهانو نظریې، له دې ارزونې سره یوشان دي، چې یو سم شوي ریاستي سیستم د افغانستان د لید وړ راتلونکي لپاره تر ټولو ډېر مناسب سیستم ګڼل کیږي.[۱۳۴] داسې نظریې هم شته چې په تېره لسیزه کې بریالیتوبونو او نه بریالیتوبونو ته په کتنې ، اوسنۍ جوړښت سمونو ته اړتیا لري. د بیلګې په توګه، یو عمده کارپوه لیکي: «د افغانستان په اوسني وضعیت کې زه د دولت د ریاستي بڼې وړاندیزکوم خو ځانګړې سموني اړینې بولم. زما باور دادی چې د دولت ریاستي بڼه ستونزه نه ده . په افغانستان کې موږ پرته له دې چې تېرو ته ونه ګورو، ښه راتلونکی جوړولای نشو.»[۱۳۵]

بل عمده کارپوه وویل: «جمهوري ریاست د افغانستان د خلکو د تاریخ او ارزښتونو یو سمبول دی.[۱۳۶] او جمهوري ریاست باید د هېواد د یووالي د لاټینګښت لپاره هڅه وکړي».

### ۸.۲.۳.۱. د جمهور رئیس د مرستیالانو د سیستم بدلول

د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون ۲۰ ماده د لومړي او دویم مرستیال په هکله خبرې کوي. ددې ترڅنګ، د جمهوري ریاست له نوماندانو څخه غوښتنه کیږي چې د خپلې نوماندۍ له اعلانونو سره سم د خپلو وړاندیز شوو مرستیالانو نومونه هم څرګند کړي.

داسې وړاندیزونه هم شوي دي چې د نورو ډلو د شمول لپاره کېدای شي چې د مرستیالانو شمېر له دوو څخه دریوو ته لوړ شي. که څه هم له اساسي قانون سره سمه خبره نه ده، خو د سیاسي ملاحظاتو پراساس داخبره منل شوې ده چې مرستیالان او جمهور رئیس له مختلفو توکمیزو ډلو څخه وي. د جمهور رئیس لپاره د یو بل اضافي اجرائیوي مرستیال ګومارل به جمهور رئیس ته دا امکان په لاس ورکړي چې اجرائیه ځانګه لا ډېره توکمیز استازیتوب په ستنه ودروي، پرته له دې چې بل اجرائیه رئیس (لکه لومړی وزیر یا اجرائیه رئیس) رامنځته کړي چې کېدای شي د جمهور رئیس صلاحیت ته په بده سترګه وګوري.

یو بیساری وړاندیز د یو عمده کارپوه له خوا وړاندې شو چې جمهور رئیس دې خپل مرستیالان له ټاکنو وروسته وګماري. اوس مهال، د جمهوري ریاست نوماند باید هرومرو خپل مرستیالان د رایو د ګټلو د وړتیا پراساس و ټاکي، نه د حکومت د یوې لوړې اداري د مخ ته بیولو د وړتیا پراساس. سیستم پخپله د نوماندانو ترمینځ د بحث زمینه برابروي، ځکه چې د مرستیالۍ لپاره یو نوماند کولای شي د جمهوري ریاست لپاره دیوه نوماند د ملاتړ په بدل کې د یولړ امتیازونو غوښتنه وکړي. بریالي نوماند ته د دې حق ورکول چې خپل مرستیالان له ټاکنو وروسته، غوره کړي نو جمهور ئیس ددې واک لري چې وړتیا لرونکي اشخاص وګوماري.[۱۳۷] کیدای شي چې دا وړاندیز

۱۳۳ له عمده کارپوه سره مرکه# ۱۱ (DROS، نارینه، کابل)

۱۳۴ له عمده کارپوه سره مرکه# ۱۳ (SHMM، نارینه، کابل)؛ له عمده کارپو سره مرکه# ۹، ۲۰۴.

۱۳۵ له عمده کار پوه سره مرکه# ۹.

۱۳۶ له عمده کارپوه سره مرکه# ۱۰ (GR، نارینه، کابل).

۱۳۷ له یوه تن عمده کار پوه سره مرکه# ۹.

د داسې مرستیالانو د غوره کولو لپاره لار پرانیزي چې د تخصص پراساس ټاکل کیږي- که څه هم ددې خبرې ضمانت کول هم ستونزمن کار دی – خو ډېره مهمه خبره داده چې دا موضوع به د مرستیالانو موقف له مستقیمو ټاکل شوو کسانو یا دودیزو رهبرانو (مشرانو) څخه، ټاکل شویو ورتیا لرونکو کارپوهانو ته را ټیټ کړي.

داسې وړاندیز هم وشو چې د جمهور رئیس د مرستیالانو ونډې او دندې دې په لا څرګند ډول تعریف شي [۱۳۸] د بیلګې په ډول، د درې مرستیالانو په سیستم کې، کیدلی شي یو د نړیوالو اړیکو، بل د اقتصادي چارو، او بل د دفاعي چارو لپاره دنده په غاړه واخلي. په داسې حال کې چې دا سیستم ځینې ښیګڼې لري، خو په عین حال کې ځانګړې ستونزې هم را مینځ ته کوي. د څوکسیزو مرستیالانو د سیستم لومړنی لامل دادی چې حکومت ته اجازه ورکړل شي چې د ډلو د ګټو له پلوه نور هم پراخ شي. د لړه کیو د ګټو په نظر کې نیول، او په مشخصه ساحه کې د مهارت او تخصص درلودل، د نغښتوالي لپاره یو بل پوښښ پیدا کوي، چې عملي نه برېښي. دا خبره ډېره مناسبه ښکاري چې د هر مرستیال صلاحیت د جمهور رئیس په موافقه د مرستیال له تخصص او علاقې سره سم وټاکل شي.

## ۸.۲.۳.۲. د نه باور درایو په اړه د پارلمان د قدرت بدلول

د بې ثباتي په عواملو کې چې د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون پراساس هر حکومت ورسره مخامخ دی، د ولسي جرګې واک ده چې د ځانګړو وزیرانو د ګوښه کولو لپاره د نه باور رایې څخه ګټه پورته کوي. دا ډول رایه د ولسي جرګې له خوا نږدې په هره موضوع کې، د پټو رایو له لارې کارول کیږي. که څه هم وزیران د جمهور رئیس له خوا غوره کیږي، او د **اجرائیه څانګې** د پالیسیو پلي کول ورپه غاړه دي، خو د ګوښه کېدلو تلپاتې تهدید ددې لاملونه برابروي چې هغوی په ځانګړې توګه پارلمان ته مسئولیت پیدا کړي، خپلوی ته بلنه ورکوي، ناقانونه فشار او فساد را منځته کوي. داخبره چې د نه باور رایه په سرې (پټه) توګه ورکول کیږي د شاخونې او له فساد څخه ډکو معاملو لپاره لار اواروي، او د پارلمان غړي د رای ورکوونکو په وړاندې له حساب ورکولو څخه خلاصوي.

د نه باور له لارې د وزیرانو ګوښه کول هم ځینې وختونه په حکومت کې درز پیدا کوي، او مختلفې ډلې شکمنې کیږي چې د خپلو همکارانو له خوا ور سره خیانت شوی دی. په لنډ ډول، د ځانګړو وزیرانو په اړه د نه باور پټې رایې بیسارې دي، او د افغانستان د هرحکومت د بې ثباتی لامل کېدای شي. [۱۳۹] یوه څرګنده سمونه به دا وي چې ولسي جرګه د نه باور د رایې له سرې کولو څخه منع شي. ددې ډول سیستم لپاره هیڅ ډول توجیه شتون نه لري چې ټاکل شوو مامورینو ته اجازه ورکړل شي چې د ملي اندېښنو په اړه له عامه خلکو څخه رایې پټې شي.

ډېره ستونزمنه پوښتنه خو داده چې آیا ولسي جرګې ته اجازه ورکړل شي چې د پخوا په شان د ځانګړو وزیرانو په وړاندې د نه باور رایو ورکولو ته دوام ورکړي؟ یوه عمده کارپوه وړاندیز کړی، چې اساسي قانون باید تعدیل شي او دا موضوع روښانه شي چې کابینه د یو واحد جوړښت په توګه، نه د ځانګړو غړو په څېر، د پارلمان په وړاندې مسوولیت لري.[۱۴۰]

هغه خطر چې په دغه وړاندیز شوي سیستم کې شته، دادی چې یو څو جاهل او فاسد وزیران به په اغېزمن ډول له اداري څخه د شړلو په وړاندې معافیت پیدا کړي، او یا به هغوي ددې سبب شي چې ټوله کابینه له خطر سره مخامخ کړي، ځکه چې پارلمان کولای شي د کمزورو اجرااتو لرونکي وزیرانو د ګوښه کولو لپاره ټول وزیران له دندو څخه ګوښه کړي. برسیره پر دې، پارلمان ته د دې وړتیا ورکول چې ټوله کابینه ګوښه کړي، دا پوښتنه رامنځته کوي چې نور به څه واقع شي؟

بل امکان دادی چې ولسي جرګې ته اجازه ورکړل شي چې له ځانګړو وزیرانوڅخه پوښتنو ته دوام ورکړي، خو د وزیر د ګوښه کولو لپاره د نه باور د رایو شمېر باید لوړ شي. په دې توګه به د یو وزیر تقرر مازې اکثریت ته اړتیا ولري، خو د هغه ګوښه کول به د دوو پردریمو یا درې پر څلورمو برخو رایو غوښتنه کوي. دغه بدلون به له دې غوښتنې سره یو ځای چې رایه کارونه باید علني وي، پارلمان ته اجازه ورکړي چې وزیران د ښو دلایلو لپاره له دندې وشړل شي، خو د ګوښه کولو بهیر بشپړې ستونزې لري. ګوښه کول باید ثابت او دایمي تهدید نه وي.

د پارلمان د نه باور رایې د کمزوري کوونکي اغېز د محدودولو لپاره بل وړاندیز دادی چې، ځینې عمده او کلیدي مسوولیتونه له وزارتونو څخه واخیستل شي او صلاحیت / خپلواکو کمیسیونونو ته وسپارل شي. د دغو کمیسیونونو رئیسان به د وړتیا درلودونکې

۱۳۸ له یوه تن عمده کارپوه سره مرکه# ۹.

۱۳۹ د عمده کارپوه سره مرکه# ۸.

۱۴۰ له عمده کارپوه سره مرکه (NROH، نارینه کابل)

کارپوهان وي چې تر لوړې کچې د پارلمان او کابینې ترمنځ له سیاسي تاوتریخوالي څخه خلاص وي. پوښلي پالیسي به لا اوس هم د اړوند وزارت له خوا جوړیږي، خو پلي کول به د تفصیلي پالیسیو او طرزالعملونو د جوړولو په شمول، د خپلواکو ادارو له خوا څارل کیږي چې په مستقیمه توګه پارلمان ته ځواب ورکوونکي نه وي.

د خپلواکو کمیسیونونو جوړول به په عین حال کې د **اجرائیه څانګې** د اوږو بار هم سپک کړي او د حکومت د دندو د ټولو برخو له څارنې څخه به خلاص شي. په اوسني سیستم باندې عمومي نیوکه داده چې جمهور رئیس او وزیران په جزئي کارونو بوخت دي او مهمو موضوعاتو ته پاملرنه نه کوي. خپلواکو ادارو ته د مسوولیت سپارل چې د حکومت ډیرو مهمو او ضروري دندوته پاملرنه په غاړه اخلي، کولای شي دا ستونزه حل کړي.

## ۸.۲.۳.۳. د اساسي قانون د تفسیر د موضوع وضاحت

د سترې محکمې او ICOIC د ونډو ترمنځ اوسنی اختلاف د افغانستان د دولت کار کمزوري کوي. د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون ۱۲۱ مه ماده سترې محکمې ته، که څه هم له څه ابهام سره، حق ورکوي چې د اساسي قانون د تفسیر دنده په غاړه واخلي. په هرصورت، د پارلمان ځینې غړي او ځینې حقوقي پوهان استدلال کوي چې **۱۵۷** مه ماده ICOIC ته د اساسي قانون د تفسیر په اړه ځانګړې صلاحیت ورکوي.[۱۴۱] حکومت ځینې مسئلې سترې محکمې او ځینې موضوعات ICOIC ته راجع کوي، چې دا پخپله ستونزمن کار دي.[۱۴۲] د اساسي قانون د بحث پاروونکو تفسیرونو د امکاناتو درا مینځ ته کېدلو ترڅنګ، سیستم د دواړو ادارو قانونیت او مشروعیت کمزوری کوي.[۱۴۳]

د سترې محکمې او ICOIC ترمینځ، د **۲۰۰۴** کال اساسي قانون په ښکاره ډول دا تصور را څرګند کړي چې ستره محکمه به اساسي قانون تفسیروي. ۱۲۱ مه ماده – داساسي قانون د تفسیر په هکله هغه یوازینۍ ماده ده چې د CDC او CRC له خوا تآئید شوې- او په دې اړه د **سترې محکمې** صلاحیت مني. **۱۵۷** مه ماده چې ICOIC ته ځینې صلاحیتونه ورکوي، وروسته داساسي قانون د لویې جرګې له خوا زیاته شوه، او هیڅ وخت د تسوید کوونکو له خوا په دې اړه فکر هم شوي نه وو.

سربېره پردې د اساسي قانون د تفسیر لپاره د یوه کمیسیون درلودل د هرمنل شوي سیستم له خوا بي مانا ګڼل کیږي. د اساسي قانون تفسیر د یوې محکمې – یا سترې محکمې او یا د اساسي قانون د محکمې – له خوا ترسره کیږي. څکه چې د **۲۰۰۴** کال په **اساسي قانون** کې د اساسي قانون محکمه وجود نه لري، له منطقي نظره او همدا ډول د ۱۲۱ مادې پراساس، د تفسیر دنده باید د **سترې محکمې** له خوا ترسره شي. د اساسي قانون تعدیل چې په دې اړه وضاحت رامنځته کړي، د سیستم د ثبات په اړه عمده قدم شمېرل کیږي.

## ۸.۲.۳.۴. د سیمه ییزې حکومتدارۍ سیستم سمونه

وروستۍ پوښتنه داده چې آیا افغانستان به له ریاستي موډل څخه، په داسې حال کې چې د جمهور رئیس ځینې صلاحیتونه په مرکز او ولایتونو کې نورو ادارو ته ورکړل شي، ګټه پورته کړي؟ زموږ څېړنې څرګنده کړه چې تر اوسني سیستم لاندې جمهور رئیس کولای شي په دواړو عمده ملي مسئلو او کوچنیو موضوعاتو لکه په کابل او ولایتونو کې د ټیټې کچې مامورینو ګومارلو کې ښکیل وي. د پریکړه کولو د خورا ډیر متمرکزکولو او د حکومت په ټیټوکچو کې د ادارې د کمزورتیا په اړه اندېښنې شته.

که د پرېکړوکولو بهیر اساسي مسیرته ولوېږي، د دولت اغېزمنتیا به سمون ومومي او نورې ادارې به په مرکز او ولایاتو کې هم تقویه شي. زموږ په اند د ولسمشر د ځینې صلاحیتونو مرحله یي او په احتیاط لېږد او په مرکز او ولایتونو کې د نورو ادارو تقویت به په هېواد کې د موکراسي پلي کړي.

د ولایتي او ولسوالیو د ادارو او مشرانو په لاس کې د ډېر واک ورکول د هېواد له اړتیاوو او کمزوري زیربناء سره مناسب ګڼل کیږي، څکه چې محلي حکومتونه د سیمه ایزو ضرورتونو په رفع کولو کې په چټکۍ او اغېز منتوب سره اقدام کوي. داسې معلومیږي چې محلي مشران له محلي اړتیاوو سره ډېر آشنا وي، او د متمرکز حکومت په پرتله د خدمتونو د لېږد په اصلاح او محلي پروژو په تطبیق کې ډېره ورتیا لري.

---

۱۴۱ له عمده کار پوه سره مرکه# **۵** (GH، ښځینه، کابل)

۱۴۲ له عمده کار پوه سره مرکه# ۹

۱۴۳ له عمده کارپوه سره مرکه#

په ځانګړې توګه، وړاندیز شوی دی، چې د بودجې په بهیر کې باید د لومړیتوبونو ټاکل په واقعي ډول د محلي ادارو له خوا تر سره شي. که محلي ادارې خپلې وړاندیز شوې بودیجې، د ځانګړو لګښتونو په شمول، جوړې او چاپ کړي، محلي وګړي به داوړتیا ولري چې بودجې ته بیا کتنه وکړي، د هغې په هکله خپلې نظریې وړاندې کړي او د بدلون لپاره یې تبلیغات وکړي. داسې یو سیستم به نه یوازې مرسته وکړي چې د محلي اړتیاوو د پوره کېدو په اړه ډاډ ورکړي، بلکې په ټولنه کې د مالکیت احساس او په محلي پروژو کې به پانګونه وهڅوي.

په هرحال، محلي حکومتونو ته د صلاحیت لیږد، یو شمیر اندېښنې هم رامنځته کړي دي. په هېواد کې د فدرالیسم خواته د هر ډول حرکت په اړه چې هېواد دوېشلو لامل کیږي، قوي اپوزیسیون باید وي.[۱۴۴] بله اندېښنه داده چې ډېر محلي رهبران د تاوتریخوالي سابقه لري، او د ټولنې د ګټو په پرتله خپلوګټو ته د ترجیح ورکولو اوږد تاریخ لري.[۱۴۵] ځینې کارپوهان لیکي چې موږ له متمرکز سیستم څخه غیر متمرکز سیستم ته د بدلون اړتیا نه لرو، بلکې، د نورو ترڅنګ په مالي مسئلو اود مالیاتو په هکله ځیني سمونو ته ضرورت احساسوو.[۱۴۶] ښکاره ده چې د **۲۰۰۴** کال د اساسي قانون بشپړ پلي کول لومړي ګام دی چې د محلي واکمنۍ عناصر پکې شامل دي، لکه د ولسوالیو او ولایتي شوراګانو ټاکنې چې پر اساس یې محلي حکومتونو ته د قانوني مشروعیت ادارو په توګه کتل کیږي. په هرحال له ټاکنو څخه هاخوا، قانون جوړونې ته د وړتیا ورکول به د ولایتي او ولسوالیو د والیانو او ولسوالانو او شورا ګانو د روښانه تعریف کولو اړتیا رامینځ ته کړي. اوس مهال، والیان له روښانه اصولو پرته، د مرکزي حکومت د استازو په توګه کارکوي. محلي حکومتونه هم مستقلې بودیجې نه لري، او له مالي پلوه په مرکزي حکومت پورې تړلي دي، او د محلي وګړو په وړاندې ځواب ورکوونکي نه دي.

اوس مهال، د محلي رهبرۍ اغېزمنتیا تر ډېري اندازې د والیانو او ولسوالانو په شخصي موقف، قدرت او شتمنۍ پورې اړه لري، سیاسي سیستم او جوړښت یو موډل ده چې اغېز نه لري. اړتیا لیدل کیږي چې لږ ترلږه ځیني محلي بودیجوي صلاحیتونه پراخ شي، محلي حکومتونه باید هرو مرو جوړوونکي دریځ ته وربرابر کړای شي، چې د هغوي د واک اندازه د ښو تعریف شویو قوانینو او مقرراتو پراساس ولاړه وی او د شخصیتونه په شخصي قدرت پورې هیڅ ډول تړاو ونه لري.

د موکراسي د پرمختګ کارګټل کیږي. پورتني یاد شوي وړاندیزونه بشپړ او بسیا نه دي، خو د اجرائیه څانګې سمونې، په افغانستان کې د دموکراسي د کارورکولو او د داسې یوه سیستم جوړول چې قانوني او اغیزمن وي، د لا ډېر ثبات را منځته کولو لپاره د پیل ټکي په توګه شمېرل کیږي.

۱۴۴ له عمده کارپوه سره مرکه# ۹.

۱۴۵ له عمده کارپوه سره مرکه# ۸.

۱۴۶ له عمده کارپوه سره مرکه# ۱.

# ۹. پایلې

په مختلفو سیاسي سیستمونو کې اجرائیه څانګو ته په غور سره کتل، د افغانستان په پخوانیو اساسي قوانینو کې د هغه د جوړښت مطالعه، او له طالبانو څخه د وروسته وضعیت او تجربو دقیقه څېړنه دا پوښتنه رامنځته کوي چې کومې پایلې باید را مینځ ته شي؟ د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون، او په تېره بیا د **اجرائیه څانګې** جوړښت افغانستان او د افغانستان خلکو ته څه ډول خدمت کړی دی؟ د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون ته باید د ودې په حال کې کار ته وکتل شي – ډېر شیان دي چې باید جوړشي، خو پاته شوي کار باید ترسره شي. زموږ پایله داده چې د سیستم د عمده بدلون لپاره چې دیارلس کاله پخپل ځای پاته دي کوم دلیل شتون نه لري. سیاسي فعالین، کارپوهان، محلي پوهان او سیاسي شنونکي، د حکومت د ریاستي سیستم ملاتړ په هکله نږدې د نظر یووالي لري، او د نسبي ثبات او اغېزمنتوب، او د څانګړو ډلو د اغېزو پرضد د مقاومت د وړتیا په هکله یې خبرې کېږي او هیڅ ډلې ته دا امکان نه برابرېږي چې د خلکو په استازیتوب پرېکړې وکړي. بل هر سیستم به د واقعي استازیتوب او ملي سیاسي ګوندونو، او د بشپړ انکشاف موندونکې بېخبنا غوښتنه وکړي چې لا تر اوسه په افغانستان کې د لاسرسي وړ نه ده. په هرصورت د لیکونکو اوکارپوهانو ترمنځ بشپړ او پراخ باور شته چ کېدی شي سموني را منځته شي.

په ۳۰۳ برخه کې ، د یوې قوي او غښتلي اجرائیوي څانګې د ځانګړتیاوو په هکله څرګندونې وشوې چې له قانونیت، انعطاف، حساب ورکولو، اغېزمنتوب او ثبات څخه عبارت دي. د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون په هره کټګورۍ کې مختلفې نومرې اخیستې دي.

**قانونیت:** ریاستي سیستم په دې اړه چې درې ملي، دموکراتیکې ټولټاکنې یې د یوې په شمول چې د قدرت د لېږد لامل شوې، ترسره کړې، خپلې دندې په ښه توګه سرته رسولي دي. په هرې ټولټاکنې کې مختلفو نوماندانو ګډون درلود چې د مختلفو ډلو د ګټو استازیتوب یې کاوه، ددې خبرې مانا داده چې هیڅ ډله له سیاسي بهیر څخه ایستل شوې نه ده. د دوو مرستیالانو شتون ډېرو علاقه لرونکو ډلو ته اجازه ورکوي چې په اداره کې ځان شامل وګڼي؛ د دریم مرستیال شتون به استازیتوب لا ګړندی کړي.

د منفي اړخ په اړه باید وویل شي چې د ولسمشرۍ دوه تېرې شوې ټولټاکنې د تقلب له تومتونو سره یوځای وې چې د وروستیو ټاکنو مقابلې پایلې یې رامنځته کړې او د NUG د ملي یووالی حکومت د جوړېدو سبب شو، چې د ۲۰۰۴ کال په اساسي قانون کې یې څرک نه تر سترګو کېږي. په پارلماني ټاکنو او محلي ټاکنو کې خورا اوږد ځنډ – چې پخپل وار د لویې جرګې د دایرېدلو د مخنیوی سبب شوه- د اجرائیه څانګې په مشروعیت او قانونیت یې منفي اغیزه وکړه. په هرصورت، دا وروستی ټکی د سیستم د ضعف پرځای اداري ماته ښیي.

**د انعطاف قابلیت:** هغه کړکېچ چې په دویمه مرحله کې د ښاغلیو غني او عبدالله ترمنځ پیدا شو، تاوتریخوالی او د حکومت ویجاړېدو ته ونه رسېد، ددې موضوع مانا داده چې سیستم ددې وړتیا درلوده چې د نړیوالو په ملاتړ له وضعیت سره ځان برابرکړي. په داسې حال کې چې د اساسی قانون پراساس د ملي یووالي حکومت (NUG) قانونیت او مشروعیت تر پوښتنې لاندې دی، د هغه تطابق ته د سیاسي بحران د حل لپاره د لنډ مهالي پرېکړې په سترګه ګوري او اجرائیه سیستم له ډېرو اړخونو روغ رمټ پاتې شو.

له بلې خوا، د **اجرائیه رئیس** موقف په دې دلیل رسمیت پیدا نه کړ چې د اساسی قانون تعدیل صلاحیت لویې جرګې ته سپارل شوی. په اوسنیو شرایطو کې لویه جرګه جوړېدای نشي ځکه چې ډېرې تخنیکي او لوژیستکي ستونزې شته چې هېواد ورسره مخامخ دی. د سیستماتیک انعطاف نه شتون بله ستونزه ګڼل کېږي.

**حساب ورکول:** لکه څنګه چې د ولسی جرګې پوښتنو او ځانګړو وزیرانو ته د نه باور رای ورکولو څرګنده کړه د کابینې غړي د پارلمان په وړاندې مسوولیت لري. د ولسي جرګې له خوا د حساب ورکولو نه شتون ستونزه ده، ځکه چې غړي یې د ولایاتو له لویو ټاکنیزو حوزو څخه ټاکل شوي، پرته له دې چې کومې ځانګړې ولسوالۍ یا ټاکنیزې حوزې ته ځان مسوول احساس کړي. ددې ترڅنګ رای ورکوونکی نه شي پوهېدی چې استازي یې په مهمو موضوعاتو، لکه د باور د نه رایې ورکولو په جریان کې څنګه او چاته رایه ورکوي، ځکه چې رای ورکول په سري ډول ترسره کېږي.

په نتیجه کې، رای ورکوونکی اطمینان نه لري چې استازي یې څه ډول په مهمو موضوعاتو کې څنګه خپله رایه کاروي، سربېره پردې رای ورکوونکي په داسې قوی موقف کې نه دي چې خپل استازي حساب ورکولو ته اړکړي. که څه هم اساسي قانون وضاحت ورکړی نه دی، خو سري رای ورکول د استازو د دموکراسۍ پرخلاف ده. په تیوري کې، قضائیه قوه کولای شي سري رای ورکول محدود کړي؛ په هرصورت، د سترې محکمې د صلاحیت د پراخوالي په اړه اختلاف چې اساسي قانون تفسیر کړي وضعیت لا ډېر خراب کړی دی.

که څه هم د اعتبار وړ نیوکه شته چې مرکزي حکومت په بسیا توګه لیرې ولایتونو ته ځواب ورکوونکی نه دی، خو دا موضوع کېدای شي په قسط واره توګه لکه چې د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون وړاندوینه کړې، د مختلفو محلي ټولټاکنو د دایرولو له لارې له منځه لاړه شي. په دې اړه، په تېره بیا د ولسوالیو او ښاروالیو ټولټاکنې، او همدا ډول د دوام لرونکو ثانوي او غیر سیاسي اداري انستیتونونو تأسیس، لوړ اهمیت لري.

**اغېزمنتوب:** د ملي یووالی حکومت ( NUG ) د ډېرو وړو پرېکړو او د ټاکنو(مقرریو ) او نورو موضوعاتو پرسر پراخې ناندریو وهلو ته په کتو، ډېر کارپوهان باور لري چې حکومت په ځانګړې ډول د بې شمېرو مسئلو په حل کې چې هېواد ورسره مخامخ دی، اغېزمن نه و. په هرصورت، کېدای شي د تورونو لویه برخه په نورو عمده نړیوالو او محلي عواملو، لکه په نړیوالو ځواکونو کې جدي لږوالی او نورو، پورې تړاو ولري.

له بدیلونو سره پرتله کولو ثابته کړه چې ریاستی سیستم د خلکو او مرکه شوو کارپوهانو له خوا د ملي یووالی په ساتلو، د ملي ادارو په جوړولو، او په ټول هېواد کې د قانون د حاکمیت یوشان ټینګولو کې، ډېر اغېزمن بریښي. په ولایاتو کې خلک له مرکزي حکومت، په تېره بیا له ولسمشر څخه غواړي چې د هغوي ستونزې او شکایتونه حل کړي؛ د هېواد ټولنیز – سیاسي چاپېریال د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون پراساس د ریاستي سیستم له جوړېدلو څخه را هیسې، په بسیا توګه بدلون موندلی نه دی.

**ثبات:** د یاغیانو د هڅو د زیاتوالي، اقتصادي او سیاسي بحرانونو، ټولنیز تاوتریخوالی او د بهرنیو مرستو له ډېر لږوالی سره سره، سیستم د لید وړ ثبات وښود. سربېره پردې، باید وویل شي چې افغان خلک دموکراتیک بهیرته ژمن پاتې دي؛ د NUG له فعالیت څخه پرته، ستونزمنه بریښي چې تصور وکړو چې افغان ټولنه به غیر دموکراتیک حکومت ومني.

ددې پرځای چې د حکومت جوړښت په بنسټیزه توګه بدلون ومومي، د افغانستان لپاره اوس ډېر ښه فرصت دی، چې د تېر شوو ۱۳ کلونو درسونو پراساس سمونې رامنځته کړي. کله چې د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون تسوید شو، افغانستان د واقعي دموکراسۍ تجربې نه لرلې؛ په دې ډول، طبیعي وه چې ځانګړي مسئلې به یوازې په عمومي ډول - لکه د ډېرو نورو ترجګړې وروسته هېوادونو په څېر- حل شي. اوس هغه فرصت ترلاسه کیږي چې په اساسي قانون کې تفصیلات او ځانګړتیاوې، د مثال په توګه، د محلي ادارو له خوا د لا ډېرې ونډې د چمتو کولو، د سترې محکمې د ونډې د روښانه کولو، او جمهور رئیس ته د مختلفو وزارتونو د مسوولیتونو په کمزوري کولو کې د پارلمان د وړتیا محدودول؛ زیات شي.

# ۱۰. وړاندیزونه

د کارپوهانو د وړاندیزونو پربنسټ، د افغانستان د اساسي قانون له تاریخ څخه د زده شویو درسونو، ترټولو ښو نړیوالو تجربو، او نورو تجربي شواهدو پراساس، لاندې وړاندیزونه کیږي:

### ۱. د سیمه ایزو او پارلمانی ټاکنو تر سره کیدل

په اساسي قانون کې د هر ډول بدلون لپاره د اساسي قانون د لویې جرګې دایرول یو شرط شمېرل کیږي. په دې ډول، دولسي جرګې ټاکنې باید ترسره شي، چې په ډاکه شي، په لویه جرګه کې د ملي شورا د غړو ګډون یو قانونی اقدام دی. په همدې توګه، د **ولسوالیو شورا ګانو** د رئیسانو د ټاکلو لپاره باید محلي ټاکنې ترسره شي، چې د لویې جرګې دایرېدل امکان پیدا کړي.

### ۲. د لویې جرګې د بحث تمرکز پر اړوندو مسئلو

داسې اندېښنې شته چې یو ځل لویه جرګه دایره شي؛ نو کېدی شي د هویت او قومي مسئلو او د اساسي حقوقو په اړه بحث کې ښکېله شي. ددې لپاره چې دې اندېښنو ته ځواب ورکړل شي نو باید هغه موضوعات تر بحث لاندی ونیول شي چې د **اجرائیه څانګې** په جوړښت پورې اړه لري. په ځانګړې توګه، I او II څپرکې – د دولت او د اتباعو اساسي حقوق او مکلفیتونه – باید د بیا کتني او نوې کتنې تابع نه وي. ترلویې جرګې پخوا، د اساسي قانون د تسوید یا تعدیل کمیسیون ته باید دنده ورکړل شي چې ځانګړې سمونې وړاندیزکړي. دا اقدام باید **د اساسي قانون د بیا کتنې** د کمیسیون په جوړولو سره تعقیب شي چې نه یوازې مسودې ته بیا کتنه وکړي، بلکې په عین حال کې عمومي نظربيي وپاروي او د وړاندیز شوو سمونو په هکله خلکو ته مالومات ورکړي. په دې توګه، له راتلونکي لویې جرګې څخه باید وغوښتل شي چې له پخوا څخه تعین شوو مسئلو باندې راوڅرخي.

### ۳. د ریاستی سیستم ساتنه

یو حکومت چې په سرکې یې یوه اجرائیه قوه واقع وي او پراخ صلاحیت ولري د افغانستان لپاره، تر جګړې وروسته هېواد په توګه چې یو اوم(خام) سیاسي سیستم لري، ډېر مناسب انتخاب ګڼل کیږي. په هرحال، په یوه څو تېریز هېواد لکه افغانستان کې، جمهور رئیس او د هغه د مرستیالانو ډله اړتیا لري چې د قانونیت او ثبات موندنې لپاره له قومي ډلو څخه رایې او ملاتړ ترلاسه کړي. لویه جرګه باید په عین حال کې د مرستیالانو په دریځ کې د بدلون په اړه لکه څنګه چې ځینې کارپوهان یې وړاندیزکوي، یا د NUG د جوړښت دمنلو په اړه، بدلونونه تر پاملرنې لاندې ونیسي. خو له ریاستي سیستم څخه ژور انحراف په اوسنیو شرایطو کې د منلو وړنه دی.

### ۴. د سیمه ئیزو حکومتولۍ غښتلتیا

د جمهوري ریاست د ځینې صلاحیتونو مرحله ییز او له پاملرنې څخه ډک لېږد او په مرکز اوولایتونوکې د نورو جوړښتونو تقویت به په هېواد کې د دموکراسۍ ټینګښدلو سبب شي. د ولایتی او ولسوالیو جوړښتونو او رهبرانو په لاس کې د ډېرو صلاحیتونو ورکول، کېدای شي د داسې یو هېواد اړتیاوې پوره کړي چې کمزورې زیربنا لري، ځکه چې محلي حکومت کولای شي ډېرې وختونه چټک او اغېزمن اقدام وکړي. محلي لارښوونکي له محلي اړتیاوو سره ډېره بلدتیا لري او د لیرې موقعیت لرونکي متمرکز حکومت په پرتله د محلي پروژو او خدمتونو د لېږد په اداره کولو کې د ډېرې وړتیا خاوندان دي.

### ۵. د ثانوی بنسټونو تطابق له اساسی قانون سره

د ثانوی ادارو د تقویې د هڅې د یوې برخې په توګه، باید د هغوی صلاحیت په اساسي قانون کې مشخص شي. که دولتی څانګې لکه د **ملکي خدمتونو کمیسیون** یا **د فساد ضد ادارو** ته د اساسي قانون دریځ ورکړل شي، د هغوی مشروعیت او قانونیت به ډېر زیات شي او د هغوي اغېزمنتوب به لوړتیا ومومي. د غیر سیاسي یا له سیاسي پلوه لږو اغېزمنو شویو ملي ادارو د تاسیس لپاره اوږده لار په مخ کې ده.

**۶. د اساسی قانون د تفسیر لپاره د یوې مرجعې تشخیصول**

اوسنی وضعیت، چې د ستري محکمې له خوا د اساسي قانون تفسیر، د پارلمان له خوا تر پوښتنې لاندې دی، او ترجیح ورکوي چې دا حق باید **داساسي قانون پرتطبیق دنظارت مستقل کمیسیون** ته ورکړل شي، د لویې اندیښنې وړده. د اساسي قانون ژبه چې د تفسیر صلاحیت یې ستري محکمې ته سپارلي، باید څرګند وي، یا د اساسي قوانینو په اړه د نړیوالو معاصروتجربو پراساس، **د اساسي قانون** نوی جوړې شوي، محکمې ته وسپارل شي.

**۷. بنسټیز اصلاحات په سیاسی احزابو کې**

د یوه عمومي حکم په توګه، د قواوو جلاوالی په هغه وخت کې ډېرښه کارورکوي چې څرګند اکثریت او مخالف ګوندونه د سیاسي سیستم په دننه کې په هڅو بوخت وي. حساب ورکول او مسوولیت هغه وخت ګالل کیږي چې سیاسي منظره د لسهاوو کوچنیو ډلو او په خپلو ګټو مینو ځانګړو اشخاصو څخه ډکه وي. دداسې چاپیریال رامنځته کول چې قانوني سیاسي ګوندونه وده وکړي، او نوماندان وکړای شي په آزاده توګه دخپل ګوند غړیتوب څرګند کړي، د سیاسي پروسې د پرمختیا او په هېواد کې د اجرائیه څانګې د پراختیا سبب ګرځي.

**۸. د چارواکو حساب ورکونه او اصلاحات**

NUG باید هرومرو د NUG د هوکړه لیک پراساس خپلې ژمنې تطبیق کړي، په تېره بیا د ټاکنو سمونې، د پارلماني او ولسوالیو ټاکنې، او نورې حکومتي دندې باید عملي شي. په همدې ډول د پارلمان له غړو څخه باید وغوښتل شي چې په کلیدی مسئلو کې د رای ورکولو بهیر، د ځانګړو وزیرانو پرضد د نه باور رایې په شمول، څرګند کړي.

**۹. د نړیوال تجاربو پلټنه**

په داسې حال کې چې د افغان سیاست ډېرې خواوې د ټولنې لپاره بېساري دي، خو کېدی شي ډېرشیان له نورو ټولنو، په تېره بیا له جګړې وروسته ټولنو څخه زده کړل شي. د **۲۰۰۴** کال د تجربو په تعقیب، افغانستان باید د اساسي قانون د تعدیلاتو بهیر پرانیزي، چې د نړۍ په کچه پوهان او د اساسي قوانینو په اړه کارپوهان وپېژني او د هغو له سلامشور څخه ګټه پورته کړي.

# اخځلیک


د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد ( اداره): د افغانستان اساسي قانون لس کلن شو:

ستونزې کومې دي؟ د ۲۰۱۴ کال آګست. ۱۴۱۲، په لاندې پته د موندلو وړ:

http://www.refworld.org/docid/53fc4dd34.html ( د ۲۰۱۷ کال د آګست په ۲ مه )

احمدي، محمد امین، او نور: « د افغان خلکو یوه سروې: افغانستان په ۲۰۱۲ کې.» سانفرانسیسکو: آسیا بنیاد ، ۲۰۱۲.

د افغانستان اساسي قانون، ۱۹۲۳ ( لمریز کال ۱۳۰۲)

د افغانستان اساسي قانون، ۱۹۳۱ ( لمریز کال ۱۳۱۰)

د افغانستان اساسي قانون، ۱۹۶۴ ( لمریز کال ۱۳۴۳)

د افغانستان اساسي قانون، ۱۹۷۷ ( لمریز کال ۱۳۵۵)

د افغانستان اساسي قانون، ۱۹۸۰ ( لمریز کال ۱۳۵۹)

د افغانستان اساسي قانون، ۱۹۸۷ ( لمریز کال ۱۳۶۶)

د افغانستان اساسي قانون، ۲۰۰۴ ( لمریزکال ۱۳۸۲)

دانش، محمد سرور:« د افغانستان اساسي قانون. » کابل: دریم چاپ، د ابن سینا پوهنتون مطبعه، ۲۰۱۵م

دانش، محمد سرور: « د افغانستان د اساسي قوانینو مجموعه.» کابل: ابن سینا چاپخونه، ۲۰۱۵.

اهلر، روز لیدا ، او نور: « د افغانستان د اساسي قانون لپاره یوه سریزه.»

ستنفورد: دافغانستان د قانوني زده کړې پروژه، د ستنفورد پوهنتون ۲۰۱۵م.

غبار، میرغلام محمد: **افغانستان در مسیرتاریخ**، کابل: محسن خپرونه، ۲۰۱۲م

ګلاسمن، ماتیو اي: « د قواوو جلاوالی؛ یوه کتنه» واشنګټن، د کانګرس څېړنیز خدمتونه، د جنوري ۸ مه، ۲۰۱۲.

ګروت رینر: « د افغانستان په نوي اساسي قانون کې د قواوو جلاوالی» هیدلبرګ، ماکس پلانک انستیتوت، ۲۰۰۴م.

هیوود ، اندریو: سیاست، د عبدالرحمن علم ژباړه، تهران، نای پبلېکېشن، ۲۰۱۰ م حکومت څنګه کارکوي « حکومت څنګه کارکوي».

https://www.gov.uk/government/how-government-works ( د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر ۱۵ مه)

د نړۍ وال بحران ډله: « د افغانستان د اساسي قانون نیمګړتیا» کابل: ICG ایشیا ریپوټ شماره ۵۲، د ۲۰۰۳ کال جون.

کاکړ.م. حسن، « په افغانستان کې داساسي قانون تاریخ» http://www.iranicaonline.org/articles/constitutional-history-of-afghanistan

د ۲۰۱۷ کال د اګست په ۳مه د لاسرسي وړ).

مشتاغي، رامین: د افغانستان د اساسي قانون په اړه د ماکس پلانک لاسي کتاب، لومړي ټوک. هیدلبرګ، ماکس پلانک انستیتوت، ۲۰۰۹م.

د دولتي قانون جوړوني ملي کنفرانس، « د قواوو جلاوالی – یوه کتنه»

(د ۲۰۱۷ کال د مارچ په ۲۸مه د لاسرسي وړ) -http://www.ncsl.org/research/about-state-legislatures/separation of-powers-an-overview.aspx

نیاز، عبدالواحد: پرتلیز اساسي قانون . کابل: فرهنگ چاپخونه، ۲۰۰۹،م.

پرال، ورنر: « له جګړې وروسته ټولنو کې د دموکراسۍ وده »، سنکت او ګستن، کانراد او ناور فونډېشن، ۲۰۰۴.

رسولي، محمد اشرف: د افغانستان د اساسي قانون تحلیل او نیوکه، دویم ټوک. کابل: سعید خپرونه ۲۰۱۰

روند نلي، ونیس اي. او نور:« په له جګړې وروسته ټولنو کې د عامه ادارې سمونه، د نړیوالو مرستو پایله.» واشنګټن: USAID، ۲۰۰۲.

روبین. برنیت آر :«د افغانستان لپاره د اساسي قانون جوړونه.» د دموکراسی ژورنال، ۱۵م ټوک، دریمه شمېره (۲۰۰۴).

د اساسي قانون د کمیسیون سکرتریټ: « د افغانستان نوي اساسي قانون له تسوید څخه ترپیل پورې» ( پښتو متن)، لومړي ټوک کابل، د اساسي قانون د کمیسیون سکرتریت، ۲۰۰۴

د اساسي قانون د بیا کتنې سکرټریټ: « د نوي اساسي قانون د تسوید لپاره د خلکو د نظریو او وړاندیزونو تحلیلي ریپوټ» ( کابل، د اساسي قانون د بیا کتنې دکمیسیون سکرټریټ، ۲۰۰۳) له لاندې پتې څخه اخیستل شوی: http://afghandata.org:۸۰۸۰/xmlui/handle/azu/۱۵۰۳۳( د ۲۰۱۷ کال د مارچ په ۲۸ مه د لاس رسي وړ)

طرزي، امین: « په افغانستان کې اسلام او اساسي قانون. » کوانتیکو: د پرسیانټ د مطالعاتو ژورنال، ۲۰۱۲م.

د عامه نړیوال قانون او پالیسۍ ډله: « له جګړې وروسته اساسي قوانینو د تسوید کوونکو لپاره لاسي کتاب. » نیپال: د نړیوالو چارو لپاره ملي د موکراتیک انستیتوت، ۲۰۰۸م.

سپینه ماڼۍ« اجرائیه څانګه. » https://www.whitehouse.gov/۱۲۰۰/executive-branch ( د ۲۰۰۲ کال د سپتمبر ۱۵ مه).

ګاي، یاش: « د اساسي قانون د یوه واحد او فدرالي کمیسیون لپاره یوه انتخابي لیکنه، یو غلط انتخاب؟ په افغانستان کې د دولت د قدرت غیرمتمرکز کول. » په افغانستان کې د دولت د قدرت غیر متمرکزکولو څخه اخیستل شوی، http://www.bing.com/cr: ( د ۲۰۱۷ کال د آګست له ۲ مې څخه د لاسرسي وړ).

YourArticleLibray.com «د راتلونکي نسل کتابخونه، اجرائیه: تعریف،دندې او اجرائیه ډولونه. » http://www.yourarticlelibrary.com/political-science/exeutive-definition-functions-and-types-of-executive/۴۰۳۲۰ ( د ۲۰۱۷ کال د مارچ په ۲۸ مه د لاسرسي وړ).

# د غبرګون او نظرونو غوښتنه

د AREU اداره ډېره لېواله ده چې د دغې څېړنې د کاروونکو نظرونه واوري. که تاسو زموږ د خپرونو یو دوامداره لوستونکي یاست، د AREU لیکچر یا ورکشاپ کې مو ګډون کړی، کتابتون یې کاروئ، یا یوازې په دې وروستیو کې له دغه ادارې سره بلد شوي یاست، ستاسو نظرونه او غبرګون زموږ لپاره ارزښت لري. دغه نظرونه موږ سره مرسته کولی شي چې خپلې موخې په لا ښه ډول لاسته راوړو او د څېړنې په اړه خپلې تګلارې او د پایلو د شریکولو طریقې و ارزوو. د نظرونو شریکولو تر ټولو اسانه لار موږ ته ایمیل کول دي: areu@areu.org.af

یا کولی شئ موږ ته زنګ ووهئ: ۰۰۹۳۷۹۹۲۰۸۵۴۸. تاسو چې هر څه غواړئ موږ ته یې ویلی شئ، خو په ممکنه ډول یو څه ګټور مالومات دا دي:

- تاسو له AREU سره څنګه اړیکه نیسئ (یعنې د خپرونو، غونډو یا نورو لارو)؟
- تاسو د AREU له څېړنو څخه د څه لپاره کار اخلئ؟
- تاسو د AREU خپرونې څنګه لاسته راوړئ؟
- تاسو د څېړنو بریښنایي که چاپ شوی بڼه کاروئ؟
- خپرونې څنګه کولی شي تاسو ته مالومات په لا ښه ډول وړاندې کړي؟
- زموږ د څېړنې د بهیرونو یا پایلو په اړه ستاسو نظرونه؟
- هغه برخې یا موضوع ګانې چې تاسو یې په اړه د څېړنو ترسره کېدو سپارښتنه کوئ؟
- د AREU هغه خپرونې یا فعالیتونه/غونډې چې ستاسو ډېرې خوښېږي؟
- ستاسو په اند موږ په کومو برخو کې خپل کار ښه کولی شو؟
- ستاسو د خوښې یا لېوالتیا ډګر، دنده یا څېړنه، او دغه راز موقعیت؟

# د AREU وروستۍ خپرونې

ټولې خپرونې له www.areu.org.af وېبپاڼې ډاونلوډېدلی شئ، او ډېر یې په چاپ شوی یا هارډکاپي بڼه په کابل کې د AREU له دفتره هم لاسته راوړلی شئ.

| نېټه | د خپرونې نوم | لیکونکي | په دري ژبه‌لاس ته راتلونکي | په پښتو ژبه‌لاس ته راتلونکي | د څېړنې موضوع | د خپرونې ډول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د۱۳۹۶ کال د لړم میاشت | په افغانستان کې د کوچنی- بزګر ترمینځ د شخړو څېړنه | داکتر انتونیو ګیستوزي | | | ټولنیز ملاتړ او معیشت | لنډیز |
| د۱۳۹۶ کال د زمری میاشت | په افغانستان کې قضايي بیا کتنه | غزال حارث | √ | √ | اساسي قانون | د پالیسۍ نوټ |
| د۱۳۹۶ کال د زمری میاشت | په افغانستان کې د اجرائیه قوې تکامل: تیر ته کتنه او راتلونکي لپاره وړاندیزونه | کاوون کاکړ، توماس کریمر، همایون رئوفي | √ | √ | اساسي قانون | د پالیسۍ نوټ |
| د۱۳۹۶ کال دغبرګولیمیاشت | په افغانستان کېښاري حکومتولۍ: د ښارونو د پراختیایي پروګرام ارزونه | دتلیف کامیر، ذبیح الله عیسی | √ | √ | حکومتولۍ او سیاسي اقتصاد | د پالیسۍ نوټ |
| د۱۳۹۶ کال دغبرګولی میاشت | د کانونو حکومتولۍ: داستخراجی صنعتونو د مالیو اغیزناک مدیریت | جاوید نوراني، نجیب الله زیار | √ | √ | حکومتولۍ او سیاسي اقتصاد | د پالیسۍ نوټ |
| د۱۳۹۶ کال دغبرګولی میاشت | دکړوالۍ حکومتولۍ: په افغانستان کی د مفاهیمو او نهادونو کاری چوکات وده | ولی محمد کندیوال، هلن سی سی | √ | √ | حکومتولۍ او سیاسي اقتصاد | د پالیسۍ نوټ |
| د ۲۰۱۲ کال د جولای میاشت | په افغانستان کې د ښې حکومتولۍ په اړه د مدني ټولنې وندہ | اورځلا اشرف نعمت او کارن ورنر | √ | √ | مدني ټولنه او حکومتولي | څېړنپاڼه |
| د ۲۰۱۲ کال د جولای میاشت | په افغانستان کې سیمه ییزه حکومتولي | آریا نجات؛ کریستوف ګوستانی، بصیرفدا او جان کویهلر | | | سیمه ایزه حکومتولي | څېړنپاڼه |
| د ۲۰۱۲ کال د جولای میاشت | خلکو ته د حکومت نږدې کول: په افغانستان کې د پلان او بودجې جوړولو غیر متمرکز کول | نعمت الله بیژن؛ فرحت امیل او هارون نایب خیل | | | ولایتی پلان او بودجه جوړول او حکومتولي | څېړنپاڼه |
| د ۲۰۱۲ کال د مې میاشت | د استخراجي سکتور لپاره د حکومتولۍ اندېولیز اقدام | جاوید نوراني او لیین دی بروکییر | | | د کانونو کیندنه او حکومتولي | څېړنپاڼه |
| د ۲۰۱۲ کال د مې میاشت | له سرحد څخه پورې خوا د اوبو د سرچینو انکشاف: د افغانستان، ایران او پاکستان ترمنځ د همکارۍ لیدونه کوم دي؟ | وینسنت توماس، مجیب احمد عزیزي او خالد بهزاد | | | د طبیعی منابعو مدیریت | څېړنپاڼه |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د ۲۰۱۲ کال د مې میاشت | نارینه او «نارینتوب» ته نږدې کتنه: د جنسیت په برابروالي کې د هغوی فعاله ونډه اخیستنه | لیبه ویلفریدا ار ای پیلا نګو، چونه آر ایچاوز، پرویز (طفیل)؟ سید مهدي موسوي | √ | √ | جنسیت | د پالیسۍ یادداښت |
| د ۲۰۱۲ کال د اپریل میاشت | د شګو پربنسټ جوړ شوی دولت: تریاکو افغانستان څنګه کمزوری کړ | ډیوید مانسفیلد | | | د طبیعي منابعو مدیریت | کتاب |
| د ۲۰۱۲ کال د اپریل میاشت | د کندهار په ولایت کې د ساحوي کار لنډ یادښت، د ۲۰۱۵ کال له ډسمبر څخه د ۲۰۱۲ کال تر جنوري پورې: تریاک او په کلیوکي معیشیت | پاول فیشتین | √ | √ | د طبیعي منابعو مدیریت | لنډیز |
| د ۲۰۱۲ کال د مارچ میاشت | له آیساف څخه وروسته د افغانستان ملي اردو | انتونیو جیوستوزي او علی محمد علی | | | حکومتولي | معلوماتي سند |
| د ۲۰۱۲ کال د فبروري میاشت | شیطان په جزئیاتو کې دی: په ننګرهار کې یاغیتوب، تاوتریخوالی او په پراخه کچه د مخدره توکو د تولید پرله پسې کمښت | ډیوید مانسفیلد | √ | √ | د طبیعي منابعو مدیریت | لنډیز |
| د ۲۰۱۲ کال د فبروري میاشت | په افغانستان کې د زده کړې او روغتیائي خدمتونو د وړاندې کولو سیاسي اقتصاد | AREU | | | حکومتولي او سیاسي اقتصاد | څېړنپاڼه |
| د ۲۰۱۲ کال د جنوري میاشت | په کورنیو کې د اوبو نه خوندیتوب: په افغانستان کې د ښې کرنې لپاره د څښلو اوبو ته د پایښت لرونکي لا سرسي بدلون | توماس وینسنت | √ | √ | پایښت لرونکی معیشیت | د بحث لپاره لیکنه |
| د ۲۰۱۲ کال د جنوري میاشت | د جنسیتي نا برابرۍ بل اړخ: په افغانستان کې نارینه او نارینتوب | چونا ار. ایچاویز؛ سید مهدي موسوي، او لیبه ویلفریدا آر ای پیلانګو | √ | √ | جنسیت | څېړنپاڼه |

ټولې خېړونې په دغه پاڼه کې د راښکته کولو لپاره www.areu.org.af لاس ته راوړی شی.

په کابل کې ددغه ادارې په دفتر کې چاپ شوی کاپیانې هم موجودی دی.

**د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره**
لسمه ناحیه، لومړی سړک، نوی ښار،
کابل، افغانستان
تیلفون: +۹۳(۰)۷۹۹ ۲۰۸ ۵۴۸
برېښنالیک: publications@areu.org.af
ویب پاڼه: www.areu.org.af

ISBN 978-9936-628-86-1